

احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Wahdat Yar

منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سياسي مياشتنی خپرونه

الحاج مولوی جلال الدین حقانی
له نیوزویك سره په مرکه کی :
'دافغانستان دمسلی حل
زموږکار دی ، دهغه چاپه
لاس کی نه دی چی
دسیاسی حل چیغی وهی'

پرگردیز عملیات دجهادی حرکت
دپیر مخنگ یو طبیعی ضرورت

• دبکتیا تاریخی معرکی

الهي لارښوونی

اي مردمان هرآئینه آفریدیم شما را ازیك مرد وزن وساختیم شما را نژاد ها وقبیله هاتاکه بایکدیگراشنا شوید به تحقیق گرامي ترین شما نزد خداوند (ج) پرهیز گار ترین شما است ویقیناً باري تعالی به همه چیز دانا وخبیر است

سورة حجرات آیت ۱۳

منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سياسي مياشتنی خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين «حقاني»

دتأسيس كال : ۱۳٦۸ هـ ش ، ۱٤۰۹هـ ق

دريم كال ،پنځمه - شپږمه گڼه د ۱۳۷۰هـ ش عقرب - قوس د ۱٤۱۲ هـ ق ربيع الثاني ،جمادي الاول، جمادي الثاني

Ahmad Shah

په دی گڼه کی

شمیر	عنوان	مخ
۱:-	سرمقاله	(۲)
۲:-	كنفرانس عربها و ...	(٤)
۳:-	دامام ابوحنيفه (رح) ژوند ...	(۷)
٤:-	دبابري جومات غمجنه كشاله ...	(۹)
٥:-	توطيه هاي استعمار...	(۱۱)
٦:-	داصحاب كهف كيسه ...	(۱۳)
۷:-	دمرحوم مولانا مفتي محمود ...	(۱٦)
۸:-	درسول الله (ص) دژوند ...	(۱۸)
۹:-	نيمگړي بدنونه دبآروتو ...	(۲۲)
۱۰:-	داسلام په اړه دصليبيانو اويهوديانو...	(۲٤)
۱۱:-	كمونيزم يادتكامل اوانساني ...	(۲۷)
۱۲:-	الحاج حقاني له نيوزويك ...	(۲۹)
۱۳:-	پرگرديزعمليات دجهادي...	(۳٤)
۱٤:-	شعراوادب ...	(٥۲)
۱٥:-	دپكتيا تاريخي معركي ...	(٥٤)
۱٦:-	جهان درماه ميزان ...	(٥٦)
۱۷:-	دپكتيااوپكتيكادقوماندانانو ...	(٥۹)
۱۸:-	راغلي ليكونه ...	(٦۰)
۱۹:-	ابدي ژوندي ...	(٦۲)

دهيئت تحرير تر نظر لاندی

مكاتباتي پته

پوست بكس نمبر (۱۰۳۳) يونيورستي

ټاون - پيښور

دتيليفون نمبر :(۸۱۲۸۸۱)

بانكي پته

حبيب بانك ، كنت برانچ صدر روډ خانگه

دحساب نمبر : ۲۰٥٥۹

پيښور - پاكستان

كمپوزر: احمدضيآ « ذهين بابري »

منبع الجهاد

بسم الله الرحمن الرحيم

مجاهدین په ماسکو کې !!

داځل داسلامی انقلاب دبریالیتوب په لاره کی پرخه په پرخه لویدونکی او هلی ځلی کوونکی دهغه چا سره په هغه ځای کی لاس په لاس گوروچی زموږ پر یو نیم میلیون شهیدانو همدغولاسونو گولی چلولی او چلوی ، دیارلس کاله یی پرموږ بمونه اورولی ، زموږ کلی یی په کنډوالو بدلی کړی اوزموږ دهیواد پل په پل یی زموږ په وینو خړوب کړی څه شوی چی موږ په ماسکو کی دروسانو سره دخبرو پر میز کینو ، همدااوس اوس زموږ دغر او راغه سنگر او پټی او کور ، کلی څخه دروسانو دسکډ او بمباریو له وجی لوگی پورته کیږی ، دقیقه په دقیقه یادچا لاسونه او پښی غوڅیږی یا پر چا دشهادت جال خپریږی ، که دکابل پر گوډاگی رژیم دروسانو دنظامی مهماتو او پیسو بهیر بند شی څوك به یی دبقا او دیوی شیبی ژوند ضمانت وکړی حتمی ده چی ځواب هیڅ دی ، په داسی حال کی چی داټول عوامل پر خپل ځای دی ولی ورسره په ماسکو کی غاړه غړی شو ؟

په سر کی خو ښکار داوه چی په گردیز او دهیواد په نورو برخو کی ددښمن پر ځالودمجاهدینو دتکبیر له انگازو سره مو خپل غږ بدرگه کړی وای ، همدااوس چی مو څوك دقضیی بو اړخ بولی دحق په مورچه کی دتیرو کړای شوو شپو ، ورځو برکت دی ، داتوطیه خو ددښمن له خوا ډیره تکرار شوی چی کله مو هم پر کوم عمده ځای دپریکنده عملیاتو تکل کړی په ظاهری بڼه یی یوه نوی خبره رامخی ته

کړی ترڅو زموږ اودنړیوالو پام بلی خواته واړوی ، منو چی باید دروسانو سره له پخواڅخه دخبرو روانه کړای شوی لړی جاری وساتل شی ځکه روسان زموږ په مقابل کی ولاړ دي خو نه په ماسکو کې، که زموږ په هیواد کی چی ۹۵ فیصده خاوره زموږ په لاس کی ده نه کیدای نو په یوه دریمګړی هیواد کی دې شوی وای موږ خو خپل جهاد او روانه مبارزه بی هدفه نه ده اعلان کړی روسان دي چی پر افغانستان دنظامی تیری پر اشتباه اعتراف کوی وړاندیزدوی وکړ موږ باید شرایط وضع کړی وای مشخصه طرحه او اجندا مو درلودای او په یوه خوله مو ورته هو یا نه ویلی وای ځکه روسان اوس مجبور دی خو نړی امپراطوری یی دټوټه کیدو په درشل کی ده ، په خپل هیواد کی دخپلواکی غوښتنی له غورځنګونو سره لاس او ګریوان دی کچکول په غاړه دهر چاڅخه خیرات ټولوی او نوره ورته ګرانه ده چی دنجیب ګوډاګی رژیم سره مرستی ته دوام ورکړی په داسی حال کی موږ ولی بیړه وکړو که په ځانګړی توګه مو څوک شا ټپوی دادبریالیتوب چانس نه دی ، که څوک دښمن ته په ځینو مسلو کی په شاتګ منی ولی خپل هم سنګر ورور ته دیووالی په لار کی له شخصی ګټو نه تیریږی.

ښایی په ماسکو کی دروسانو سره خبری هغه چاته ښه ولری چی بوازی دسیاست دشطرنج لوبغاړی دی اوله همدی لاری دیو ښه لاس ته راوړو په تمه دی خو هغه مجاهد ته چی غوږونه یی اوس هم دکونډو رنډو او شل او شوټ مجاهد کړیکی تخنوی ، پر سربی اوس هم دروسانو سکڼ توغندی او بمونه راغورځی ، پر ټټر یی دروسانو ګولی لګیږی ، او کور کلی ددوی په وسلو خاوری شوی او کیږی ډیره دردونکی وی چی دخپل قاتل په کور کی دې خپل ورور وګوری .

دښمن ددی سره سره چی نه غواړی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړ شی غواړی داوښیی چی جهاد هیڅ معامله نشی حل کولی داثابته کړی چی جهاد دخپلواکی لاس ته راوړلو نوم نه دی ، په ولسونو کی دجهاد روحیه ووژنی ، باید په سنګر کی دپراته مجاهد له غږ سره خپل غږ بدرګه کړو ، دکونډو ، رنډو او یتیمانو دارمان تر سره کولو زیار وباسو ، او دافغانستان دراتلونکی په باب ټولو مسایلو ته په یوه خوله ځواب ووایو کنه نو هغه بلا به مو یو ، یوله ستونی تیر کړی چی ډیرمظلوم ملتونه یی تیر کړی او اوس یی زموږ خواته مخه کړی .

کنفرانس عربها واسرائیل کشوری رابه فلسطینی هابه ارمغان خواهد آورد؟

سمیع الله « تازه »

سياسي تبصره

درین هنگام که این سطور را مینویسم دور دوم مذاکرات عرب ها واسرائیل با شك وتردید هاي فراوان وبا سكتگي ها درامریكا ادامه دارد،دور اول این کنفرانس تاریخی بتاریخ ۹عقرب سال ۱۳۷۰ درمادرید مرکز اسپانیا . بصورت مذاکرات مستقیم دایر گردیده بود،

مذاکرات عرب واسرائیل بعد از پنجاه سال دشمنی وخصومت ودو جنگ خونین یك واقعه واقعاً مهم در تاریخ پر مشاجره منطقه است ولی نمیتوان برمثبت بودن ان به طرفهای درگیر، اطمینان داشت .

قبل ازاغاز مذاکرات دور اول که به سطح وزرای خارجه کشورهای منطقه بود اسحق شمیر صدراعظم برخلاف نورم کنفرانس ریاست هیات اسرائیلی را بر عهده گرفت ، این امر بر علاوه عربهاآن عده اسرائیلی هارا که خواهان صلح اندنیزبر موفقیت کنفرانس مشکوك ساخت زیرا شمیر نه صرف حل قضیه عرب واسرائیل رانمی خواهد بلکه عملاً موانع مختلفی رادرین رابطه ایجاد می نماید .

کشورهای جبهه مقدم یعنی سوریه ، لبنان ، مصر ،اردن وفلسطینی ها باشناختی که از اسحق شمیر داشتند قبل ازاغاز کنفرانس مادرید نشستی رادر دمشق مرکز سوریه دایر نموده .روی توحید موضعگیری کشورهای مذکوردر کنفرانس مادرید صحبت نمودند.

کشور های مقدم عربی بعد از ختم کنفرانس دمشق اعلام نمودند که عربها به اسرائیل صلح رادربدل زمین اعاده خواهند نمود بدین مفهوم که اگر اسرائیل میخواهد باعربها ازدر صلح دراید لازم است ان اراضی کشورهای عربی راکه درجنگ ۱۹۶۷ درجنگ عرب واسرائیل اشغال نموده است دوباره به انها اعاده نماید بدین معنی که سوریه خواهان اعاده بلندی های جولان ولبنان خواستار استرداد هزاروچارصد کیلومتر ساحه درجنوب انکشور که اسرائیل بحیث منطقه امنیتی تحت تاثیر قرارداده وساحل غرب رود اردن وغزه بشمول شرق بیت المقدس بحیث اراضی فلسطینی هاکه خواهان یك دولت مستقل اند .

اسرائیل نه تنها اراضی اشغال شده را حق مشروع ومسلم خود میداند بلکه خواب اسرائیل بزرگ

قبل ازاغاز مذاکرات که به سطح وزرای خارجه کشورهاي منطقه بود اسحق شمیر صدراعظم برخلاف نورم کنفرانس ریاست هیات اسرائیلي را بر عهده گرفت ، این امر بر علاوه عربها اسرائیلي هاي که خواهان صلح اند نیزبر موفقیت کنفرانس مشکوك ساخت زیرا شمیر نه صرف حل قضیه عرب واسرائیل رانمي خواهد بلکه عملاً مانع مختلفي رادرین رابطه ایجاد مي نماید .

را در سر خود می پروراند که سر حد ان تارود فرات ودجله درشمال وتاسرحدات ایران درشرق وتا رود نیل درجنوب میرسد .

خواب احیای «سرزمین موعود» اسرائیل نمیتواند موجب پریشانی کشورهای عربی نباشد اسکان یهودی هـای مهاجر روسی درسرزمین های اشغالی جز پلان مفصل اسرائیل بوده وعربها انرا جداً محکوم نموده اند . توقف اسکان یهودی ها یکی از پیش شرط های عربها برای مذاکرات بود .

درمذاکرات مادرید هیات های سوریایی ، لبنانی ، مصری ، اردنی ،فلسطینی واسرائیلی شرکت داشتند . اسرائیل نپذیرفت که یك هیات مستقل فلسطینی در کنفرانس مذکور شرکت داشته باشد لذاهیات هفت نفری فلسطینی که از فلسطینی های مناطق اشغالی برگزیده شده و مورد تائید P.L.O بود در زمره هیات مشترك اردنی ، فلسطینی در کنفرانس شرکت ورزید .

هیات های مذکور تحت سرپرستی مشترك شوروی/ امریکا بدور یك میز Tمانند قرار گرفته نکات نظر خودرا دررابطه به اعاده صلح در منطقه بیان داشته وبعداً هیات های اردنی ، فلسطینی بصورت مستقیم باهیات اسرائیلی نیز مذاکره نمودند .

کنفرانس مادرید که بعد ازهشت ماه رفت وبرگشت جیمز بیکر وزیر خارجه امریکابه منطقه ورفع بسا موانع دایر گردید ظاهراً یك گام مهم در زدودن کدورت وحل معضله بغرنج شرقمیانه میباشد .

ازانگاه زمان کنفرانس مذکور درست درهنگامی دایر گردید که عراق کشور نیرومند عربی که مخالف بسیار سر سخت اسرائیل بود از هجوم برکویت وبعداً هجوم کشورهای بزرگ غرب برهبری امریکا کاملاً سرکوب وفلسطینی ها نیز که درین بحران ازعراق حمایت نموده بودند عملاً بدون پشتوانه سیاسی باقی ماندند .

اسرائیل که متحد ستراتیژیك کشور های غرب بخصوص ایالات متحده است وایالات متحده نیز مصمم است که برای بقای اسرائیل سرحدات مصؤن وتضمین شده را کمایی کند وضع موجود را کاملاً به نفع خود واسرائیل تشخیص داده کنفرانس راترتیب داد .

بگفته یاسر عرفات رئیس سازمان ازادیبخش فلسطین امریکا کشورهای عربی راناگزیر ساخت تادر کنفرانس مادرید سهم بگیرند واین به اصطلاح حکم «نظم جدید جهانی »است که گردانندهءان ایالات متحده امریکا میباشد زمان تدویر کنفرانس ازین لحاظ نیزبه امریکاواسرائیل مناسب بود که امپراطوری سیاه کمونیزم سقوط نموده ودرحل قضایای مهم منطقوی وجهانی ایالات متحده دیگر بي رقیب است بناءً ایالات متحده ازین باب نیز خیال راحت داشت که دیگر شوروی نمیتواند مانند گذشته عربها رانگذاردکه از اوامر ایالات متحده سرپیچی نمایند.

نخستین دور مذاکرات عرب ها واسرائیل درمیان مردمان کشورهای مختلف عکس العمل های مختلف داشت ازجمله بیشترین مردم اسرائیل ازین بابت خوشنود بودند وتقاضا نمودند که درمعاوضه صلح سرزمین های اشغالی به عربها مسترد گردد .

همچنان درتازه ترین سروی ارا که

در اسرائیل صورت گرفته نشان میدهد که از هر چارنفر سه نفر ان طرفدارصلح وتبادله سرزمین با صلح اند .

تعدادی از فلسطینی ها نیز امید وارند که خود مختاری محدود که اکنون امید برای اعاده ان موجود است عاقبت الامر منجر به تشکیل یك کشور فلسطین خواهد شد ولی شمیر صدراعظم متعصب اسرائیل هنوز هم برموقف دیرینه خود مبنی بر مخالفت باتشکیل یك دولت فلسطین در سرزمین اشغالی واعاده سرزمین های اشغالی پافشاری دارد ویا ادامه پروگرام اسکان یهودی ها در مناطق اشغالی برروند صلح شرقمیانه که برهبری امریکا اغاز یافته است صدمه وارد می کند.

درهمین راستا پارلمان اسرائیل بلندی های جولان راجز کشور خود اعلام نموده وگفته است که هیچگاه روی استرداد ان باسوریه مذاکره نخواهد شد.

به همین سلسله اعتراضاتی نیز در اردن موجب برکناری صدراعظم انکشور گردیده است قبل ازاغازدور دوم مذاکرات صدراعظم اسرائیل به امریکا رفت تا بار دیگر همدردی یهودی های امریکا راکه بر سیاست واقتصاد امریکا دست بالا دارند کسب نموده با موقف نیرومند تربدور دوم مذاکرات واردشود ، از طرف دیگر ان ده هزار ملیون دالراعتبار راکه امریکا به جهت ادامه اسکان یهودی ها درسرزمین های اشغالی قبل از اغاز کنفرانس معطل قرار داده بود بدست اورد.

تعدادي از فلسطيني ها نيز امید وارند که خود مختاري محدود که اکنون امید براي اعاده ان موجود است عاقبت الامر منجر به تشکيل يك کشور فلسطين خواهد شد ولي شمير صدراعظم متعصب اسرائيل هنوز هم برموقف ديرينه خود مبني بر مخالفت باتشکيل يك دولت فلسطين در سرزمين اشغالي واعاده سرزمين هاي اشغالي پافشاري دارد ويا ادامه پروگرام اسکان يهودي ها در مناطق اشغالي برروند صلح شرقميانه که برهبري امريکا اغاز يافته است صدمه وارد مي کند

اکنون که دور دوم مذاکرات میان طرفین جریان دارد براي نتايج ان چندان اميدي نيست زيرا اسرائيل حاضر نيست از اراضي اشغالي صرف نظر نمايد وکشورهاي عربي بخصوص سوريه نيز حاضر نيست راجع به مسايل ديگر مذاکره نمايد همچنان ميان هيات هاي اسرائيلي واردني فلسطيني نيز روي اين موضوع مناقشه جريان دارد که مذاکرات هيات هاي اردني وفلسطيني در اتاقهاي جداگانه قرار گيرند يادريکي. اسرائيلي ها پافشاري دارند که چون هيات واحد است لذا بايد دريك اتاق قرار داشته باشند همچنان اسرائيل تقاضا دارد بعد از برگزاري مرحله اول دور دوم مذاکرات بايد درشرقميانه ميان کشورهاي منطقه جريان يابد که هياتهاي عربي ان رانمي پذيرند.

عرب ها هنوزهم برتبادله سرزمين باصلح پافشاري دارند ولي اسرائيل تاحال باين خواست مشروع وبرحق عربها زانو نزده است.

امریکا تلاش دارد در زیر چترحمایتش ودر تحت حکم(نظم نوین جهانی) اسرائیل از صلح برخوردار وبحیث یگانه نیروی نظامی واقتصادی در شرقمیانه تبارز نموده در تحقق اهداف جهانگیرانه ایالات متحده سهم فعالانه بر عهده گیرد.

این همان هدف ناپاك است که بخاطر ان سنگ بنیاد کثیف دولت یهودی در قلب یك ملت مسلمان به قیمت اواره گی ان گذاشته شد .

امریکا بخوبی میداند که بعد از ین هیچ کشور عربی نمیتواند در برابر اسرائیل ایستادگی نماید لذا صرف ضرورت است تا حالت جنگی بر داشته شده وروابط میان کشورهای عربی واسرائیل عادی گردد ، وبعد از ان یهودی ها ی رند وماهر کارزابهتر از همه کس میدانند.

دامام ابوحنیفه (رح) ژوند ته یوه کتنه

مولانا عبدالمجید

امام اعظم دهجرت په اتیایم کال په کوفه کی دثابت صاحب په کور کی سترګی غړولی اصلی نوم یی نعمان دی ابوحنیفه یی کنیت او امام اعظم یی لقب دی.

امام اعظم دنسب له مخی عجمی دی اوپه شل کلنی یی زده کړه پیل کړه.

لومړی یی علم ادب، علم انساب، اودعلم کلام (عقاید) زده کړه ترسره کړه اوتردی وروسته یی دفقهی دعلم زده کړی لپاره هڅه پیل کړه اودوخت اوعصر ډیر مشهوراونامتو فقیه امام حماد په درس ګاه کی شامل شو.

دامام اعظم داستادانو اوبزرګانو شمیر څلور زرو تنو ته رسیږی په دی خاطر چی امام حماد دامام اعظم سره ډیر شفقت او محبت درلود له دی امله دامام ابوحنیفه داستادانو په قطار کی دټولو څخه زیات دحماد صاحب نوم دیادولو وړدی.

کله چی امام اعظم ددرس اوتدریس دخپرونی کارپیل کړ نودعلم طالبان ورباندی دپتنګانو په څیر راټول شول، دعلامه کردری دوینا سره سم ۸۰۰ فقهاء محدثین، صوفیان، اومشایخ یی په شاګردانو کی حسابیږی دفقهی اواسلامی دستور دتیارولو اوپه ښه شان وړاندی کولو لپاره یی دڅلویښتو فقهاوو یو قانون جوړونکی مجلس جوړکړ چی ډیری اوږدی مودی زیارایستنی څخه وروسته یی دحنفی فقهی په نوم یوه داسی مجموعه تیاره کړه چی پخپل جامعیت اواصالت پخپله ګواهی ورکوی.

«عطران است که از خود ببوید نه انکه عطاربگوید».

په مختصره توګه باید وویل شي چي دسیاست لوړي پوړي ته رسیدل او دهغي په مرموزو رازونو پوهیدل، حق ویل، اودباطل مخنیوي، اودخالص اسلامي اوشرعي سیاست لاره اختیارول، حنفي فقهي ته ترتیب ورکول اوخورول اودهغي دنفاذ اهتمام کول ... داټولي داسي کارنامي دي چي دتاریخ په پاڼو کي یي بیلګه نشته.

ټول عالمان په دی ټکی متفق دی چی امام ابوحنیفه تابعی دی اوداصحابو څخه یی دروایت نقل کول هم اثبات ته رسیدلی.

په مختصره توګه باید وویل شی چی دسیاست لوړی پوړی ته رسیدل او دهغی په مرموزو رازونو پوهیدل

په اول وخت کي امام ابو حنیفه دعلم کلام په زده کړه کي سرگردانه ؤ دډیري زیرکتیا تیز عقل اوژور فکر ددرلودلو له امله یي په علم کلام کي داسي پوړي اشغال کړه ، چي دهمدغي فن (علم کلام) لوي لوي استادان ورته دبحث اومناظري میدان ته حاضریدلي نشول.

،حق ویل ،اودباطل مخنیوی ، اودخالص اسلامی اوشرعی سیاست لاره اختیارول ، حنفی فقهی ته ترتیب ورکول اوخورول اودهغی دنفاذ اهتمام کول ... داټولی داسی کارنامی دی چی دتاریخ په پانو کی یی بیلگه نشته.

دامام اعظم په هکله دامام شعبی رایه :

دامام اعظم دهلکتوب یوه واقعه ده وایی امام اعظم یوه ورځ دڅه کار دسرته رسولو په خاطر دبازار لور ته رهی ؤ په لاره کی وریاندی دنګړه عالم اوپرهیز کارشخص امام شعبی نظر کیوت چی ښه یی ورته وکتل نو امام شعبی داسی وانگیرله چی څوك طالب العلم دی ځان ته یی راوغوښت اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه زلمیه چیری درومی؟ ابوحنیفه (رح) ځواب ورکړ ، چی فلانی سوداگر ته ورځم .

امام شعبی ورته وویل: تعلیم کوی ؟

امام اعظم ځواب ورکړ مهربانه زه خو دهیچا څخه سبق نه وایم دځواب اوریدو څخه وروسته امام شعبی ورته وویل ځوانه دعالمانو په محفل کی ناسته ولاړه غوره کړه ځکه چی ماته ستا په تندی اوبدن کی دعلمی قابلیت اوذکاوت نخښی نښانی ښکاری .

عقورالجمان شپږم باب ۱۶۰ صفحه.

دامام ابوحنیفه خپله وینا ده چی وایی دامام شعبی صاحب داخبره زما دزړه تل ته پریوته بازاری ژوند می پریښود او دعلم عرفان دزده کړی هلی ځلی می پیل کړی .

مناقب للوفق

په اول وخت کی امام ابو حنیفه دعلم کلام په زده کړه کی سرگردانه ؤ ددیری زیرکتیا تیز عقل اوژور فکر ددرلودلو له امله یی په علم کلام کی داسی پوړی اشغال کړه ، چی دهمدغی فن (علم کلام) لوی لوی استادان ورته دبحث اومناظری میدان ته حاضریدلی نشول.

دوام لري

دبابري جومات غمجنه كشاله

اسلامي امت ته دهندوئيزم ناوړه ګواښ

دسيد شهريار ليكنه

په دی وروستيو كی په ايوديا كی دبابری جومات نورانولو اوپر ځای يی ددرمسال جوړلو لپاره يو ځل بيا ناوړه هلی ځلی پيل شوی او داځكه چی ورانكاری هندوان په اوسنی وخت او مساعدو شرايطو كی پدی ښه مطمئن دی چی داترپردیش ايالتی حكومت كوم چی دهند دمتعصبو هندوانو دګوند «بهارتيه جنتا» په لاس كی دی دنوی ترشا ولاړدی .

كه ووايو چی دبابری جومات كشاله په هند كی دډيروستړو كشالو څخه شميرل كيږی نو غلطه به نه وی ځكه همدغه كشاله وه چی تقريباً دنوو كالو په موده كی يی ددريو حكومتونو تختی وار په وار چپه كړی.

په هند كی دمتعصبو هندوانو ټولګه كوم چی د«بهارتيه جنتا ګوند» په نوم يادیږی دناوړه هلو ځلو او زهرجنو تبليغاتو په واسطه چی موږ به دمسلمانانو ټول تاريخی اوقديمی اثار ، عبادتخانی چی پكی دبابری جومات په شمول دری زره جوماتونه شامل دی له منځه وړو ، دتعصب او تبعيض نه پداسی ډكو نعرو سره يی دزياتو داړه مارو هندوانو رای ترلاسه كړی چی په ډير كم وخت كی دهند په پارلمان كی په دريمه درجه اودځينو نورو ايالاتو سربيره داترپرديش په ايالت كی « په كوم كی چی نوموړی بابری جومات موجود دی » دحكومت په جوړولو بريالی شول ، دغه ګوند په ظاهر اوباطن كی دخلكو لپاره دځانه سره كوم دخير ښيګڼی پروګرام او پلان نه لری او غواړی چی مسلمانانو سره دتعصبَ دښمنی اوتربګنی له لاری ځان واكمنی ته ورسوی ، نو په همدی خاطر په هند كی دفساد او بحران د راپيدا كولو لاری چاری لټوی ، اوبرابروی. دغه ګوند دهندوانو دراپارولو لپاره له زهر جنو تبليغاتو څخه كار اخلی ترڅو خپل ناوړه اهداف اوشوم مقاصد ترسره كړی دوی هر وخت دتبيلغاتو له لاری هندوانو ته تلقين كوی چی هغه ځوانی ، ځوانی نه ده چی(درام جی) په كار رانشی ، هغه وينه وينه نهِ ده چی (درام جی)او هندوئيزم دپرمختګ لپاره تويه نشی ، بچی بچی بايد درام جی او هندوئيزم لپاره ځان قربان كړی زموږ دی په خپل خدای (بوت) !!باندی قسم وی چی موږ به دده دغه دزيږيدنی ځای «بابری جومات » ورانوو او پر ځای به يی لوی درمسال جوړوو اوداځكه چی اول هم دغه بابری جومات درام جی دزيږيدنی ځای اودرمسال وو.اوور سره پدی عقيده دی چی دمسلمانانو پاچا ظهير الدين «بابر» په وچ زور دغه درمسال ړنګ كړی اوپر ځای يی دغه جومات جوړ كړی دی.

دهندوبزم ددغو زهر جنو تبليغاتو په واسطه وخت په وخت ورانكاری هندوان راپاريدلی كله يی په جومات ورمنډه كړی اوكله يی دبی ګناه مسلمانانو په سراومال تالان ګډ كړی دی دبابری جومات په سر دمسلمانانو دقتل عام سلسله تقريبا له دريو كالو څخه راروانه ده خو په هند كی دوخت يوه حكومت هم پرځای ددی چی دفساد دمخنيوی لپاره كوم جدی اقدام وكړی او دمسلمانانو دسرمال اوتاريخی اثارو ساتنه وكړی كله په ښكاره او كله په پټه دهمغو ورانكارو هندوانو سرپرستی كوی كومو چی دشراوفساد د راپيدا كولو لپاره ملې بېوهلی وی او داځكه چی په اوسنيو وختو كی هند تعصبونو او تبعيضونو پخپله ځيږه كی اخيستی هرګوند اوهر مشر دهندوئيزم دهلو ځلو په مخنيوی كی دځان اوګوند لپاره خطر وينی بی دِنشنل فرنټ دګوند دمشر (وی پی سنګ) اودسيكانو

دځنوړلو څخه چې په ړاګه یې دبابري جومات دورانولو سره خپل نارضایت څرګند کړي اودایې په ړاګه دمسلمانانو ددین توهین بللی دی اوداځکه چې په دغه مخالفت کې یې ځنې اغراض اومقاصد نغښتې دي.

دبابري جومات په کشاله کې پخپله هندوان هم دبې شمیره مخالفتونو ښکار دي اوداځکه چې بې طرفه هندوان پدې عقیده دي چې نه خو پدغه ځای کې زموږ(رام جي) زیږیدلی دی اونه خودغلته ددرمسال کوم نښه نښانه لیدل کیږي .

اوروښتیا هم په ۱۵۳۲ م کال کې دمسلمانانود پاچا ظهیر الدین بابر په حکم سره دنوموړي مشاور میرباقي دغه جومات جوړ کړي اود شاجهان تروخته پورې هیڅ کومه داسې اوازه نه ده خپره شوې چې ګوندې دغه درام جي دزیږیدنې ځای دی. رام جي ته هندوان ډیر دقدر په سترګه ګوري اوخپل مذهبي مشر یې ګڼي خو داهم یو پر ځای حقیقت دی چې درام جي کوم تاریخي وجود نشته او نه تراوسه پورې هندوانو ثابت کړي دي دهندوانو دپخوانیو تاریخونو څخه صرف دومره معلومیږي چې رام جي ددوی په قول یو تصوراتي او روماني شخصیت ؤ چې دراماین نومې کتاب لیکونکي یې یوه خیالي خاکه پیش کړې چې پکې یې درام جي دپیدایش ځای هم (ایودیا) ښودلې چیرته چې بابري جومات موجود دی داهم لازمه نه ده چې نوموړې همدغلته په(بابري جومات کې) زیږیدلی ځکه دراماین له مخې ایودیا دجمنا دسیند دغاړې یوکلی ؤ اودغه ایودیا کومه کې چې بابري جومات جوړ شوی دی دجمنا دغاړې دایودیا څخه ډیر لرې دی اوداځکه چې دوخت په تیریدو اودابادۍ په زیاتیدو سره دایودیا کلی غزیدلی دی حال داچې دجمنا دسیند دغاړې ایودیا اودبابري جومات دایودیا تر منځ ډیره زیاته مصافه ده په اوسنې ایودیا کې هم لږ ترلږه دولس داسې ځایونه شته په کومو چې درام جي دزیږیدنې دځای دعوه کیږي چې ددغو دجملې څخه یو بابري جومات دی٬ که چیرې داهم ومنلې شي چې ایودیا درام جي دزیږیدنې ځای دی نو نه دامنل کیږي اونه به ومنل شي چې په ایودیا کې خاص بابري جومات ددغه مردار دزیږیدنې ځای دی اوداځکه چې پدغه سیمه کې ۱۱ داسې نور درمسالونه هم شته چې درام جي دزیږیدنې په نوم جوړ شوي دي او دهریوه پنډت پدې عقیده اودعوه دی چې درام جي دزیږیدنې اصل ځای دده درمسال دی .

که څه هم داتراپردیش ایالتي محکمې دبابري جومات په جوړولو او ورانولو هر قسم بندیزونه لګولي خو متعصب هندوان ددې هر څه نه په ړاګه تجاوز کوي وخت په وخت یې یا دجومات ددیوالونو په نړیدو لاسونه پورې کړي اویا یې دورانولو ګواښونه کوي چې په دې وروستو شپو او ورځو کې خوبیځې په جومات ورننوتل دیوالونه یې ونړول اودجومات په ګونبزونو یې دهندویزم بیرغونه وځړول اوداځکه چې داترپردیش ایالتي متعصب حکومت دیوې مودې لپاره دبابري جومات دشاوخوا ځمکې دهند دمذهبي متعصبي ډلې «او شواهندوپریشد» په واک کې ورکړې چې شپه او ورځ به په دغو ځایونو دمسلحو هندوانو ځوانانو پیرې ولاړې وې ترڅو دمسلمانانو مقابله اودجومات دورانولو کارمخکې بوځي خو په لوړه موده کې دمسلمانانو شدید عکس العمل چې دمظاهرو او احتجاجي اعتصابونو په بڼه یواځې په هند کې نه بلکه په بنګله دیش اوپاکستان کې هم راښکاره شو اوهندي واکمنانو دې ته اړ کړل چې دبابري جومات دخواوشا ځمکې پخپل کنترول کې واخلي اوس موږ نه پوهیږو چې دغه اسلام دښمنه سرکشان دکوم دلیل له مخې دبابري جومات په ویجاړولو او ورانولو پورې نښتي دي خو معلومه خبره ده چې دهندویزم غمخواران په هند کې یو وار بیا دشراوفساد زمینه برابروي٬ موږ په ړاکه وایو چې هندوان باید خپل زوړ تاریخ ته نظر وکړي داسې نه شي چې یو ځل بیا دغزنوي اوابدالي دغورځنګونو په نتیجه کې دسراومال څخه لاس وینځي دوی باید دغزنوي په لاس دسومنات ټوټه کیدل اوداحمد شاه ابدالي سره دپاني پت جګړه په یاد وساتي اوپدې هم باید ښه باوري واوسي چې مسلمانان دخپل مبارك دین «اسلام » مذهب اودخپلو عبادتخانو دساتنې اوحفاظت لپاره وینه توییول لاڅه چې دخپل اهل اواولاد څخه هم تیریدی شي اوتیر شوي دي. مسلمانانو چې داسلام دمبارك دین لپاره کومې قرباني ورکړې اواسلام یې کوم مقام ته رسولی څه پټه خبره نه ده نن که دهندویزم تهیکه داران پخپلو عصري وسلو او مهماتونازیږي نوباید دغه خیال اوفکر دمغزو څخه وباسي ځکه ددوی باداردکوم خیرات ته به چې دوی شپه او ورځ وازې خولې نیولې وي٬ هغه هلته په افغانستان کې دځو بې وسو خومیړنیو افغانانو له لاسه په کوکو دامولې دریاب څخه واوښت نه یې بیاهغه سرې یرغلګرې لښکرې وې اونه دوخت هغه عصري نظامي وسایل : داسې نشي چې هندوان دیوه جومات دورانولو فکرکوي اوعوض کې یې دبې شمیره درمسالونو اوبوتانو څخه لاس وینځي نه به یې بیا رام جي وي او نه درمسال همغه دمسلمانانو بریښنده توري به وي او ددوی څټونه!

* یك بررسی تاریخی از:

توطیه های استعمار علیه مسلمانان ارتریا

وزیر احمد منیب

ارتریا درشرق قاره افریقا درساحل غربی بحیره سرخ موقعیت دارد ، جانب شمال وغرب انرا کشور سودان جنوب انرا جیبوتی وطرف شرق انرا بحیره سرخ احاطه کرده است نفوس ارتریا از پنج ملیون زیاده تراست ، که مسلمانان ۷۰٪ مجموع انرا تشکیل میدهند ، مذهب نصرانیت دردرجه دوم بعد از اسلام قرار دارد بوعده از بت پرستان ومذاهب دیگری خرافی نیز دران زنده گی مینمایند .

شغل عمده مسلمانان ان دیار را کـشـاورزی ، مـالـداری ، تجـارت وکارهای ازاد دیگری تشکیل میداد ، ولی ناارامی هـای حاکم وفضای جنگ الود ان به عایدات مردم تاثیرات منفی وارد کرده است وبیشتر امور انکشور را مختل ساخته است ، اکثر قبایل ارتریا به نسل عربی پیوند عمیق دارند لذا زبان عربی از سایر زبان ها بیشتر دران رائج می باشد .

ارتریا درعصر طلایی اسلام جزیی از حبشه محسوب می گردید ، جائیکه اولین هجرت مسلمانان به ان صورت گرفته است ارتریا اولین کشور خارج ازجزیره عرب است که اسلام به ان مواصلت کرده است مـردم ارتـریـا ازهـمـان وقـت گروه گروه بـه اسـلام گرویده اند ، وتـاهـنوز باثبات کـامل دریـن راه پـایدار بـاقـی مـانـده انـد تجارت ورفت وامد مسلمانان به این کشور نیز یکی از اسباب انتشار اسلام دران محسوب می گردد .

ارتریا درعـهـد حضـرت عـمـرفـاروق شامل خلافت اسلامی گردید وتا بعد از عهد عباسی هایکی از ولایات دولت اسلامی شمرده می شد درسال ۱۵۲۰ میلادی پرتگالی ها بالای ان حمله کرده وتوانستند تا ٤٠ سال انرا تحت سیطره خویش داشته باشند ، تااینکه درسـال ۱۵۵۷ مـیـلادی بـه سـعـی وکوشـش مسـلـمـانـان دوباره ارتریا شامل خلافت اسلامی عثمانی گردید . ودرسـال ۱۸٦٦ تحـت اداره خـدیـو مصرقرار گرفت ، وقتی استعمار انگلیسی بریتانیا به توسعه طلبی خویش اغاز کرده تـوانسـت بخـش بیشتر مصررامستعمره خود سازد وبدیـن قسـم مـصر از اداره ارتـریـا عاجز گردید ودرسال ۱۸۸۵ حکومت مـصری هـا بـالای ان خاتمه یـافتـه ، وارتـریـا مـورد تجـاوز انـگلیـس هـای غارتگر قرار گرفت.

درسـال ۱۹۰۳ اسـتـعـمـار انـگلیـس تـوسـعـه یـافـتـه تمـام اجـزا ارتـریـا مصروغیره کشورهای مجاور را در بر گرفت وارتریا ازپیکرعالم اسلامی جدا ساخته شد .

مـردم مسـلـمان ارتریا دروقت تجاوز انگلیس هـا خـاموش نـه نشسته طبق فطرت اسلامی خویش علیه ان قیام نمودند ومـبـارزات وسـیـع مردمـی را اغاز کردند درهرجاشعار هـای ضد استعماری بلند گردید ومردم انزجار عمیق خویش راعلیه انگلیس هـای متجاوز ابراز نمودند ، حرکت جهادی علیه ان اغاز یافت مسلمانان عملا قیام کردند وحماسه هـای عظیمی افریدند .

برعکس نصرانی هـا وسایر ادیان خرافی درخدمت انگلیس قرار گرفتند ، مـخـالـفـت مـسـلـمـانـان بـااسـتـعـمـار انگلیسی باعث شد ، مناطق مسلمان نشین ازتمام خدمات اجتماعی محروم گردند .

وانگلیس تمام توجه خود را به مناطق غیر مسلمان نشین مبذول داشت وبدین قسم مناطق مسلمان نشین از فیض علم وفرهنگ محروم گردیده وازهیچ نوع خـدمـات اجتـمـاعـی بـهـره مـنـد نگردیدند .

مـردم مـسـلـمـان ارتـريـا مـخـالـفـت سرسختانه خود راعليه استعمار اجنبی ادامه میدادند تااینکه بریتانیا درجنگ جهانی دوم شکست خورد ودرسال ۱۹٤۱ میلادی قوای انگلیسی به ترك منطقه مجبور گردیدند ولی توانستند ، تا سالهای ۱۹٥۲ به استعمار سیاسی خویش دراین مناطق ادامه دهند .

بعد از خروج قوای انگلیسی ازارتریا احزاب وتنظیم های سیاسی زیادی دران عرض وجود نمود مهتمرین انها که از داعیه برحق مسلمانان پشتیبانی میکرد ازادی کامل ارتریا رامیخواست عبارت از حزب رابطه اسلامی بود ، وتنظیم دیگری خود را نماینده مسیحان قلم داد می کرد .

درازادی کامل ارتریا رای منفی داشت وخواهان انضمام ارتریا به کشور ایتوپیا بود .

چونکه دولت ایتوپیا به استعمار انگلیسی خدماتی شایانی انجام داده بود ، ودرنتیجه همکاری ایتوپیا انگلیسی ها توانستند ، ارتریا ومناطق هم جوار انرا تصرف کرده ومدت طویلی به استعمار خویش درانجا ادامه دهند لذا انگلیسیها از داعیه مسیحی ها حمایت می کردند ومیخواست ارتریا به ایتوپیا تعلق داشته باشد ، ویاحد اقل منطقه متنازع فیه شمرده شود زیرا ارتریا موقعیت استراتیژی مهمی درمنطقه دارد که وجود ان بحیث کشور مستقل وازاد به ضرر مصالح انگلیسی هابوده نیز چونکه مسلمانان همیشه با انگلیسیها مخالفت داشتند ، درصورت استقلال ارتریا مسلمانان دران رول عمده میداشتند این امور باعث شد ،انگلیس ها ازطریق ملل متحد (این وسیله دست تاریخی ابر قدرت ها) فیصله رابتاریخ ۱۹٥۰/۱۲/۲ به تصویب رسانند که دران تشکیل اداره مشترك بین ارتریا وایتوپیا خواسته شده بود این فیصله بتاریخ ۱۹٥۲/۹/۱٥ شکل عملی بخود گرفت ، وبخلاف اداره مردم تحت نام اتحادیه فدرالی کشور ارتریا ضم ایتوپیا گردید بدین طریق ازادی ارتریا تحقق نیافت ومساعی ازادی خواهانه مسلمانان ثمری به بار نیاورد ، ارتریا از تحت تسلط یك استعمارنجات یافت ولی بدامن اهریمن دیگری سقوط نمود .

درحالیکه اکثریت مردم ارتریا را مسلمانان تشکیل میدهند وانها همه خواهان استقلال کامل ارتریا بودند ملل متحد خلاف اراده اکثریت مردم فیصله مزکور را جامه عملی داده ومردم را از تعین سرنوشت شان محروم گردانیده .مردم مسلمان ارتریا بعد ار تصویب این فیصله ظالمانه به حقیقت موسسه نام نهاد ملل متحد پی بردند ودانستند که موسسه اله دست استعمارگران بوده هرگاه خواسته باشند جنایت خود را صبغه قانونی دهند ازین وسیله استفاده می نمایند.

ودرسال ۱۹٦۱ تحت قیادت شهید شیخ حامد ادریس عواتی گردامدند این بزرگوار جبهه سیاسی رابنام جبهه ازادی بخش ارتریا تشکیل نموده واعلان جهاد کرد.

مسلمانان به ندای اولبیك گفته به جهاد عملی علیه اشغال گران ایتوپی اغاز کردند بدین طریق درمدت بسیار کمی به پیروزیهای چشم گیر نایل امدند ، تشدید حرکت های جهادی درسراسر ارتریا حکومت ملحد ایتوپیا راواداشت تاجهت جلوگیری این حرکت وسرکوب کردن مسلمانان فرقه های مختلف اردوی خویش رابه انجا گسیل نماید نیز اتحادیه فدرالی رالغو کرده عملاارتریا راجز از خاك خویش اعلان نمود.

درسال ۱۹٦۲ قوای ایتوپی درديار ارتريا سرازيرشد وبرای تهدید مردم به قتل وغارتگری اغاز کرد ولی حملات جهادی مسلمانان علیه ان تشدید بیشتر یافته وبه قوای متجاوز ایتوپی تلفات زیادی عاید کردند .

چونکه نصاری از ابتدا نیز خواهان انضمام ارتریا به ایتوپیا بودند درین وقت درمقابل مسلمانان درصف دشمن قرار گرفتند ، ورول عمده رابرای سرکوبی مسلمانان دراردوی دشمن بازی کردند چنانچه اکثریت قوای کوماند وایتوپیا از نصرانی های ارتریا بی تشکیل یافته بود حرکت جهادی روز بروز اوج می گرفت وبالای قوای متجاوز اشغال گران حماسه های عظیمی می افریدند.

وقتی نصرانی هادریافتند که حرکت جهادی مسلمانان قوت سرشاری بخود گرفته وعنقریب باعث استقلال کشورخواهد شد ، لذا بخاطر اینکه دراینده کشور نقشی داشته باشند بامکروفریب درجبهه ازادی بخش ارتریا داخل گردیدند ویا توطئه سنجیده شده قبلی درصفوف مسلمانان پیوستند ، ویا ایشان همصدا گردیدند.

این افراد ابن الوقت با تملق وچاپلوسی وغفلت مسولین توانستند پوست های حساس رادرداخل جبهه ازادی بخش ارتریا تصاحب شوند.

داصحاب کهف کیسه

دمحمد سرورصدیق مل لیکنه

قران کریم که له یوی خوا دانسانانو دهراړخیزو دنیوی اواخروی ستونزو دحل لار اوپکی دټولو دنیوی اواخروی سعادت اونیك بختیو مضمره ده دبلی خوا لوی خدای پاك (ج) په قران کریم کی ډیری کیسی دخلکو دعبرت لپاره بیان کړی دی چی زیاتی یی دانبیاعلیم السلام دی خو څه داسی کیسی هم شته چی دانبیاو پوری اړه نلری ، بلکه دنورو نیکو بنده ګانو کیسی دی ، دقران کریم هره کیسه دپند نصیحت اوعبرت څخه ډکه اوهره کیسه دلوی متعال خدای دلویی اوعظمت ځلانده نمونه بللی شو داصحاب کهف کیسه هم ډیره دخوند او عبرت ډکه کیسه ده راځی وګورو چی اصحاب کهف څوك وو ژوندیی څه ورا او چیرته تیرکړی وو؟

اصحاب کهف (دغار ملګری) ځوانانو یوه ډله وه چی پر لوی خدای یی ایمان راوړی وو اودهغه متعال ذات عبادت یی کاوه ، دوی دیوه داسی باغی اوسرکښه قوم په منځ کی دهدایت ځلانده لارخپله کړی وه چی خلکو به بوتانو ته سجدی کولی دخدای دخدایی څخه منکراو دکوم پیغمبر پیغمبری ته قایل نه وو ، هر طرف دکفر اوشرك توری تیاری خوری اودبغاوت طوفان په خلکو راغلی ؤ ددغو ځوانانو دبوتانو څخه په زړونو کی کلك نفرت اوکرکه پیداشوی وه اوپدی پوهیدل چی دبوتانو عبادت هیڅ معنی نه لری چی دوی خو خلکو ته لاڅه خپلو ځانونو ته هم نشی رسولی اونه له ځانه ضرر دفعه کولی شی نو دنورو خلکو به په څه خیرشیګره راشی.

دغو ځوانانو به دلوی خدای عبادت دخپل قوم څخه په پټه کاوه ، بعضی عالمان وایی چی دوی ته دعیسی علیه السلام کوم بلونکی راغلی وو او دوی یی اسلام ته بللی وو ، بعضی نور وایی چی نه لوی خدای په الهامی توګه دوی ته دهدایت لاره ورښودلی وه ، دوی دعبادت لپاره ځانګړی ځای ټاکلی ؤ ، کله چی کافر اوباغی قوم دلوی ځارنه وکړه نو دی نتیجی ته ورسیدل چی داخلك خودهغو خدایانو عبادت نه کوی کوم چی قوم ورته سجدی کوی ، بالاخره ددوی پدی راز دهغه وخت پاچا چی (دیقیانوس) نومیده خبرکړی شو ، هغه دمسیحی دین سره سخت نفرت درلود ، اوله طبیعة هم سخت جابر او خونړی انسان وو ، دیقیانوس پاچا دغه ځوانان راوغوښتل ، اوبوتانو ته دسجدی نه کولو عوامل یی تری وپوښتل ، دغه وخت لوی خدای ددوی زړونه لاپسی قوی کړل ، دظالم پاچا ویره ددوی له زړونو لیری شوه ، په ډاګه یی ورته وویل چی داخونه خدایان دی اونه خدایان کیدای شی ، موږ دهغه ذات عبادت کوو چی ټول کاینات یی پیدا کړی دی او هغه یو ذات دی پاچا دوی ته ډیره زوورنه ورکړه چی دقوم خدایانو عبادت ته دی دوام ورکړی که نه نو په مرګ به محکوم شی ، خو مخکی تردی چی پاچا ددوی تعذیب لپاره ورروستی فرمان صادر کړی پاچا دوی ته یوه موقع ورکړه او ورته ویی ویل چی که چیری تاسو تردی وخته پوری خپل نوی دین پری

نښنود ، دسخت تعذیب اوسزا سره به مخامخ شی اصحاب کهف داموقع دخپلو ځانونو لپاره غنیمت وبلله اوپه استفادی سره دوی ټولو له کلی بهر دیوه ځنګل په لور ګامونه پورته کړل اوله قوم څخه وتښتیدل ، دیوه ځنګله چی دبنجلوس په نوم مشهوره وو ، کوم چی دښار څخه دری پرسخه لری وو روان شول ځنګله ته دتلو په لاره کی ددوی سره یو شپون سره دخپل سپی هم ددوی پر لاره قدمونه کیښودل حضرت ابن عباس وایی چی دسپی نوم حمران وو چی بالاخره په ځنګل کی یی یوه غار ته پنا یوړه پاچا چی کله پدی خبر شو نو خپل کسان یی ددوی په تلاش کی ښکته پورته خواره کړل خو داصحاب کهف درك یی معلوم نکړای شو چی بالاخره یی په یوه لوحه کی ددوی اوددوی دپلرونو نومونه ولیکل چی په پلانکی نیټه ، اوپلانکی کلی کی بی درکه شول اودغه لوحه یی دپاچا په خزانه کی خوندی کړه .

غار ته له ننوتلو وروسته لوی خدای په دوی دخوب څپی غالبی کړی اوویده شول قران ددوی دخوب نیټه دری سوه نهه کاله ښودلی ده په دومره اوږده موده کی نه څوك ددوی په حال خبر شول اونه دوی له چاڅخه خبر شول مفسرین لیکی چی ددوی سترګی غړیدلی وی ترڅو ویلی نشی ابن عباس (رض) وایی چی دوی به په کال دوه ځله لوی خدای له یو اړخه بل اړخ ته اړول ترڅو یی بدنوته زیان ونه رسیږی شپږ میاشتی به په یو اړخ ویده وواوشپږ میاشتی به په بل اړخ ، دلمر وړانګی هم ددوی بدنونو ته نه لګیدی ، هوابه په طبعی ډول غار کی چلیده ، اودوی ته به یی قوت ورکاوه دوی دحشراتو او حیواناتو له ضرره هم لوی خدای په امن کړی وو دغار په خوله کی ددوی سپی په منظمه توګه پیره کوله ، بعضی مفسرین وایی چی سپی هم ویده شوی ؤ ځینی نور وایی چی نه سپی مړ ؤ ، دری سوه نهه کالو اوږدی مودی څخه وروسته لوی خدای دوی یوځلی بیا راویښ کړل چی دغه وخت (ثاونسیوس) دهیواد پاچا ؤ کله چی دوی راویښ شول نو له یو بل یی پوښتنه وکړه چی څومره ویده شوی یو ، یو په ځواب کی وویل چی یوه ورځ اوځه زیات ویده شوی یو نورو وویل زموږ دخوب دمودی علم خدای ته معلوم دی ، موږ نه پوهیږو چی څومره ویده شوی یو .

پدی وخت اصحاف کهف دلوږی او تندی احساس وکړ اوخپل یو ملګری چی په ټولو کی کشر اویملیخا نومیده موظف کړ چی بازار ته لاړشی اوپه ډیره خفیه توګه دوی لپاره ډوډی راوړی ، دوی تراوسه پوری داسی انګیرله چی دیقیانوس یی ګیر نکړی ، یملیخا په ډیر احتیاط دبازار په لور وخوځیده ، څومره چی هغه بازار ته نږدی کیده دومره یی په زړه کی له ویری سره یو ځای شکوك اوشبهات زیاتیدل پوره دری سوه نه کاله موده تیره شوی وه ټوله دنیا او ټول خلك په بل رنګ وه نه هغه دده لیدلی ښارؤ اونه هغه خلك یملیخا هم داسی فکر کاوه چی ګوندی خوب وینی ؟ یوه نانوایی ته یی خپل درهم وړاندی کړل ترڅو ده ته په عوض کی ډوډی ورکړی نانوایی چی کله دده سره دغه پخوانی سکه ولیده نو ډیر حیران شو اوهغه نور کسان هم خبر کړل خلکو داسی فکر وکړ چی دی نفر خوکومه خزانه پیدا کړیده کنه نو دومره پخوانی سیکه یی له کومه کړه؟

خلکو یملیخا دښار دوومشرانو ته وړاندی اوسیکه یی ورته وښودله ، هغه یوه خلك وو فوراً یی فکر وکړ چی خزانه خویی پیدا کړیده خو چی یواځی یی ځانته نکړی ، نو ورته یی وویل ځوانه ددی ښار ټولی خزانی زموږ تر کنترول لاندی دی پدی ټولو خزانو کی داوړدرهم موږ سره نشته حال دوایه چی په تعذیبولو او سزاورکولو به دی دیته اړ باسو چی حال ووایی ، یملیخا ورته وویل ، یو پوښتنه لرم ، هغوی وویل مهربانی وکړی : یملیخا ددیقیانوس پاچا پوښتنه وکړه نو دوی ورته وویل ځوانه دیقیانوس په نوم نه کوم بادشاه شته اونه یی موږ پیژنو ، البته ډیری پیړی پخوامو په همدی نوم د یو پاچا کیسی اوریدلی دی کله چی یملیخا پدی متیقن شو چی ددیقیانوس پاچاهی له منځه تللی ده ، نویی دخپلی کیسی ټول داستان ورته بیان کړ دوی چی کله دده خبری واوریدلی نو ډیر حیران شول له یملیخا څخه یی وغوښتل چی ملګری ورته وښیی یملیخا وړاندی خلك وروسدی دغار په لور رااروان شول بعضی عالمان وایی چی پدی وخت کی یملیخا له دوی څخه بی درکه شو ، اوداراز لوی خدای دوی یو ځلی بیا له خلکو پټ کړل ، ځینی نور عالمان وایی چی خلك دده سره غار ته لاړل ، او

غار ته ننوتل ددې په ملګرويې سلامونه
واچول اوتپول يې وليدل دوی له خلکو
سره خپلو خپلو ځايونو ته بيرته
راستانه شول اوبيا مړه شول .
په هر صورت ددې تفصيلات په قران
اوپه احاديثو کې ندي راغلي چې دوی
له خلکو سره ولاړل او کنه هلته پاتې
شول ؟

داصحاب کهف شمير :

داصحاب کهف دشمير په باب درې
قولونه دي کوم چې قران ذکر کړيدي ،
يوداچې دوی درې څلورم يې سپي وو
دويم قول داچې دوی پنځه شپږم يې
سپي وو ، دريم قول داچې دوی اوه او
اتم يې سپي وو ، مفسرين وايي چې
دريم قول غوره دی يعنې دوی اوه وو
اتم يې سپي وو ، ابن عباس (رض)
وايي چې زه له هغو کسانو څخه چې
شميريې راته معلومه دی چې اوه
کسان وو ، ابن جرير دعطا څخه
روايت کوی چې شميريې اوه
ووتفسيرقوطوی کی ددوی نومونه هم
ذکر شوی دی هغه دادي،مکسلمينا
،مصيملينا ، يمليخا ، مرطوس ،
کشوطوش ، دينموس ، يطونس ،
پيرونس ، نواوه ، دوی اتم هغه شپون
شو مقاتل وايي چې سپي
مکسلمينا سره وو او دايي په ټولو
کې مشر وو .

داصحاب کهف زمانه :

عالمان پدې نظر دي چې (کهف)
دافس په ښار کې دی چې ديونان له
ډيرو پخوانيو ښارونو څخه شميرل
کيږي چيرته چې د(ديانا) په نوم يو
تاريخي معبد هم وجود لري کوم چې
دنړۍ داوو عجايبو څخه عجيبه بلل
کيږي ، ځينی نور عالمان پدې نظر دي
چې کهف داردن ددارالخلافې په شاو
خواکې د(جيب) په کلي کې ځای دی
خو دڅيړونکو په نظر دويم قول راجح
دی ، داصحاب کهف په باب عالمانو
داهم ويلي دي چې دوی دعيسی عليه
السلام نه بعد اودنبی عليه السلام
نه پخوا وخت کې تيرشوی دی نو دوی
فکر کوی چې دوی نصاری وو که څه
هم ځينی نور عالمان وايي چې دوی
يهود وو.

په قران کې ددې کيسې دذکر وجه :

مفسرين وايي چې يهودو دنبی عليه
السلام دامتحان لپاره ددريو خبرو
معلومول وغوښتل يو دکهف کيسه ،
دويم دذوالقرنين دريم دروح .
اونبی عليه السلام ورته وويل چې ددې
معلومات به سبا درکړم ، نو سورة
کهف رانازل شو.
ځينی نور مفسرين وايي چې په پخوا
زمانو کې يو مسلمان پاچا تير شوی
دی دهغه په زمانه کې په دې مسله
جنجال پيداشو چې ايا دقيامت په
ورځ به دانسان بدن او روح دواړه
راژوندی کيږي اوکنه يواځې روح ؟ نو
بعضی کسان پدې نظر وو چې يواځې
دروح به وی ، دانسان بدن له منځه
ځي ځينی نور پدې نظر وو چې نا
دانسان روح اوبدن دواړو بعثت به
کيږي ، دی جنجال ډيره ستونزوره
اوکړکيچنه وضعه منځته راوړه ، پاچا
ددی وضعی څخه ډير تنګ شو
اودسخت تشويش سره مخامخ شو
پدې وخت کې لوی خدای داتمام مجت
لپاره اصحاب کهف راوليږل ترڅو
خلکو ته ثابته شي چې بعثت به دروح
اوبدن دواړو کيږي ، اوپدې سره دخلکو
اختلاف حل وفصل شو.

اصحاب کهف مړه دي اوکه ژوندي ؟

اوس داچې اصحاب کهف وروسته له
دې چې لوی خدای ددرې سوه نهه
کالو څخه وروسته راويښ کړل ، وفات
شول اوکنه بيا ويده شول مړه ندي ،
نوپدې مسله کې دوه نظره دي دزياتو
عالمانو نظر دادی چې دوی مړه شوی
اوفنا شوی دی حضرت ابن عباس
وايي چې دوی مړه دي ، دقرطبی
دتفسير مصنف په نظر دوی مړه ندي
، ژوندي دي ، دی وايي چې دقيامت
څخه لږ وراندې به دوی بيا راويښيږي
اودعيسی عليه السلام داصحابو سره
به يو ځای کيږي ، حج به ادا کوی ،
ځکه چې دوی حج ندی کړی ، دده
استدلال دادی چې په تورات او انجيل
کې داذکر شوی دی چې دوی به
دعيسی عليه السلام له حوارينو څخه
حسابيږي دوی به دده سره يو ځای
حج ته ځي اوبيا به وفات کيږي په هر
صورت ښايي دومره مهمه مسله نه وي
چې دوی مړه دي اويا ژوندي اصل
مهمه داصحاب کهف هغه عبرت دی
اودلوی خدای (ج) دعظمت ځلانده
ثبوت دی ، اوهمدا راز دخپل دين
دحفاظت په خاطر له ظالم قوم څخه
هجرت کول دانبيا او همداراز
دصالحو خلکو سنت دی موږ
دافغانستان مومنو ورونو چې هجرتونه
يې کړيدي ، هغه هم دعقيدی په بنا
نوبايد دی ته متوجه وو چې انساني
شيطانان موددغو عظيمو قربانيو په
وروستی مرحله په افغانستان کې
داسلامي حکومت دجوړولو څخه
منحرف نکړی .

غوض الدين « صديقي »

ځلانده ځیره

دستر عالم ، سیاستمدار او فقیه مرحوم مولانا مفتي محمود په یاد

نن بیا دقلم اوښکی دیوه داسی ستر عالم ، فقیه اومفتی په ویر څاڅی چی نه دنړی دپرزرق اوبرقه ژوند ، اونه داقتدار دڅوکی مینی تراغیزی لاندی راغی ، نه دقصرونو ، بلډنګونو او ماڼیو هوس دهغه دفکر پردی وتخنولی ، اونه یی کوم جابر واکدار دحق نعره په ستونی کی ورکه کړای شوه . نن بیا دنړی دمسلمانانو سترګی دیو داسی عظیم شخصیت په یاد غمجنی دی چی له نن څخه لس کاله پخوا د۱۹۸۱ کال داکتوبر په ۱٤مه یی دویر تغر غوړیدلی ؤ.

مرحوم مولانا مفتی محمود د۱۹۱۹ کال دجنوری په میاشت کی دی فانی نړی ته قدم کیښود ، ابتدایی روزنه یی په خپل کلی کی وکړه اودلوړو زده کړو په خاطر یی «دیوبند» خواته مخه کړه ، په ۱۹٤۱کال کی یی دفراغت سند لاس ته راوړ ، او تدریس یی پیل کړ ، دحق دسنګر ښه مجاهدین اوداسلام په لاره کی ښه هلی ځلی کوونکی یی وروزل ، دښوښوعالمانو پرسریی پګړی وتړلی ، هغوی ته یی ددینی مدرسو دجوړولو بلنه ورکړه اوپه دی توګه یی په پاکستان کی داسلام او محمدی شریعت دنافذولو تخم وشیندہ . دایوب خان په دوران (۱۹٦۲) انتخاباتو کی ګډون وکړ اودقومی اسمبلی (ملی شورا) غړی شو خووروسته دشریعت دنافذولو پرسرله حکومت سره مخالف شو اواستعفی یی ورکړه. په ۱۹۷۰ کال کی یو ځل بیا دانتخاباتو ډګر ته راووت اوپه دیره اسماعیل خان کی یی خپل رقیب «ذوالفقارعلی بوټو» ته ماته ورکړه او دملی شورا غړی شو په دی دوران کی یی هم دشریعت دنافذولو په خاطرزیاتی منډی رامنډی وکړی خو کله چی په ۱۹۷۲ کال کی دصوبه سرحد اعلی وزیر شو خپلی دی غوښتنی او هیلی ته یی په حکومتی سطحه دعمل جامه وروااغوسته ، په صوبه سرحد کی دهغه دوره یوه بیلګه او ځانګړی دوره ده ، په همدی دوران کی به هم هغه ساده کالی اغوستل اوپر سر به یی برګ برګ دستمال تاړه، کله چی پیښور ته دوزیر اعلی په صفت راغی دهغه دکور ستونزه رامخی ته شوه ، دټولو سترګی د«ګښټ هاوس » خواته واوښتی ، هلته زوړ فرش ، چوکی او میزونه پراته وه ، سکرتر ورته ددی څوکیو دبدلولو مشوره ورکړه ده په خندا ورته وویل :« ... همداسم دی دهغو دبدلولو ضرورت نشته ، په «عبدالخیل» کی زما

کوردی هلته نه کوچونه لرم نه قالینی ... » دهغه دحکومت دوره بی ساری ده ، په دی دوران کی تولی صوبی کی امنیت ؤ ، دشرابو او مستیوپر محفلونو دروازی بندی شوی وی ، پر غربی کلتور دبطلان خط راکش شو ، کمیس اوپرتوگ ملی او رسمی لباس شو ، اودنورو زیاتو ناروا عملونو ځای اسلامی قوانینو ونیوه ، هغه یو نمونه وزیر اعلی ؤ ددفتر ملازمینو سره به یی یو ځای ډوډۍ خوړه ، چای به یی ورسره څکه او ناسته پاسته به یی ورسره کوله هغه وښودله چی عالمان تر ټولو ښه حکومت او داسلامی حکومت بیلگه وړاندی کولی شی ، هغه به ډیرو غتو ، غټو غونډو ته په ساده لباس کی ورته یو ځل داسلامی هیوادونو دبهرنیو چارو وزیرانو غونډی ته په داسی ساده څوپاکو کالیو کی ورغی چی ټول ورته حیران ؤ ، هغه به تل ویل :« ... ذاتی او ځان پوری اړوند نیکی ځان پوری محدودی وی ، دملی امورو دسرته رسولو لپاره ضروری ده چی انسان یواځی دملونځ او روژی دعویدار نه وی ، ددین په برخه کی دومره معلومات ولری چی دین ددین په توگه نافذ کړی ، که ددین څخه بی خبره انسان له ښه نیته شریعت نافذ کړی دکم علمی له وجی به داسی کارونه وکړی چی ددین له چوکاټ څخه وتلی وی داسی خلك داسلام دبدنامی باعث گرځی اواسلام نشی نافذولی ، داسلام نافذول له ځان څخه پیل کیږی څوك یی چی پر ځان عملی کړی هغه یی دخدای (ج) پر ځمکه

هم نافذولی شی ...» مرحوم مفتی محمود دحکومت په دوره کی دژوند پر ټولو برخو داسلام دحاکمولو زیار وایست خووروسته دمرکزی حکومت سره یی په همدی برخه کی اختلاف پیداشو اواستعفی یی ورکره . هغه د«جمعیت علماء اسلام » گوند دمشر په صفت داسلام دنافذولو اودمسلمانانو په منځ کی داختلاف دختمولو بی ساری هلی ځلی وکړی ،

یو ځل چاتری وپوښتل چی په هیواد کی به حنفی فقه اوکه جعفری فقه نافذه شی ؟ هغه ځواب ورکړ :« ... ډیره دافسوس خبره ده ، تاسوکلونو کلونو راهیسی دانگریزی حکومت تر سیوری ژوند وکړ هغه وخت کی چوپ وی خو اوس چی داسلامی نظام دنافذولو وخت راغلی دفقی جعفری اوحنفی جگړی ته لمن وهی هر یوه فقه چی وی له دی اوسنی نظام څخه ښه ده چی اوس دانگریزی اوبی دینی حکومت په بڼه موږباندی حکومت کوی ...» هغه زموږ داسلامی انقلاب دبریالیتوب په لاره کی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کړی داسلامی امت دهغو نامتو عالمانو له جملی ځنی دی چی ترټولو لومړی یی دجهاد فتوا صادره کړه اوده دهمدی پریکنده

دریغ له برکته دی چی نن هم «جمعیت علما اسلام »زموږ داسلامی انقلاب دبریالیتوب په لاره کی هلی ځلی کوی مرحوم مفتی محمود اسلامی امت ته نه هیریدونکی خدمتونه کړی هغوی یی داسلامی حکومت جوړولو اوداسلام تر سیوری لاندی ژوند کولو خواته رابللی ، هغه هیله درلوده ، چی دژوند تر وروستی سلگی پوری داسلام لپاره مندی رامندی وکړی ، داهیله یی سرته ورسوله ، اوبالاخره د۱۹۸۱ کال اکتوبر په ١٤ یی په داسی حال کی له دی نړۍ سترگی پټی کړی چی په کراچی کی یی دزکات اوعشر په باب یوی غونډی ته وینا کوله ، دخبرو په منځ کی ناڅاپی چوپ شو اوپه همدی حالت کی یی روح حقیقی مالك ته وسپاره .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دژوندانه لس ورځې

درومبی وحی ورځ :

ژباړن :ابوهارون

دادمکی وادی ده ، چې له خوښیومستی کوی ، ددی ځای اوسیدونکی هماغه عرب دی چې دبیابان ژوندانه له ستونزو سره روږدی او اموخته کړی دی ، اویو نسل بل ته خپل پخوانی اقدار ورسپاری ، اوتر ننه پوری یی ژوندی ساتلی دی دوی هم په خپلو نیکونونازیږی اوګانونه دنیك نژاد خاوندان ګڼی .

ددوی ټول ژوند دیوه جشن په څیر دی ، اودوی ددی دوام دار جشن په منځ کی خپل ژوند تیروی ، ددوی دسوداګری قافلی تراوسه پوری نه دی دریدلی ، اودوی بازارونه اصلاً دشاعری اوپهلوانی دمسابقو او لوبو دپاره ګرم دی ، دمکی په لارو اوکوڅوکی شور ماشور پورته کیده ، دخوښی اوعطرو وږمی خوری وی ، دنفسی غوښتنو اولذتونوانتهانه وه ، دارالندوه دشاتو دګبین په څیر دقبیلو دځوانانو اوبوډاګانو مرکز ؤ ، دبوتانو په درشل کی دکعبی په شاوخوا کی دعزا ، لات ، منات او هبل په مخ کی دزائرانو ګڼه ګوڼه جوړه وه .

ډیر لږ کسان له دی ګڼی ګوڼی اوله دی شورماشور نه بهرچیرته یوی اوبلی خواته دحق په لټه کی سرګردانه وو ، له لری لری ځایونو نه دحق په لټه کی تردی ځایه رارسیدلی وو، دغه کسان حنفا«دابراهیم حنیف »پر دین ولاړ وو، هغوی په دی عقیده وو چی دقریشو ددغو بوتانو ترشایو حقیقت پټ دی ،یو څرګند حق ، یوازی یو خدای (ج) چی ټول کائنات یی پیدا کړی دی ، خو دهغه دپیژندنی لاره له دوی نه هم ورکه وه.

هغه لاره چی،دوی دغه ستررب ته ورنږدی شوی وای له دوی نه ورکه وه دغه کسان یو پر بل پسی له دنیا نه تلل ، خو«حق » به یی نه موند ، او نه یی پاتی کسانو ته په دی باب څه ویلی وو ،که څه هم خپل ټول ژوندیی دحق په لټه کی تیر کړی ؤ ...

بیروبار اوشورماشور دی ، ددنیادلذتونو په اوج کی دراحت اوعیش دژوندانه شورماشور ،خو ژوند له اصلی راحت او خوښی نه بی برخی دی ، له نیکی نه بی بهری دی ، نیکی شته خو ډیره پیکه اولږه .

په همدغه شورماشور اوهمدغه له هوسه ډك چاپیریال کی یو له خدایه ویریدونکی روح هم ؤ. ویاړمن ، سپیځلی اوله ګناهونو نه پاك روح دحق اوشرف غوښتونکی اودحق په لار کی ستونزو ته چمتو روح ، دیوه داسی انسان روح چی دکائناتو رب (ج) په خپل فضل اوکمال په یوه سپیڅلی تنه کی اچولی ؤ.

هغه تل په دی فکر کی ډوب ؤ چی وقار څنګه حاصلیږی ؟ هغه په همدی سوچونو کی سرګردانه ؤ ، هغه په سپیڅلتیا کی ژوند کاوه ، اودهغه دعبادت په جذبه کی دتقوی رنګ ؤ.

دهغه دعبادت اوتقوا لوری کومی خواته ؤ؟

دالله لوری ته ،بیشکه دهمغه ستر رب (ج) لوری ته .

خو دالله معرفت په یوه داسی ښار کی کله حاصلیدای شوای چی خلك یی دګناهونو په دریاب کی ترغوږونو پوری ډوب وو ، ددغه ښار داوسیدونکو په ذهنونوکی

دهغو بی شمیره بوتانوله عبادت نه پرته بل څه ځائیدلی؟ دهغوی په دماغونو ددغو بوتانو دتوصیف نه پرته بل اغیزله کومه شوی وای .

په یاد ولری ، په همدغه ښار کی هم دبی لاریو په گردلو کی دحق موندل اولیدل کومه ستونځه نه وه نخو هغه چاته چی خپل روح او نفس یی دحق عبادت اوملانځنی ته وقف کړی ؤ.

په همدغه مکه کی دبوتانو نه وړاندی ابراهیمی دین ؤ چی په یوه خدای (ج) یی عقیده درلوده.

اوهمداسی وشول له هغه امین سړی«محمد ص » دعبدالله بن عبدالمطلب له زوی سره ، هغه دابراهیم (ع) حنیف له اولادی نه ؤ ،دهغسی سپیڅلی روح او نفس خاوند .

محمد رسول الله (ص) دمکی دښار په منځ کی له مصنوعی خدایانو نه «بوتانو» نه دخپل نیکه په څیر بیزار اودیوه خدای (ج) په حضور کی په عاجزی اوعبادت بوخت ؤ ، اوهمدی ؤ چی دحق علم به یی پورته کاوه او دخپل نیکه په پله به یی پل ایښود .

په دغی قوم کی دیوه پیغمبر دراتگ خبری له پیری مودی نه راپه دی خوا خوری وی ، اوزمانی داسی نخښی اوعلامی خپلی سینی ته سپارلی چی په راتلونکی کی به دحضرت محمد (ص) دپیغمبری زیری ورکاوه.

ایا دا همغه تی خوری ماشوم نه ؤ چی دطایف له ښځو نه هیچا هم په شیدو ورکولو وانه خیست او بیا چی له مجبوری نه حلیمی سعدیی ورسره بوت دوی لاپه نیمه لاره کی وو چی دکرامت نخښی یی ولیدلی ،ددوی له پښو لویدلی سپارلی ترتولو مخکی شوه او ددوی همغه زړی اوښی بیرته شیدی ورکړی ؟!

ایا داهمغه تی خوری ماشوم نه ؤ چی دده رضاعی موربی بی حلیمه دهزیل له څیره پیژندونکو نه راووست ، هغوی چی دده نورانی څیره لیدلی وه اوپه زوره زوره یی ویل :

دادمکي وادي ده ، چي له خوښیومستي کوي ، ددي ځاي اوسیدونکي هماغه عرب دي چي دبیابان ژوندانه له ستونزو سره روږدي ، اموخته کړي دي ، اویو نسل بل ته خپل پخواني اقدار ورسپاري ، وتر ننه پوري یي ژوندي ساتلي دي دوي هم په خپلو تیکونونازیري اوځانونه دنیک نژاد خاوندان گڼي .

ای دهذیل خلکو ! ای دعربو پلی !
دغه ماشوم ووژنی که نه نو !

په معبودانومی سوگند ، چی دوی به ستاسو ددین بیخ وباسی ستاسو بوتان به توټه توټه کړی اودوی به پر تاسو حکم چلوی .

حلیمی چی دغه خبری واوریدلی ،ماشوم یی راواخیست اوپه وارخطایی یی له هغه ځایه راوتښتاوه...

ایا دا همغه ماشوم نه وه چی یوه ورځ په تکنده گرمی کی له کوره وتلی ؤ اوبی بی حلیمی په سره بیابان کی ولید چی ارام پروت دی پر ځان یی یخ سیوری دی ، دلړ تودوخه اورلگوی ، خودی په یخ سیوری کی دی نه دځه شی سیوری شته نه وریځ درك لری ، خو پردغه ماشوم چایخ سیوری غوړولی ، بی بی حلیمی په خپلو سترگو دغه مبارکه ننداره ولیده ، بیایی په زړه کی دخوښی یوه جذبه راواوچته شوه ، ماشوم یی رااوچت کړ کلك كلك یی ښکل کړ ،او کورته یی راوړ .

ایا دا هغه ځوان نه دی چی دشام په سفر کی بحیرا راهب ولید اوپه لیدو یی په تسبیح پیل وکړ ، راغلی ځوان یی په غور ولید ، اوبیا یی کاکا اوبوطالب ته وویل:

خبردار ! داځوان به دیهودیانو له نظره پټ ساتی ...

ایا دا همغه تي خوري ماشوم نه ؤ چي دطایف له ښځو نه هیچا هم په شیدو ورکولو وانه خیست او بیا چي له مجبوري نه حلیمي سعدیي ورسره بوت دوي لاپه نیمه لاره کي وو چي دکرامت نخښي یي ولیدلي ،ددوي له پښو لویدلي سپارلي ترټولو مخکي شوه او ددوي همغه زړي اوښي بیرته شیدي ورکړي ؟!

آیا داهمغه څوك نه دی چی دځوانی په جوش کی یی دصداقت ، اخلاص اوامانت نوم ګټلی ؤ؟!

هوکی داهمغه ؤ ، همغه دخدای (ج) په تلاش اولټه کی سرګردان محمد (ص) بن عبدالله ، همغه له ټولنی او خلکو نه دپاکی ، او انزوا لورته راغب محمد (ص) هغه دهمدغی سکون لپاره له ښارنه لری دحرا په غره کی یوه غار ته تلو ، هلته به یی وخت په تفکر تیراوه ، اوبیا د ٦٩٠ م کال درمضان په مبارکه میاشت کی نورځی په یوه برخه کی هغه ساعت هم راورسید.هغه ساعت چی وحی راغله ...

دحضرت محمد (ص) حضور ته یوه ملایکه راغلله ، نوراځی نوره کیسه دعالمیانو درب له استازی نه پخپله واورو ، محمد مصطفی (ص) وایی چی :

پرښته راغله ماته یی وویل :ووایه !

ماوویل : زه خولوستونکی نه یم .

زما له دی ځواب سره سم هغی زه ونیولم ، او زور یی راکړ تردی پوری چی ما دځان خلاصولو کوشش وکړ ، بیایی زه پریښودم ، او راته وی ویل : ووایه !

ماورته وویل : زه لوستونکی نه یم .

زما په دی ویلو هغی زه بیا ونیولم ، او ځان ته یی کش کړم داکار دری ځلی تکرار شو اوبیا یی زه پری ښودم ، اوویی ویل : ووایه دخپل رب په نوم چی پیدا یی کړ انسان له ټینګی وینی څخه ووایه ، او ستارب هغه اکرم ذات دی چی دقلم په واسطه یی تعلیم ورکړی ، انسان ته یی هغه څه ورښودلی چی نه و پری خبر... (سوره علق)

داوه دپیغمبر دانتخاب ورځ ، په دغه ورځ هغه یوه عظیم ویاړ ته انتخاب شو .

وګوری ، دژوند له هنګامو نه ډیر لری ، په یوه ګوټ کی دغره دګړنګ په یوه ژوره سمڅه کی چی هلته یو سپیڅلی عابد خپل معبود اوپروردګار ته دهدایت اولارښوونی زاری کوی ، دهغه حضور ته یو اسمانی سفیر راغی ، دالله له نور سره یو داسی چاته راغی ، چی هغه یی دنړی دالو ښوونکی او امام ټاکلی .

نوراځی دوحی دورځی نوره کیسه واورو :

آیا داهمغه څوك نه دي چي دځواني په جوش کي یي دصداقت ، اخلاص اوامانت نوم ګټلي ؤ؟!

هوکي داهمغه ؤ ، همغه دخداي (ج) په تلاش اولټه کي سرګردان محمد (ص) بن عبدالله ، همغه له ټولني او خلکو نه دپاکي ، او انزوا لورته راغب محمد (ص) هغه دهمدغي سکون لپاره له ښارنه لري دحرا په غره کي یوه غار ته تلو ، هلته به یي وخت په تفکر تیراوه ، اوبیا د ٦٩٠ م کال درمضان په مبارکه میاشت کي نورځي په یوه برخه کي هغه ساعت هم راورسید .هغه ساعت چي وحي راغله ...

رسول الله (ص) دحرا له غار نه لږ ګړندی راوزی ، ښی اوچپ لوری ته ګوری ، شاته نظر کوی ،هیڅ نشته ، ځان یوازی احساسوی ، یو ځل یی پر افق سترګی لګیږی ، چی له کیفه ډکه عجیبه روښنایی خوره ده، همغسی حالت دی لکه لږ وړاندی دحرا په سمڅه کی له جلال او هیبت نه ډکه رڼا ده ، په وجود یی یوډول

زما په دي ویلو هغي زه بیا ونیولم ، او ځان ته یې کش کړم داکار دري ځلي تکرار شو اوبیا یې زه پرې ښودم ، اوويې ویل : ووایه دخپل رب په نوم چې پیدا یې کړ انسان له ټینګي وینې څخه ووایه ، او ستارب هغه اکرم ذات دي چې دقلم په واسطه یې تعلیم ورکړي ، انسان ته یې هغه څه ورښودلي چې نه و پرې خبر ... (سوره علق)

کمزوری لړزه راځی ، اودغه وخت رسول الله(ص) نه پوهیږی چې چیرته روان دی ، ګامونه یی درانه غوندی دی ، ناڅاپه یی غوږونو ته اواز راځی !

ای محمده (ص) ! ته دخدای (ج) رسول یی او زه جبرائیل یم دایی چی واوریدل هغه (ص) ددغه ننداری منزلت او قدر وپیژاند روښنایی ورکه شوه ، نورفرښته هم نه وه،حضرت محمد (ص) سیخه دکور لاره ونیوه ترڅو خپل دغه راز دخپل ژوند له وفاداری شریکی خدیجة الکبرا (رض) سره شریك کړی ، کله چی دخدیجی (رض) کوټی ته ننوزی ، ټول بدن یی لړزیږی ، حضرت بی بی خدیجی(رض) ته ټوله کیسه تیروی ، دکیسی په اوریدو دبی بی خدیجی په ځیره کی دامید اوخوښی نور ځلیږی ،اوپه بشپړه ډاډ ګیرنه ورته وایی :

ای زما دتره زویه ! خوښ او ثابت قدمه اوسه ، په هغه ذات (ج) می سوګند چی دخدیجی روح یی په واك کی ده چی ته ددی امت پیغمبر یی .

دپیغمبر (ص) لړزه کمیږی او تر ډیره حده یی بدن ارام شی نوحضرت بی بی خدیجی ته وایی :

زه دخپل ځان په باب اندیښمن یم .

خدیجه الکبرا (رض) تسلی ورکوی او وایی :

هیڅکله مه اندیښمن کیږه ، خوښ اوسه ، ستر خدای (ج) به تاهیڅکله هم په غم کی پری نږدی ځکه:

ته له خپلوانو سره صله رحمی لری .

تل رښتیا وایی

دکمزوریو اویتیمانو له حاله ځان خبروی .

دمیلمه په پالنه کی تر ټولو وړاندی یی .

په مصیبت کی لویدلیو ته لاس ورکوی .

وروسته بیا دواړه دبی بی خدیجی دکاکا زوی ورقه ابن مفضل ته ولاړل ، هغه ته یی ټوله کیسه تیره کړه او بیا ورقه هم دحضرت محمد (ص) پر پیغمبری ډاډه شو هغه ته یی ددغی ستروپاړ مبارکی ورکړه او ویی ویل :

داهمغه فرښته ده چی پرموسی (ع) نازله شوی وه کاشکی زه هغه وخت ژوندی وای چی تا خپل قوم له مکی نه وباسی .

رسول الله (ص) وفرمایل :

نو آیا مابه خلك وشړی ؟

ورقه جواب ورکړ :

هو ! تل داسی شوی دی چی کله چا ستاپه شان شی راوړی دی نو دهغه مخالفت شوی دی ،که زه هغه وخت ژوندی وم نو ستا به مرسته کوم .

په دی دول ورقـــه دیـــوی رښتـــیانی پیښی په باب دمخـــه خبر ورکړ چی دپیغمبر(ص) په ژوند کی راغلله.

داوه نوحـی لورځـی کیسه ، دهـغی ورځـی چی دنړی ترټولو ستر انسان ته یو ډیر سترخلعت ورواغوستل شو ، داوه دپیغمبر دړومبی وحی کیسه دحرا دسمځی، دجبرائیل (ع) دنازلیدو اوحضرت محمد مصطفی دمبعوث کیدو کیسه ....!

نیمگړي بدنونه دباروتو سوغات

دمعیوبینو دمدیریت له میلمنو سره دزړه خواله

ددردونو اوله غمونو دکو زړونو ځگیرواوکړیکو نن دنیرنگی اوماکیاولی سیاستونو منافقتونو اودمادی وسایلو پر سر له رقابتونو پردی کړم ، دهغه چا مخی ته کیناستم چی دیار رقیب اوپردی ناکردو یی دحوصلو بریدونه نړولی دهغو نورانی سترگو سره می سترگی وجنگولی چی گړنګ په گړنګ غورځیدو ، دباروتو په اورکی لولپه کیدو ، اوبدنونو پر نیمگړی کیدونه‌ یې دملگرو ناخوالیو غمجنی کړی .
نیمگړی بدن ، پری پښی شوې لاس اوړندی سترگی یی شمله نیغه کړی خودخود خواهیو اوځوکی دهوس لیونو یی ددردونو چینی راخوټولی چی خولی بیرته کړی ځان به ورسره همنوا کوی چی‌که نن یو نشو سبا ورکیږو ځوك مصنوعی پخه په غوځی پخی پسی تړ ی ، ځوك پر قطع شوی لاس گوتی وهی ، ځوك له دردہ په ږداوښتی نشی اویو نیم هم دهیلو دځرنگوالی چرت زنگوی .دخوست ولسوالی دمولوی صاحب حنیف شاه مجاهد گل نواب دجمال الدین زوی چی په ١٣٦٩ کال کی دسخر پر پوستو دورختو په وخت چپه پخه له لاسه ورکړی‌وایی :
« ...ځنگه به اندیښنه اوچورت نه وهم پر ارمان می خاوری امبار کیږی ، قربانی مو په سیند لاهوکیږی ، کله ناکله دعمومی سړك ترڅنگ کینم په لسو کی اته ښه موټر دمهاجرو دی ، داسی انگیرم چی زما وینی پکی سیزی ، اخر ولی ؟ داخو دتباهی نښی دی ولی زمونږ پر ویاړونو لوبی کوی ؟ ولی زمونږ پر وینو دموټر زړونه په حرکت راولی ؟
د« مه خان » زوی «دولت خان » خواوس هم دباطل دنسکورولو دپگر توررنن دی ، چپه پخه یی په ١٣٦٠ دلیژی تانی دفتحی په عملیاتو کی له لاسه ورکړی خو اوس هم په لوړو ژورو کی دمجاهدینو دکاروان مل دی ، هلته دشپو ، شپو تیرولو نه دی ستړی کړی خو دلته دیوی ورځی تیرولو ته هم زړه نه ښه کوی وایی:
« ... شکر دی چی دحق په لاره کی دجنگیدو ویاړ لرم ، راتلونکی نسل ته دتوررزنی اوباتوری سند لرم ، همدا ویاړمی دسرتیرو له ډلی پریښودو ته نه پریږدی ، هلته نه ستړی کیږم خو چی کله دلته د(I.C.R.C) دمعیوبینو دځانگی دمسولینو چلند وگورم دزړه پر پردو می دغم اوخپگان ستنی وچوخیږی اوله دی ځای ځخه دپخی اوباسلو هوس می په مخه کړی اخر ولی ؟ هلته پل په پل داسلام دسرلوړی په خاطر وینی توئیږی خودلته یی ځوك په ورین تندی استقبال ته هم نه رادانگی»
دلته ټول داتلولیو ځښتنان دی ، چا دحویلی انگړ کی ږدی وهلی اوځوك په پیتاو کی دخپلواتلولیو کیسی بیانوی ، دوی دی افتخار وړدی ، باید وستایل شی ، دمسولینو له خندا ډکی خولو اوپراخی حوصلی ته یی هم باید سړی لاس په نامه وی ، هریوه ته تیټ جگ کیدل اوپه ورین تندی یی خبری ته ځواب ورکول حوصله غواړی ، «مولوی محمد گل » چی دمعیوبینو دمدیریت مسول دی وایی:
« ... کله چی جهاد پیل شو ورسره

جوخت دشمیرله معیوبینو اوپر هرژلو لړۍ هم پیل شوه . دجهاد په سرکی په دی خاطر چی حقانی صاحب پوری اړوند جبهاتو معیوبین کم ؤ ، دهغوی ټولی چاری دنمایندگیو امریت پرمخ بیولی خو کله چی دمعیوبینو شمیر زیات شو په ۱۳٦۷ کال کی دنمایندگیو دامریت په چوکاټ کی ورته جلا مدیریت جوړ کړای شو چی دمعیوبینو چاری پرمخ بیایی موږ اوس دمعیوبینو دضرورت وړشیان لکه هغوی ته مصنوعی پښی اولاسونه جوړول ، اعاشه ، کرایه سفریه دناروغی په صورت کی ډاکتر ته بیول ، دهغوی دحال پوښتنه اوهفته وار کومکونه ورسره کوو ، موږ تقریباً ۳۰۰ معیوبینو ته مصنوعی پښی جوړی کړی ، چی مصارف موپخپله کړی ، د۵۰۰ په شاوخوا کی معیوبینو ته مودخیریه موسسو په مرسته مصنوعی پښی اولاسونه جوړکړی ، که څه هم موږ تروسه وسه دمعیوبینو ستونزی حل کړی خوبیا هم چی هر څومره دهغوی خدمت وشی کم دی ځکه معیوبین زموږ دقربانیو نسبه ده ، راتلونکی نسل ته داتلولیو سنه یادگار دی ، په دی خاطر تر هرچا زیات مستحق دی باید سنه وپالل شی ، ټول په ورین تندی هغوی استقبال کړی چی مایوس نشی... »

هریوه ته چی په مینی غیږ ورکړی ته به وایی چی دنړی شته دی وربخښلی رښتیا هغه څوک چی ددرد منلو پر سر لاس راکش کوی اوهغوی سره درد شریکول خپلوی هبخ شی نه شی کولی.

قوماندان ظاهرشاه دگل سامان زوی چی په ۱۳٦۲ کال کی دبړی پر پوستو بورختلو په وخت ښی پښه له لاسه ورکړی اوښی لاس یی هم ژوبل شوی ، وایی :

« ... زه دپښی دغوڅ کیدو په فکر کی نه یم،گیله په دی راځی چی ددردیدلو خلکودپوښتنی سړی کم دی ، ځانځانی ده ، دیووالی غږ یواځی په شعار کی پاتی شوی ...»

دمعیوبینو دسرسری لیدلو دامعلومه شوه چی ددرندو اجتماعی کارونو وس نلری ، خودپښی اولاس دغوڅیدو سره سره بیاهم بی ځایه ناستی خوند نه ورکوی ، په کډه اوبوه اواز خیریه موسسو ته یو وړاندیز لری :

« ... موږ ټول ددرندو کارونودسرته رسولو څخه عاجز یو ، باید خیریه موسسی اودجهاد مسوولین دی برخی ته پام وکړی ، موږ ته باید داسی وسایل په لاس راکړی چی هم ځان پری مشغول وساتلی شو او هم خلکو ته دخدمت مصدر وگرځو...»

ددوی سره داغږ دمعیوبینو دمدیریت مسولین هم بدرگه کوی دجهادی مشرانو اودجهاد خواښوږو ته هم یو پیغام لری ، پر هغوی دیووالی اویو موټی کیدو غږ کوی ، اودی تکی ته یی پام راگرځوی چی :

سره یو شی وخت دننگ دی دخطر وروستی زنگ دی .



شپږمه برخه:

داسلام په اړه دصليبيانو اويهوديانو نظريې

ژباړن :سلطان محمود« صلاح »

دويم : دقرانكريم له منځه وړل :

لكه مخكې موچې وويل يهودان اونصرانيان قرانكريم دمسلمانانو دقوت اوعظمت اساسي مصدر گڼي ، اوپدې عقيده لري چې كه قرانكريم دمسلمانانو په منځ كې وجود ولري نوحتماً به يوه ورځ بيا دوى «مسلمانان » دقوت اوپرمختگ خاوندان گرځي.

١- گلادستون وايي : تر څو چې قران موجود وى ترهغې به اروپا په امن نه وى اونه به هم په ختيځ باندى برلاسي شي (١)

٢- مسيحي مبشر وليم گيفورد بالكراف وايي :

كله چې قران اومكه له عربي نړى نه محوه شول ، نو هغه وخت به بيا ممكنه وى چې عربان له محمد (ص) اودهغه له كتاب نه پردي اودغـــربي تمدن په وړاندى سلامي شوي وى (٢)

٣- مبشر تاكلي وايي :

په كارده چې داسلام له تولو نه خطرناكه وسله (قران) پخپله داسلام په خلاف استعمال كړو ترڅواسلام بالكل له منځه يوسو ، اوداهم لازمه ده چې مسلمانانو ته داسي ورپوهوو چې په قران كې صحيح شيان نوى ندى ، اوكه نوى شيان پكې وى نو هغه بيا صحيح ندى (٣)

٤- په الجزاير كې فرانسوى واكدار ددغه هيواد دنيولو دشلمې كليزى په مناسبت داسې ويلي ؤ: كه غواړو پر مسلمانانو برلاسي واوسو نو بايد قران اوعربي ژبه له منځه يوسو (٤)

دفرانسوى واكدار ددى خبرى په اړه په فرانسه كې يوه عجيبه غونډى پيښه وشوه ، اوهغه داسې وه چې دفرانسې حكومت وغوښتل دالجزايرى ځوانانو له زړونو نه دقرانكريم ايستل تجربه كړى ، نو يې لس كسه الجزايرى مسلماني نجوني رابيلې كړى اوپه فرانسوى (ښوونځى) كې يې داخلې كړى جامه يې هم وربدله كړه ، فرانسوي ثقافت اوژبه يې وروښودل، تردى چې دانجونى بالكل فرانسوياني غونډى شولې .

له يوولس كلونو ښوونې او روزنې وروسته فرانسوى حكومت دنوموړو نجونو دفراغت په وياړ يوه لويه غونډه جوړه كړه ، او وزيرانو ، مفكرينو او ژورنالستانو ته يې دگډون بلنه وركړه ... خو كله چې غونډه پيل شوه نو تول گډون كوونكې هغه وخت هك پك حيران پاتې شول كله چې نوموړى نجونې پخپل عربي اواسلامي لباس كې غونډې ته راننوتلې ...

اوپه همدى پسې فرانسوى ورځپانو او جريدو انقلاب

جوړ کړ اودایي وپوښتل چي فرانسي پدي ۱۲۸ پوسل اواته ویشت کلونو کي په الجزایرکي څه کړیدي !!!؟؟

خو دفرانسوي مستعمراتو وزیر (لاکوست) داپوښتني داسي ځوابولي : پداسي حال کي چي قران له فرانسي څخه ډیر پیاوړي دی ، نو زه به څه وکړای شم (۵)؟!!

دریم – دمسلمانانو داخلاقو ، عقلونو نړول له الله تعالی نه دهغوي اړیکي شلول اومادي شهوتونو په دام کي راګیرول :

۱– مرمادیوك باکتول وایي :

کیدای شي مسلمانان خپل تمدن دپخوا په شان په ډیره چټکتیا سره په نړی کي خورکړي خو پدی شرط چي دوی هماغه خپل پخواني اخلاق دځان کړي ، ځکه ذاتش زړي نړی ددوی دتمدن په وړاندي ددریدو توان نلري (۶)

۲– دتبشیري ټولنو رئیس (صموئیل زویمر) په ۱۹۳۵ کال کي دالقدس ترنامه لاندي جوړشوي دمبشرینو په کنفرانس کي وویل :

مبشرینو هغه مسوولیت چي مسیحي ملکونو ستاسي په غاړه دراچولي داندي چي تاسي مسلمانان په مسیحت کي راګډ کړي ځکه دادوی لپاره عزت اوهدایت دی ، بلکه په اسلامي ملکونو کي ستاسي وظیفه داده چي مسلمان له اسلام څخه وباسي ترڅوداسي یومخلوق ورنه جوړشي چي نه له الله تعالی سره اړیکي ولري اونه هم له انساني اخلاقو سره ، که دامو وکړای شواي نو تاسي به داسلامي ملکونو داستعمارولو په لاره کي دټولو مخکښان وی ، اوس دتاسي کوښښونو نتیجه ورکړیده ځکه په ټولو اسلامي ملکونو کي مو ذهنیتونه دی ته اماده کړیدي اوهلته مو داسي یونسل رامنځته کړیدي چي له الله تعالی سره اړیکي نه پیژني اونه هم غواړي چي له خدای سره اړیکي ولري.

هو تاسي مسلمانان له اسلام څخه وایستل خو په مسیحیت کي مو هم شامل نکړل ، اوپدی سره مو داسي یو نسل برابر کړ چي استعمار یي غوښتنه کوله ، دانسل لوی لوی کارونه دبي پروایي قرباني کوي ، له سستي اوشهوت راني نه پرته بل څه نه پیژني ، دژوند یوازیني هدف یي دنیوي شهوت دی ، دهغه زده کړه ، مال اومقام ګټل ټول دشهوت په خاطر وي ... ای مبشرینو تاسي خپله دنده په ښه توګه تر سره کوي (۷)

۳– نوموړي (صموئیل زویمر) پخپل (الغارة علی العالم الاسلامي) نومي کتاب کي لیکي :

تبشیردلویدیزتمدن په نسبت دوي ځانګړتیاوي لري چي یوه یي دنړولو اوبله یي دودانولو ځانګړتیا ده.

دنړولو له ځانګړتیا نه مومراد دادي چي مسلمان له اسلامي دین نه راوباسو اوبودانولو معنی داده چي دامکان په صورت کي مسلمان نصراني کړو ، ترڅو دغربي تمدن سره څنګ په څنګ دخپل قوم په وړاندي ودریږي(۸)

٤– دوي (نصرانیانویهودیانو) په وړاندي دمسلمان داخلاقو اوشخصیت دله منځه وړلو لپاره ترټولو نه غوره وسیله علماني (بي دیني) زده کړه ده .

الف – مبشر تکلي وایي :

په کار ده چي لویدیځي اوعلماني ډوله مکتبونو (ښوونځیو) پرانیستلو لپاره زیاتي هلي ځلي وکړو ، ځکه ډیر مسلمانان دلویدیځو داسي کتابونو اوپردیو ژبو له زده کولو وروسته داسلامي دین اوقران په هکله بي تفاوته اوشکمن شویدي(۹)

ب – زویمر وایي : پداسي حال کي چي مسلمانان له مسیحي ښوونځیو څخه کرکه اونفرت لري نوباید موږ ورته علماني ښوونځي پرانیزو اوهلته ددوي دداخلیدو شرایط برابر کړو ځکه همدا ښوونځي دی چي په زده کوونکو کي اسلامي روح وژني (۱۰)

ج – ګب وایي : دمسلمانانوله (ټولنیزژوندنه اوس داسلام حاکمیت ختم شوي دی اویوازي تش په نامه څومحدود عادتونو کي داسلام نوم پاته شوي دی ، داپداسي حال کي چي دابدلون په تدریجي توګه رامنځته شوي دی ، اواوس ددي امکان نه لیدل کیږي چي بیرته خپل اصلي حالت ته راوګرزي ، خودابايد له یاده ونه باسو ، چي پدي بدلون کي داسلامي نړي مشرانو اوپه خاصه توګه ځوانانو مهم رول لوبولي دی ، اوداټول بیا دعلماني

سبووني نتيجه ده (۱۱)

ځلورم – دمسلمانانوديووالي ختمول :

۱– سيمون نومي

مسيحي عالم (قس) وايي :

يوازي اسلامي يووالي دي چي دمسلمانو ولسونو هيلي پوره کوي او هغوي له اروپايي تسلط نه په امن ساتي ، خو تبشير بيا ددوي يووالي ختموي ، نو اوس په کار ده چي دتبشيرپه واسطه مسلمانان له يووالي نه نفاق ته بوزو (۱۲)

۲– يو بل مبشر (لورنس براون) وايي :

که چيري مسلمانان ديوي امپراطوري ترسيوري لاندي سره يو شول نو کيداي شي چي دټولي نړي لپاره لوي خطر وګرزي ، اوداهم کيداي شي چي دنړي لپاره نعمت وي خوکه هغوي همداسي بيل بيل پاته شي نوبيايي هيڅ وزن اوارزښت نشته (۱۳)

بيا زياتوي :

بايد عرب اومسلمانان همداسي بيل اوپاشل شوي پاته شي ، ترڅو دهيڅ ډول قوت او اغيزي خاوندان نشي .

۳– ارنولد توينبي پخپل (الاسلام والغرب والمستقبل) نومي کتاب کي ليکي :(۱٤)

داسيي ده چي نن ورځ اسلامي يووالي په درانه خوب ويده دی ، خوداباید له ياده ونه باسو چي ويده به حتما راويښيږي .

٤– دفرانسي دوخت دبهرنيو چارو وزير (ګابرائيل هانوتو) دخپل ژوند له ټولو خوشحاله ورځ هغه بولي په کومه کي چي فرانسي په تونس باندي داومنله چي دين له سياست نه جدا کړي ، اوله مکي مکرمي خپل اسلامي ماضي اوټولو اسلامي هيوادونو سره يې اړيکي وشليدي(۱۵)

٥– ددی موضوع په هکله لاندينی تکی هم دياوړنی وړدي:

په ۱۹۰۷ کال کي دفرانسي دبهرنيو چارو دوزير ترمشري لاندي داروپايي سياستمدارانو اومفکرينو تر ټولو لوی کنفرانس داير شوی ؤ ، دکنفرانس رئيس پخپله افتتاحي وينا کي داسي ويلي ؤ:

اروپايي تمدن اوس دنړيدو په حال کي دی ، نوزموږ مسئووليت دی چي پدی کنفرانس کي داسي لاري چاري ولټوو چي زموږ تمدن له نړيدو او ورکيدو نه وساتي .

برخه اخيستونکو پوره يوه مياشت پدی هکله څيړني وکړې ، ټول هغه خطرونه چي غربي تمدن ترخپل تهديد لاندی راولي ولټول ، خو بالاخره دی نتيجي ته ورسيدل چي اروپاته تر ټولونه لوی خطر دمسلمانانو خطر دی .

نويي دافيصله وکړه چي بايد اروپايان په خپل توان سره زيار وباسي ترڅو اسلامي منځني ختيځ سره يو نشي ، ځکه داداروپ لپاره تر ټولو لوی خطر دی .

اودهمدی هدف لپاره يې دسويس کانال په لويديزو غاړو کي لويديځ قوم پرسته ډلګی جوړی کړی ترڅوپرينږدی مسلمانان سره يو شي .

اوپه همدی خاطر بريتانيا له نړيوال صهيونيزم سره خپلي اړيکی ټينګي کړی ترڅو په فلسطين کي ديهودي دولت دجوړيدو په هکله ورسره مرسته وکړی (۱٦)

۱– الاسلام على مفترق الطرق – ص ۳۹
۲– جذور البلاء –ص ۲۰۱
۳– التبشير والاستعمار ص – ٤۰ (طبعة رابعة)
٤–مجلة المنار عدد۹– ۱۱ – ۱۹٦۲
٥– جريدة الايام – عدد ۷۷۸۰ الصادر بتاريخ ٦ كانون اول ۱۹٦۲
٦–جندالله – ص – ۲۲
۷– جذور البلاء – ص ۲۷٥
۸– الغارة على العالم الإسلامي ص – ۱۱
۹– التبشير والاستعمار – ص ۸۸
۱۰– الغارة على العالم الاسلامي ص ۸۲
۱۱– الاتجاهات الوطنية فى الادب المعاصر – ج۲ – ص ۲۰٤ – ۲۰٦ تاليف محمد حسين
۱۲– كيف هدمت الخلافة – ص ۱۹۰
۱۳– جذور البلاء ص ۲۰۲
۱٤– الاسلام والغرب والمستقبل ص ۷۳
۱٥– هانوتو – ص ۲۱
۱٦– المؤامرة ومعركة المصير – ص ۲٥

شپږمه برخه :

کمونیزم یا دتکامل اوانساني فطرت ضد ایډیا

عبدالوکیل

تقویٰ اوپرهیز گاري :

مسلمانان اودالله پاك ذات ته متعقد انسانان کوم چی دهغه ذات څخه ویره اوپه عین حال کی ورسره محبت اومینه لری دخدای (ج) درضا حاصلولو اودهغه اوامرودپر ځای کولو لپاره دبشری ټولنی ترټولو با انظباطه عادل ، باهمته ، زحمت کښونکی اوباابرو ترین غړي تشکیلوی هغوی دپولیس حکومت یا انسانی جبر ته اړتیا نلری اودالهی امورو په اجرا اوسرته رسولو سره انسانی ټولنی ته بی شمیره خدمتونه اوبریالیتوبونه رامنځ ته کوی اوخدای (ج) دبشری ټولنو داوضاع اواحوال سره سم دتاریخ په مختلفو پړاوونوکی دانسانانودلارښوونی او انسانی عالی سپیڅلی اوباعزته ژوند لپاره لار ښوونی نازلی کړی اودهغوی دتبلیغ اوترویج په خاطر یی پیغمبران رالستولی دی نو هغه دخدای (ج) څخه ویریدونکی او متدین انسانان چی دالله (ج) عالیترین معنوی قدرت ته داعتقاد په زرینو ورانګوښکلی کړای شوی وی دټولو هغوکارونو څخه چی دټولنی لپاره په زیان تمامیږی ، پرهیز کوی اوټول هغه کړه وړه چی دبشر دسعادت ، نیك بختی اوټولنی دشګوفانی عامل ګرځی بی له انسانی جبراو ریا څخه دزړه له کومی اوپه ټول وس اوقدرت سره تر سره کوی ځکه چی هغه خپل سعادت اولوړ تیا دخدای (ج) بندګانو ته دخدمت اوښیګڼو په رسولو کی وینی .

په رښتیا چی همدغسی انسانان ددنیا پرمخ دبهترینو او معقول ترینو انسانانو له جملی څخه شمیرل کیږی اوهمدغه ډول انسانان دانسانیت لوړشان اومقام ساتلی شی اودغه انسانی ټولنه رښتینی انسانی باابرو اونیك بخته ټولنه ده چی دټولو بدبختیو ، کړاوونو اورنځونو څخه پاکه ټولنه بلل کیدای شی .

کله چی یو کمونست ٔماتریالیست اوبی دینه انسان دقدرت څښتن شی نو ددغه قدرت څخه دنورو انسانانو دسرکوبی دهغوی دحقوقو دغصب اوپر هغوی باندی دجبر او ستم اودخپلوشخصی ګټو دلاس ته راوستلو دپاره په داسی ډول بده ګټه اخلی چی دټولنی نور غړی تری زیانمن اودهغوی دبدبختی سبب شی هغوی (کمونستان) دحیوانیت جنسی اړیکو په قایمولو سره ټولنی ته بی شمیره رنځونه او بدبختی رامنځ ته کوی ، دبی ګناه انسانانو وژل اودهغوی ژوند دخپل ژوند څخه قربانول ، دانسان انسانیت ابرواو عزت ته په ټیټه اوسپکه سترګه کتل ، په عیش او عشرت کی ډوبیدل ټول دکمونیزم یا مادیت ایډیا څخه سرچینه اخلی خو کله چی دمعنویت اودالله (ج) ذات ته معتقد اورښتینی مسلمان دبرم او قدرت څښتن شی نو هغه دخپل ځان ټیټوالی اولوړوالی ټول دخدای (ج) له طرفه بولی او خپل ټول امکانات دولسونودازادی ، سعادت اونیك بختی دلا اوچتیدو او دبی عدالتی اوستم دله منځه وړلو لار کی په کار اچوی اودی لاری څخه دالله (ج) رضا لاس ته راوړی .

داډول معتقد انسان چی خدای تعالی هرڅومره لوړوی هغومره حلیم ، بردبار اوټولنی ته دخدمت کولو نمونه ګرځی . همدارنګه په هره اندازه چی کمونستی دولتونه په نظامی او اقتصادی لحاظ نیرومند اوقوی کیږی په همغه اندازه دولسونواو ملتونو دبرده کولو ، ښکیلاك اولوټولو باعث کیږی اوپه نړی کی دویری ، نا امنیتی اوجګړی فضا رامنځ ته کوی او په هره

سویه چی دکمونیزم او الحاد ریښی لنډیږی ورسره سم دصلحی ، امنیت اوډوستی فضا رامنځ ته کیږی او بشری ټولنه دعالی اوابرومند ژوند په لوری ګړندی ګامونه پورته کوی .

په روانی لحاظ :

کمونستان په عمومی ډول او دټل لپاره دروحی رنځونو اوپرابلمونو سره لاس په ګریوان دی ځرنګه چی دانسان خواهشات نه پوره کیدونکی متنوع اوبی انتهادی نو که چیری دروح ارامښت دالله (ج) ته دکلکی عقیدی اودهغه ابدی ژوند په امید اوهیله چی هلته ټول ضرورتونه اوخواهشات پوره کیدونکی دی صورت ونه نیسی بله معقوله اوممکنه لاره وجود نلری . همدارنګه ژوند دمشکلاتو ، پرابلمونو ، حوادثو، خوښیو اوغمونو سره تړلی دی نو که چیری انسان په خپل ژوند کی یو شمیر هدفونه ترلاسه کړای شی اوکه نه بیا هم په لسګونو حوادث ، پرابلمونه اوهدفونه دهغه په مقابل کی پیدا کیږی اودهغوی حل اوترلاسه کول انسان هڅی اوتلاش ته مجبوروی اویو شمیر غوښتنی سره ددی چی خواهشاتی بنه ولری خو دژوند او روانی ارامښت په اړند دضرورت په مثابه ظهور کوی نوترڅو پوری چی انسان نومړی هدفونه لاس ته نه وی راوستلی نا ارام ، لالهانده اوپه یوه اوبله خوامنډی اورامنډی وهی.خواهش ، میل او ارزو کیدای شی ډیری کوچنی اوعادی انګیزی په اړوند پیداشی اولاس ته راوړل یی هم په ژوند کی لږ ارزښت ولری او حتی کیدای شی چی دتعین شوی هدف لاس ته ورتلل یی په نه جبران کیدونکی زیان تمام شی خو دغه هدف دده روان او روح دمختلفو انګیزو او عواملو په اساس خپل ځان ته جلب اوپر ځان یی شیدا کړی وی نوترڅو پوری چی انسان دژوند ټول هدفونه نه وی ترلاسه کړی نا ارامه اوپریشان وی په داسی حال کی چی په دی فانی دنیا کی علماًاوعملاً په ثبوت رسیدلی چی دټولو ارمانونواوهیلو ترلاسه کول ناممکن دی نو کمونستان باید دژوند ټول خواهشات او هدفونه ددنیا په دی نسبتاً کم عمر کی تر لاسه کړی په داسی حال کی چی داډول امکانات اوشرایط ددنیا پر مخ وجود نلری اونه یی انسان درامنځ ته کولو امکانات لری نو په هره اندازه چی دکمونستانو دژوند پاڼی زیړیږی په همغه اندازه یی روانی ناخوالی او ګډوډی زیاتیږی او دجنون مرحلی ته نږدی کیږی . په رښتیا چی په کمونستی هیوادونو کی روانی رنځونه بی حده زیات اودنا امیدی اوپریشانی اخیرنی حد ته رسیدلی تردی چی دکمونستی ټولنو یو شمیر غړی دپرابلمونو اومشکلاتو په مقابل کی دمقاومت نه درلودلو او روحی فشارونو په وجه ځان وژنه (خودکشی) کوی اودژوند مفهوم په دی سویه راټیټ اوبی اهمیته کوی . مطلب داچی که چیری یو ما ټریالست یا کمونست هرڅومره عالی ژوند هم ولری (سره ددی چی کمونستی ایډیا دخصوصی سرمایی ددرلودلو په اړوند سخت محدود یتونه رامنځ ته کوی اوپه مجموع کی کمونستی ټولنوته خواری ، ناداری اودرنځونو څخه ډکی ټولنی هم ویلی شو) خو ځرنګه چی روحاً خواراو ذلیل دی دانسان ټول عظمت، ارمانونه او غوښتنی ددنیاپه دی دژوند نسبتاً کم وخت پوری محدود وی اوپه دی کم وخت کی دانسان دژوند دهیلو یوه کمه برخه هم نشی ترلاسه کیدای په نتیجه کی دهغو یو شمیر اهدافو څخه چی ترلاسه کول یی ممکن وی هم لاس په سر کیږی او دحیواناتو په څیر خوری ښنی اومری .

خو یومومن دینداره اوپرخدای (ج) باندی ایمان لرونکی انسان دټولو هغو دنیاوی مشکلاتو اوپرابلمونو په مقابل کی چی نومړی په خپل ژوند کی ورسره مخامخ کیږی ، موقت ، تیریدونکی اودهغوی په مقابل کی صبر ، استقامت او مجادله کول ددنیاوی اواخروی ګټو دلاس ته راوړلو په مثابه تعبیروی . همدارنګه یو مسلمان اوخدای (ج) پرست انسان که هرڅومره دلوړ اقتدار اوبرم ښښتن شی اویا هرڅومره دستړیو اوناخوالو سره مخامخ شی خپل استقامت اوپایه داری صبر او حوصله له لاسه نه ورکوی او دهرډول روحی ګډوډیو اورنځونو څخه په امن وی دهغوی (مومنان) معنوی جهان هومره لوی اوپراخ دی چی دنړۍ په دی کوچنی کره کی نشی راحصاریدلی اوددنیا لویی لویی خوښنی او غمونه ورته کوچنی ښکاری دالله (ج) په مینه اودابدی ژوند په امیدمست ، دقوی او عالی روحیاتودرلودونکی وی که هغه دنیاوی پانګه نلری خو په روانی او روحی لحاظ ترټولو موړ ، دهرڅه درلودونکی اودایمان دبدبه ، شور او زوږ یی په اصطلاح مادی عظمتونه تر پښو لاندی کوی .

نوکمونستی ایډیا انسان اوبشری ټولنه دخصلت روان او انسانی معقولو اړیکو دټینګښت په اړوند دنه جبران کیدونکو پرابلمونو اوبدبختیو سره لاس په ګریوان کوی انسان او انسانی ټولنه دتکامل اوپرمختګ له اصلی مسیر څخه منحرفوی او دورانی ، بی عدالتی ، بربریت اوحیوانی ژوند خواته یی ورټیل وهی .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني له نيوزويك سره په مرکه کي :

دافغانستان دمسلې حل زمونږ کار دی ، دهغه چاپه لاس کي نه دی چي دسیاسي حل چغي وهي

پوښتنه :تاسی ساعت ته وکتل معلومه شوه چی وخت موکم دی ؟
ځواب : نه ،تاسی ته وخت درکوم تاسی چی له پیښوره راغلی یاست وخت مو پخپله گټلی .
پوښتنه : غواړم دگردیز دوضعی جریان دتاسو له خولی واورم ؟
ځواب : داطبیعی وه چی دخوست تر فتحی وروسته باید پرگردیز عملیات پیل شوی وای ځکه ددی سره سره نه داچی دپکتیا اوپکتیکا سیمه ازادیږی بلکی پر کابل لوگر اوغزنی باندی دعملیاتو مخه خلاصیږی ، دمزدور رژیم لومړی ځاله خوست ،دوهم گردیز اودریم کابل دی ، په خوست کی دسیمی زیاته قوی ملیشه پرته وه ، ښه پوځ یی درلود همدا تبلیغات یی هم کول چی خوست څوك نشي نیولی ، هغه وخت روسیه کی هم دومره گډوډی نه وی نجیب هم تر یوه حده مطمین ؤ خو خوست فتحه شو ، اواوس چی روسیه هم له ستونزو سره مخامخ ده دنجیب مشکلات هم زیات دي ځکه نودگردیز دفتحی په رابطه زیات امیدواریم ، دخوست په نسبت گردیز یو امتیازلری ، خوست ته د۱۲ کلونو په موده کی دوه ځلی قوه ترزیاتو تلفاتو وروسته رسیدلی وه خودگردیز لاره خلاصه ده ، خوددی ټولو سره سره موږ دپرمختگ په حال کی یوو .
داخو نظامی اړخ شو ، په سیاسی برخه کی غرب داسی تبلیغات کوی چی پرگردیز عملیات دسیاسی حل دپروسی پر ضد په لاره اچول شوی ، خودا له حقیقت نخخه لری خبره ده جنگ موږ شروع کړی اودجنگ له اصلی نتیجی به هغه څوك خبر وی چی جنگ یی په لاره اچولی ، دازموږ کاردی اودهغه چاپه لاس کی

نه دی چی دسیاسی حل چغی وهی دجنگ سوق او اداره زموږ په واك کی ، ستراتیژی یی موږ وضعه کړی اوپه حکمت یی هم موږ ښه خبر یو
دخوست اونورو جنگونو ستراتیژی چی دقوماندانانو شورا جوړه کړی دهغی هدف دادی چی دروسانو ترتیبښتی وروسته دهغوی بقایا له مینځه لاړه شی ، اوس که گردیز ختم شی دنجیب رژیم ختم دی ، ځنی هیوادونه لکه ، امریکا ، ایران ، سعودی عربستان ، پاکستان اوملگری ملتونه چی دا ظاهروی چی دپنځه فقره ایز پلان له لاری سوله اوپراخ بنسټیز حکومت غواړی او په خوږو الفاظو دامن اوسولی خبری کوی ، ددوی الفاظ سم دي خو په خپل ځای کی نه دي اونتیجه هم نشی ورکولی :ځکه امن اوسوله په دوو شیانو مینځ ته راتلی شی هغه داچی دکوم رژیم سره چی دولس کاله جگړه شوی له هرڅه بی برخی شی ، اومجرم وپیژندل شی اوهغه خلك چی ورسره قوت شته اوترننه دروس اونجیب مقابلی ته دریدلی باید ددوی هدف اوارمان تحقق پیداکړی ځکه لدی پرته جنگ نشی بندیدی او سوله اوامن نشی راتلی .
پوښتنه : په ۱۹۸۸ کال کی چی مجاهدینو کندز ونیوه مزدور رژیم تول ښار تخریب کړ ایا گردیز به داسی نکړی ؟
ځواب : داخودنجیب دمزدور رژیم اوروسانو خبره ده ، هغه په دی ۱۳ کالو کی کلی له خاورو سره خاوری کړل خوموږ بیاهم عفوه ورته اعلان کړی اوویلی مودی چی دبی وزلو خلکو وینی مه تویوی .
پوښتنه : تراوسه څومره کډی راوتلی؟
ځواب : موږ دکډو دراوتلو په خاطر ترتیبات نیولی خودښمن له هغوی څخه دسپر استفاده کوی ، تراوسه به پنځوس ،شپیته کډی راوتلی وی ،موږ ورته دراتگ لپاره موټر اوتول وسایل برابر کړی.
پوښتنه : څومره خلك په گردیز کی میشته دي ؟
ځواب : دخوست دوه چنده یعنی ۲۰ الی ۲۵ زرو په اندازه .
پوښتنه : ویل کیږی دخوست په فتحه کی څه گډوډی وی ایا دگردیز لپاره تاسو څه امنیتی تدابیر نیولی ؟
ځواب : اصلی خبره داده چی خوست بهرنیو خبریالانو ترفتحی وروسته ولید په داسی حال کی چی پر خوست ۱۲ کاله جگړه شوی دهمدی جگړی په نتیجه کی ړنگ شوی ، اوهم دگلم جم ملیشو خوست لوټ کړی دی .
پوښتنه : موږ ولیدل چی دگردیز په

شاااوخواکی یواځی ستاسی مجاهدین دي دنورو گوندونو مجاهدین هم شته کنه ؟
ځواب : دنورو تنظیمونو مجاهدین هم شته خوزموږ مجاهدین په عسکری اوپوځی لحاظ ډیر منسجم دي موږ پنځه غونډونه لرو او جبهات مو هم په پوځی اصولو عمل کوی ، موږ دتعرض ،دفاع ، مخابری ، لوژستیك ، غنیمت ، امنیت اوحتی داسیرانو لپاره منظم تولی جوړکړی اودهغوی لپاره بیل قوتونه لرو اوساتنه یی کوو .
پوښتنه : که مهمات درباندی بند شی بله چاره موسنجولی که څنگه ؟
ځواب: موږ چی جهاد پیل کاوه له چاسره مودوسلو قراردادنه درلود ، موږ بیا هم خپل جهاد پر مخ بیایو ، همدا بله ورځ مو دومره وسلی له دښمن څخه په غنیمت نیولی چی اندازه یی نکیږی یواځی مودتوپونو خولی ددښمن پرلور وگرځولی نور هر څه فعال ؤ.
پوښتنه : په گردیز کی دمجاهدینو تلفات څومره دی ؟
ځواب : تلفات ډیر کم دي .
پوښتنه : په خوست کی نیول شوی جنرالان له تاسوسره همکاری کوی ؟
ځواب : هو ! هغوی ښه همکاری کوی ، خپلو ملگرو ته خطونه لیږی او دامن اطمینان ورکوی .
پوښتنه : ستاسی له خبرو داپوښتنه پیدا کیږی چی دقوماندانانو شورا اوتاسی دملگرو ملتو پنځه فقره ایزپلان نه منی ؟
ځواب : دادواړه اعزازی اوتشریفاتی پیشنهادونه دی او دنجیب حکومت په گټه دي اوغواړی داسی حکومت جوړ کړی چی مجاهدین اونجیب پکی برخه واخلی .

پوښتنه : دوه اونۍ مخکې په کابل
کې وم ماپه خپلو سترګوولیدل چې
دروس اوامریکا تر معاهدې وروسته
ښه وسله له روس نه ورته راروانه وه ؟
ځواب :زموږ فکر دادی چې اوس
خوبی الوتکې راوړی دروسانو په
وخت کې روسی پوځ هم ؤ اوپه
کاروانونو وسلې راوړی چې هغه وخت
مو جنګ وګاټه اوس یې دګټلو په
لاری کی اندیښنه نلرو .
پو ښتنه : ستاسی په نظر دروسیی
تر ناکامی کودتا وروسته نجیب څومره
کمزوری شوی ؟
ځواب : ترکودتا دمخه هم دروسیی
حالات خراب و داسی ښکاریده چې
دنجیب پالنه او اکمالات پردوی بوج
دی ، ځکه دوی پخپله اقتصادی
مشکل درلود ، ترکودتا وروسته
دکمونیزم بتان مات شول اوکمونیزم
غیر رسمی اعلان شو اوس په داسی
حال کی دنجیب دپالنی معنی څه داده
چی هلته یی غندی دلته یی پالی
نجیب اوس پوه شوی چی روسان یی
په نیمه لار کی پریږدی .
او س امریکا دسیاسی حل چغی وهی
داپه دی خاطر چی هغه ته داوړو پوزه
جوړه کړی نور هیڅ نشته .
پوښتنه : دقوماندانانو شورا له لاری
دمجاهدینو دیووالی پروسه څنګه
شوه؟
ځواب : زموږ ترمنځ اتحاد شته هیله
ده زر دریمه شورا جوړه شی .
خو اوس قوماندانان پخپلو سیمو کی
عملیاتوباندی اخته دی ، اوکه دوی
دلته راتلل وخت یی زیات نیو ه ، په
دی خاطر ددریمی شورا کار لږ
ځنډیدلی دی ددریمی شورا په
جوړیدو به دشورا له خوا نوی
تاکتیکونه اودحل یو نوی فورمول
اعلان شی ، موږ له ټولو قوماندانانو
سره د بیسیم په واسطه ارتباط لرو ،
اواوس چی دجنګ له لاری دمزدور
رژیم سقوط دتحقق په حال کی دی
ځکه دشورا موفقیت اوستراتیژی
دعملی کولو چانس نور هم زیات
شوی
پوښتنه : دوسلی په برخه کی څه
مشکلات لری ؟
ځواب :یو خو ددښمن له جګی
فاصلی بمبارد دی ، ، که څه هم چی
موثر نه دی خوبی بیا هم بمبارد کوی
، مینونه هم شیندی او ګرنټی بمونه هم
استعمالوی له موږ سره هم دومره
وسله نشته چی دجنګ دوام ته کفایت
وکړی همدا پرون هم ماپه میرانشاه
کی مهمات په بیه واخستل .
پوښتنه : دنجیب تر نسکوریدو
وروسته باید په افغانستان کی څه
ډول نظام راشی ؟
ځواب : یواځی اسلامی نظام ،
خوهلته کولی شو دتخریبی
فعالیتونو ، کورنی جګړو اوپردیو
لاسونه لنډ شی چی
دحکومت په سرکی جهادی قوتونه
اوقوماندانان راشی ځکه همدوی امن
ټینګولی شی اوملت هم له دوی پرته
دچا اطاعت نه کوی .
پوښتنه : که جنګ ختم شو ، نجیب
رانسکورشو دافغانستان په بیا
ابادولو کی به څه رول ولوبوی ؟
ځواب : موږ اوس دجنګ په حالت
کی هم دهیواد دابادی پروګرام پیل
کړی ، دسرك دجوړولو کار روان دی ،
نوی لاری جوړی شوی روغتونونه
ښونځی جوماتونه او بازارونه مو جوړ
کړل دپلونو جوړولو پرو ګرام تر لاس
لاندی دی ، موږ داټول کارونه په
خپل مصرف پیل کړی ، موږ له دی
لپاره جګړه نه کوو چی هیواد ړنګ
شی موږ هم دښمن ته وایو چی
ښارباید دجنګ ډګر نشی ، تعمیرات
وران نشی له موږ سره باید
دښمن دجنګ ډګر اوساحه کی
مقابله وکړی.

دمنبع الجهاد
البم

دخوست فاتح ته

ستادتوری اومیړانی اواز خپورشوټول جهان کی
ستاجهاد ته ملائکی سلامی شوی په اسمان کی
داسلام دوحدت سیل چی په خوســـت راغی
وطنی کمونستان ډوب شول یو تربله دی توپان کی
چی دستادتوری شرنگ یی تر غوږوشو
ډیر په بیړه دی تسلیم کړل جنرالان دخوست میدان کی
دکمون طلسم دی مات کړیه رښتیا چی قهرمان یی
ان مسکو کی واویلاشوه ټول دښمن شول په لړزان کی
داسلام بیرغ دجگ کړدمتون په چوټی باندی
په خوست سپینه رڼا خوره شوه مخکښی وو په تورزندان کی
داسلام ښکلی عالم یی دجهاد تکړه معلم یی
ژوند دوقف کړملت ته ډیر پیاوړی یی ایمان کی
تادویاړ شمله کړه جگه زموږ ټولو افغانانو
د اسلام تاریخ به ویاړی ستاپه توره هر زمان کی
دخوست فتحه ستا دټولو فتحو زیری
دابنسټ دازادی دی زموږ گران افغانستان کی
خدایه (ج) ټول افغانستان کی اسلامی نظام قائم کړی
زموږ ټول مسلمانان دی پدی هیله اوارمان کی
دغه لویه هیله زموږ خدایه (ج) پوره کړی
زموږ دعمرخواری خدای (ج) مه کړه تاوان کی
په پردیو وطنو کی هدیری شوی له موږ جوړی
اي مشرانو خپل سرونه موکړی ټیټ په خپل گریوان کی
مسافر یږشوی منگله مسافرو به څه وس وی
دعاگوی د«حقانی» یم خدای (ج) دوساتی امان کی



د توري او میړاني خپلوونکی مجاهد خلیل الرّحمٰن

پر گردیز عملیات

د جهادي حرکت د پرمختګ یو طبیعي ضرورت

دګردیز دعملیاتو رپوټ :

لیکونکي: شهرت ننګیال

دځوست دستری اوتاریخی فتحی په دریمه ورځ دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دبی ، بی ، سی خبریال دیوی پوښتنی په ځواب کې وویل :

مجاهدین به دخوست له فتحی وروسته مخ په وړاندی ځی ، په لومړی سرکی به پرګردیز دعملیاتو پلان تطبیق کیږی اوبیا به پر غزنی اوقلات هم دعملیاتو دپیل کیدو نقشه عملی کوی ځکه دخوست له فتحی وروسته پر ګردیزعملیات دجهاد دبشپړ بری اوپرمختګ یو طبیعی ضرورت دی له هماغی ورځی دخوست دفاتح په هدایت مجاهدینو دستی کنهو په استقامت پرمختګ پیل کړ ، دشهید سلیمانشاه زرهدارغونډ چی دخوست په فتحه اومجاهدینو په نورو فتوحاتو کی یی زغروالو ځواکونو فاتحانه اوټاکونکی نقش تر سره کړی ؤ خپل سوقیات دستی کنهو په استقامت پیل کړل ،اوخپلی قواوی یی په ستی کنهو اوهغی ته نژدی سوق الجیشی نقاطو کې ځای په ځای کړی.

له هماغه نقاطو نه زغروالو ځواکونو دخپل پرمختګ لپاره دسوق الجیشی اواکمالاتی لارواوسنګرونو جوړونه اودتعرضی حملو دپلی کولو لپاره مناسب ځایونه وټاکل اوله جنوبی استقامت نه دتعرض لپاره چمتو شول .

دسلمان فارسی (رض) غونډ هم خپلی قواوی اوپوځی قوتونه دګردیز په لور سوق کړل دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ ځواکونو دزرمت له استقامت نه پر ګردیز دحملی لپاره سوقیات وکړل. دحضرت بلال غونډ مجاهدینو هم پدغه استقامت کی خپلی قواوی ځای پر ځای کړی .

دابوجندل(رض) غونډ هم دشرق له استقامت نه دبرید لپاره دګردیز په لورپرمختګ پیل کړ.

همدارنګه دحقانی صاحب نوروازانو جبهاتو هم خپل مرکزونه او ځواکونه دګردیز په لور سوق کړل پدی کې دقوماندان مولوی حنیف شاه ، قوماندان حاجی محمداسمعیل ، قوماندان مولوی بختر جان ، حاجی عبدالرحمن ، غنمکی ، الحاج شرین جمال ، اودنورو قوماندانانومجاهدینو خپل مرکزونه دجنوب له استقامت نه په بیلابیلوستراتیژیکو نقطو کی ټینګ اودجګړی لومړنی خط تشکیل کړی شواوپه دې ډول دیوی ستری یومخیزه اوبریالی حملی لپاره دلازمو ترتیباتو اوچمتوالی پروسی چټکتیا پیداکړه .

له همدی ځایه وه چی دحقانی صاحب له خوا په پکتیا اوپکتیکا کی دټولو جهادی قوتونو دتوحید اودحملی لپاره دمغوی جهادی ځواکونو ته دواحدی ستراتیژی دټاکلو په غرض دسلامشوروالړی پیل شوه چی له یولړ هلوځلو وروسته دسیمی دټولو قوماندانانو په ګډون دوروستی پریکړی لپاره زمینه مساعده شوه.

دمتعددو ناستو په پای کی چی دتفاهم اواعتماد په فضا کی یی بنه نیوله دټولو جهادی قوتونو دقوماندانانو وروستی شورا دوری میاشتی په ۱٦ نیټه دژوره دحضرت عمر فاروق (رض) په جهادی غونډ کی جوړه شوه ،اودپکتیا اوپکتیکا ټولو جهادی ځواکونو پر ګردیز دستری اویومخیزه حملی پریکړه اعلان کړه.

پر ګردیز دحملی سوقیاتواوایجاباتو هم لکه دخوست فاتحانه برید دقوماندانانو دسرتاسری شورا دواحدی جنګی ستراتیژی په رڼا کی په عملی ډګر کی دپلی کیدو لپاره خپل مقدماتی پړاوونه یوپه بل پسی ووهل .

ددغه ډول یوی ستری اویو مخیزی حملی لپاره دامکاناتو اووسایلو دنشتوالی دستونزی سره سره دجهادی ځواکونو دسوقیاتو عملیی اوپه حساسو اوستراتیژیکو نقطو کی دهغی ځای په ځای کول اواکمالاتی لارو تدارک اودی ته ورته کارونو ترسره کول طبعاً دوخت

اوفرصت غوښتنه کوله ، له همدې ځایه وه چې دمجاهدینو دغونډونو، قرارګاوو ، مرکزونو ، جبهو اونورو پوځي تاسیساتو انتقال اوچمتو کول اودې ته ورته نورو چارو دمجاهدینو له لاسه تريوه حده دحملې لپاره دمساعد وخت اوموسم فرصت ویوست -بنایي ووایو چې دحملې دځنډيدو بل علت هم دقوماندانانو په پريکړوکې دتنظيمونو لاسوهنه او د تنظيمي رقابت ربړې وې چې غوښتل يې پدغه جګړه کې دتنظيمي تفوق نفوذ ته مخه پرانستل شي ...

دقوماندانانو شورا قصد درلود چې دوى له خوا ترجوړشوي پلان اوپروګرام لاندې چې توانیدلی وو پدې رابطه يوه جامع مؤثره اومتحده جنګي ستراتيژي رامنځته کړي عمليات پيل شي خو تنظيمونو ديو لړ لاسوهنو له مخې غوښتل چې داپروسه په ګوندي کچو او چوکاټونو راوګرځوي چې دغه جريان په جګړه کې دتفوق غوښتنې کشاله رامنځته کوله اوطبعاً دغه معاملې دحملې اوعملياتو له موفقيت سره ټکر درلود چې لدې جريان سره مبارزې هم څه وخت غوښت او دحملې ديوڅه تاخير سبب وګرځيد .

لکه مخکې مو چې اشاره وکړه دګرديز دحملې پلان هم لکه دخوست دجګړې دقوماندانانو دشورا له خوا دالحاج مولوي جلال الدين حقاني ترقيادت لاندې جوړشو خوله بده بخته دتنظيمونو مداخلې دغه پلان دځنډ له ضربې سره مخامخ کړ. خودې ټولو ستونزو او لاسوهنو سره سره الحاج مولوي جلال الدين حقاني دخپل اسلامي بصيرت اوفراست اوجنګي تجربو اوستراتيژۍ له برکته وتوانيد چې ترپيره جهادي ځواکونه دحملې لپاره لوضعه شوي ستراتيژۍ په رڼاکې راغونډاو دحملې لپاره اماده کړي .

له حملې مخکې الحاج مولوي جلال الدين حقاني په ستي کنډو او زرمت کې عملياتي احضارات معاينه کړل ، دمجاهدينو سنګرونه يې وکتل ، له تعرضي استقامتونو څخه يې ليدنه وکړه او وروسته لدې چې قوماندانانو ته يې خپلو تعهداتو او مسووليتونو ته متوجه اولازم هدايات يې ورکړل دميزان په ۷ نيټه بيرته دستي کنډو استقامت ته راستون شو .

دجګړې پيل :

دميزان په ۷ نيټه ماښام په ستي کنډو کې دشهيد سليمانشاه په زغروال غونډ کې الحاج حقاني چې په همدغه ورځ دزرمت له استقامته څخه دمجاهدينو داحضاراتو له معاينې وروسته راستون شوی ؤ له خپلو قوماندانانو سره په سلامشورو بوخت ؤ ، اوله هريوه قوماندان سره له لنډو خبرو وروسته يې هغه ته دعملياتو دپيل په رابطه لازم هدايات ورکول.(۱)

دميزان په ۸ نيټه دسهار په پنځو بجو اوپنځلس دقيقو دابو جندل «رض» غونډ مجاهدينو دجهادوال غونډ په ملتيا په شرقي استقامت له سروټي څخه دليوس په لور تعرض پيل کړ .

دقوماندې په عمومي مركز كې الحاج مولوي جلال الدين حقاني په دغه استقامت له ټولو محاذونو سره مخابروي ارتباط درلود ، مخابروي ارتباط دځانګړو شفرونو له لارې ټينګيده ، له غرمې مخکې په لس نيمو بجو په مخابره کې د زاوه اوميلان په سيمه کې ددښمن دپوستو دفتحې خبر راورسيد پدې پسې دنجيب کلا او شلګا پوستو دفتحې خبر هم راورسيد . مجاهدينو په ډيره چټکتيا دپرمختګ په حال کې وو ، له غرمې وروسته حقاني صاحب ته دښمن دتعرض خبر ورکړشو حقاني صاحب په ډير ارامنه لهجه اوغوڅو ټکوکې هغوی ته وويل :

موږ به دير ژر كومكي قواوى درولیږو ، تاسي خپل مقاومت ته دوام ورکړئ .

لږ وروسته بيا له هغه استقامت څخه مخابروي چينل فعال شو ، قوماندان وويل : موږ له دښمن څخه څلور ټانکونه نيولي ټانکستانونه ضرورت دی ، له موږ سره ټانکستان نشته ، حقاني صاحب ورته وويل : ډير ژر به ټانکستان درورسيږي تاسي بيغمه اوسئ ...

په دې وخت کې له زياترو محاذونو سره مخابروي ارتباط جريان درلود ، رژيم هم کله ناکله مداخله کوله ، يووخت چې درژيم له خوا څه خبره وشوه خوموږ وانه وريده ، حقاني صاحب ورته وويل : ته لږ صبر وکړه بيا به موږ خپله پرکونسي درسره برابره کړو . . .

په دغه وخت کې مخابروي چينلونه ښه فعال وو ، حقاني صاحب په دريو څلورو مخابروکې له خپلو محاذونو سره په تماس کې ؤ اوپه همدغه يووخت به يې دهر محاذ قوماندان ته لازم هدايات ورکول اودحالاتو په رابطه به يې پوښتنې کولې ، تر يوې نيمې بجې پورې مجاهدينو تر زرګر کلا پورې فاتحانه پرمختګ کړی وو .

تر دوو بجو پورې مجاهدينو دميلن او شيخانو پوستې فتحه کړې وې .

پدې وخت کې ددښمن دټانکونو دنقل او حرکت خبرورکړی شو ، حقاني صاحب توپچي ته دانداخت دچټکتيا او پراختيا قومانده ورکړه چې دابو جندل (رض) غونډ دمجاهدينو فاتحانه پر مختګ سبوتاژ نکړي ، دحقاني صاحب له خوا يو ځل بيا توپچي ځواکونو ته قومانده ورکړی شوه چې په بلده «بالاده» انداخت ګړندي کړي ، ترڅو دتعرض په نيت



(۱) دمجاهدينومقدماتي حمله دتوپچي انداخت دسنبلي مياشتي په ۲۷ نيټه پيل شوي وه.

حقاني صاحب محاذونو ته دمخابرې له لارې هدایات ورکول ، مغه په خپل ځای کې داسې مطمین ناست ؤ لکه چې هیڅ هم نه وي شوي او همداسې یې مخابروي ارتباط جاري ساته .
پدې وخت کې حقاني صاحب یوه لحظه هم له مخابراتي ارتباط ځخه نه ؤ خلاص ، که به له یوه محاذ سره دیوې مخابرې له لارې دمغوی خبرې ختمې شوې دبل محاذ دقوماندان غږ به واوریدل شو او دغه ورځ مخابراتي ارتباط دتسلسل لړۍ بنه په خوند کې چلیدله ، ځلور پنځه مخابرې فعالې وې زیاتره وخت به حقاني صاحب دوومخابروله لارې دوومحاذونو ته هدایات اولارښوونې کولې .
دزرمت په استقامت هم مجاهدین خپلو سنګرونو ته رسیدلي وو اوپه ۲ بجو په مغه استقامت کې هم تعرض پیل کیدونکی ؤ دابو جندل (رض) غونډ له خوا په مخابروي ارتباط کې ځرګنده شوه چې ددوی مجاهدین په فتحه شویو سیمو کې ددښمن ترسختې ګوله باری لاندې دي ، دحقاني صاحب له خوا یوځل بیا توپچي قوتونو ته په بلده دډزودشدت قومانده ورکړې شوه چې پخپل ټول قوت بلده ترانداخت لاندې ونیسي .
په لوو بجو اوشلو دقیقو دښمن دوو هم ځل لپاره دګلاستر (کرنټي بمونو) سخته بمباري وکړه ، دادمجاهدینو په اکمالاتي لارو اومرکزونو باندې ډیره سخته اودرنده بمباري وه .
حقاني صاحب په لوربین کې ټوله سیمه له نظره تیره کړه ویې ویل :ددښمن ټانکونه دفعالیت په حال کې دي اوغواړي دخوزې له دښمن دراوتلو ټانکونو دفعالیت مخه ونیول شي .
پر ګردیز او دمغې پرشاوخوا پوستو باندې دمجاهدینو ددرنو وسلو مسلسل انداخت روان ؤ .
دحاجي خلیل الرحمن زغروال ځواکونه دکومکي قوت په توګه پردښمن دبرید په لیکه په محاربوي فعالیتونو بوخت وو .
ددښمن هوایي قوتونو ساعت په ساعت دمجاهدینود حمل اونقل په لارو بمباري کوله اودرنو وسلو انداخت یې هم جریان درلود .
دښمن دبلدې له طرفه تعرض پیل کړی ؤ ، دحقاني صاحب له خوا په نوموړې نقطه توپچي ته دانداخت دشدت قومانده ورکړې شوه پدې وخت کې دمجاهدینو اودښمن دتوپچي قوتونو ډیر سخت جنګ جریان درلود ، درې بجې دتیرې په کنډوکي ددښمن دځو پوستو دفتحې خبر راورسید ، خو ددښمن له خوا مخابره اخلال شوه اوتفصیلي خبروانه وریدل شو- دحقاني صاحب له خوا (٥١) ته دانداخت قومانده ورکړې شوه مخابروي ارتباطات له مشکلاتو سره مخامخ شول ، حقاني صاحب په ډیر تکلیف له محاذونو سره مخابروي ارتباط ونیولی شو ، داوخت د (ون ، ون سون) مخابرې له لارې دارتباط دټینګیدو کوشش وشو اوپه مغې کې له ځلورم نمبر سره دارتباط امرور کړی شو .
دقوماندې مرکز ددښمن تردرنو هوایي اوځمکنیو بریدونو لاندې ؤ .
دماسپښین په دوویجو دقوماندې له مرکز سره ددښمن د (بي،ام،٤١)ځو ګولۍ ولګیدې ،

سره انداخت پیل کړې پدې وخت کې یوځل بیا دمجاهدینو اکمالاتي لارې ، مرکزونه اوسنګرونه ترسختې بمبارۍ لاندې ونیول شول .
دحقاني صاحب له خوا دمجاهدینو له تعرضي ګروپونو سره مخابراتي تماس ونیول شو ، دمجاهدینو له خوا دخیرت راپور ورکړل شو ، په ریښتیا کې زیاته شوه چې دښمن دتعرض په حال کې دی غواړي دفتحه شویو پوستو په لور حرکت وکړي خومجاهدین په ډیره میړانه مقاومت کوي اوددښمن دهر تعرض دپه شاه تمبولو توان ورسره دی .
پدې وخت کې دټانک له پوستو ځخه چه لانه وي فتحه شوې دمجاهدینو په اکمالاتي لارو ډزې کیدلې ، له غرمې وروسته په (۳) بجو دزرمت له استقامت ځخه هم دمجاهدینو دحملې خبر راورسید ، نږدې نیم ساعت وروسته چې له ټولو محاذونو سره دحقاني صاحب ارتباط پای ته ورسید اوهر محاذ ته یې په سړه سینه اوارامنه لهجه لازم هدایات ورکړل په ډیره ارامۍ دقوماندې مرکزکې ددښمن دلګیدلو ګولیو پوښتنه وکړه ، حقاني صاحب دنوموړو ګولیو په رابطه توضیحات ورکړل اودمغې تجزیه یې وړاندې کړه .
حقاني صاحب یوځل بیاپه لوربین کې دجګړې ټوله سیمه وڅارله ویې ویل : دښمن دزیارت او غوګیرې دسرله پوستو ځخه ترصد کوي او نورو پوستو ته دهدف معلومات ورکوي.
یوځل بیا مخابراتي چینلونه فعال شول اوحقاني صاحب له ګڼو محاذونو سره ارتباط ونیو دمغوی دحال احوال پوښتنه یې وکړه اولازم هدایات یې ورکړل .
حقاني صاحب له حاجي خلیل الرحمن سره ارتباط ټینګ کړ مغه چې دخپلو زغروالو ځواکونو سوقیات یې اداره کول اوددښمن دسختو هوایي اوځمکنیو حملو په لمبو کې یې د پرمختګ پړاوونه وهل له خبرویې دیوه یاغي شهامت ، یوه سرکش انتقام او یوپیټ لوټ ګړاحساس له ورایه معلومیده- داوربل قوماندې ورکړې شوه چې دتیرې بنې استقامت ته ددښمن داوراګان دستګاه په موضع ګانو انداخت پیل کړي اومغه استقامت تر اور لاندې ونیسي .
دابوجندل (رض) غونډ ته حقاني صاحب

اطمینان ورکړ چې ټانکستان به ډیر ژر د روسیږي خوځوي وویل: دښمن موږ تر ډیر سخت انداخت لاندې نیولي یو ، تاسې توپچي ته هدایت ورکړئ چې خپل انداخت شدید کړي حقانی صاحب بیاهم دتوپچي بیلا بیلو قوتونو ته دبلدی په استقامت دانداخت دچټکتیا هدایت ورکړ ، تردې وخته دابو جندل(رض) غونډ دقوتونو پرمختګ ډیر چټک و.

حقاني صاحب توپچي قوتونو ته دانداخت دمنظمولو تاکید وکړ چې دبلدی په پاګ کې ددښمن ټانکونه ترسخت اورلاندې ونیسي .

پریوه بجه اوڅلویښت دقیقې ددښمن دوه سکډ توغندي دقوماندي مرکز څیرمه ولګیدل خودخدای (ج) په فضل مجاهدینو ته هیڅ ډول زیان ونه رسید .

پوره دوې بجې یو ځل بیا مخابروي ارتباطات فعال شول، دحاجي خلیل الرحمن له خوا حقاني صاحب ته دخپل پر مختګ او پلان په اړه اطمینان اولنډ توضیحات ورکړه شول حقاني صاحب هم لازم هدایات ورکړل .

حقاني صاحب دماسپښین دلمانځه اذان پخپله وکړ .اوپه سنګر کې په جمع سره دلمانځه لپاره ترتیبات ونیول شول

په دوویجو اوشلو دقیقو دښمن یو ځل بیا دګرنټي بمونو سخته بمباري وکړه.

حقاني صاحب یوځل بیا دجګړې سیمه معاینه کړه وېې ویل: دخلیل دوه ټانکونه دپرمختګ په حال کې دي غواړي دخوزی له سیمې دښمن تر اورلاندې ونیسي .

پدې وخت کې دحقاني صاحب مخابره له دښمن سره رخ شوه اوپوې لنډې او جالبې مکالمې بڼه ونیوله.

په درې نیمو بجو دښمن بیا دتعرض هڅه وکړه اوانداخت یې هم شدت وموند خومجاهدینو په فتحه شویو سیمواو پوستو کې دخپل میړني مقاومت له امله په شاو تمباوه

یوه شیبه دجګړې په لومړي خط کې:

دمیزان په ۹ نیټه له غرمې مخکې موږ له ستي کنډو څخه دقوماندان حاجي محمد اسمعیل په ملتیا دجګړې دلومړنیو لیکو په لور وخوځیدو ، پدغه ورځ دټانک پر پوستو مجاهدینو دعملیاتو پروګرام درلود ، دغه وخت دجګړې لومړني خط له غلګي نه وړاندې ددرې په امتداد کې ؤ اودټانک او مکتب پوستو دمجاهدینو دعملیاتو ساحه تشکیلوله ، څومره به چې مجاهدینو فتوحات اوپرمختګ کاوه دجګړې خط هم په مخکنیو برخو کې ټینګیده.

دجګړې دلومړي خط پرخوا لارله ستي کنډو لاندې په یوه خوړکې وه چورځي له خوا دسلمان فارسي(رض) غونډ دیوې قرارګاه تر څلنځي پورې دموټرو دتلو امکانات ؤله هغې وړاندې باید پلې مزل شوی وای – مجاهدینو دشپې له خوا دمهماتو رسولو چارې سرته رسولې اوپه ځینو برخوکې یې دوهډوړو کراچیو په واسطه په ډیرو تکلیف سره مهمات انتقالول .

دلارې په اوږدو کې په ځینو ځایونو کې چې دټانک پوستې ترترصد لاندې وو دمجاهدینو له خوا جړونه کینستل شوي وو پدې ډول مجاهدینو له ډیرو مشکلاتو سره خپل مهمات مرکزونو ته رسول اودجګړې دلومړنی خط اکمالات یې کول .

زموږ منزل ددرې په امتداد دغلګي په سیمه کې دټانک دپوستو په لور دحاجي محمد اسمعیل مرکز ؤ چې دجنګ لومړني خط ته څیرمه واقع ؤ، زموږلار له یوه ځنګل څخه تیره شوې وه چې ونې یې له یوې مخې ددښمن ددرنو وسلو دمسلسلو ډزو له امله چپه شوي وې اوداسې ونه نه لیدل کیده چې دهغې څانګې ددښمن ګولیونه وې توږلی ، زیاتره ونې په منځ کې ګولیو غوڅې کړې اوپر ځمکه پرتې وې .

زموږ په مخه کې قوماندان الحاج محمد اسمعیل په درنواوپخو قدمونو دمنزل په لور لاره لنډوله ، قوماندان محمد اسمعیل په ډیرو حملو کې دخپل شهامت اومیړانې له مخې فاتحانه رول لوبولی اوپه زیاترو تعرضي حملو کې یې په لومړني کتار کې برخه اخیستې ده چې څوځله سخت ټپي شوی هم دی.

قوماندان اسمعیل زموږ په مخه کې داسې معلومیده لکه دعظمتونو یو پولادین غرچې په حرکت راغلی وي ، دهغه درنو اوپخو قدمو دهغه دپولادي ارادې او نه ماتیدونکي حوصلې نماینده ګې کوله ، دهدف په لور دهغه ګړندي یون دهغه په زړه کې داسلام اوجهاد دسپیڅلي جذبې عکاسي کوله، داسې معلومیده لکه چې دهغه په څیرو او عقابي سترګو کې دخپل ولس دسربښندنې اوقهرماني سرې سپرغۍ ددښمن په څونه داور بلولو په تلوسه سکروټینی شغلی شندی ، قوماندان اسمعیل دلارې په اوږدو کې موږ ته دسیمې اودښمن دوضعیت په هکله په زړه پورې معلومات راکول.

دقوماندان اسمعیل مرکز چې دحقاني صاحب دازادو جبهو دمجاهدینو دتعرضي ګروپونو دغونډیو او اکمال لپاره ټاکل شوی ؤ دجبهې لومړني خط ته ډیر نږدې پروت ؤ دلته دمولوي حنیف شاه ، الحاج شرین جمال ، حاجي اسمعیل ، مولوي بختر جان ، حاجي عبدالرحمن ، غنمکی، طالبانو ګروپ اوحاجي ګلاب کوچي مجاهدین دتعرض لپاره په لړاو زیات شمیر وتهاکل شول ، له دوی سره قوماندان حاجي علی ګل ، قوماندان صابر جان اوله زغروالو ځواکونو څخه حاجي ظفرهم برخه لرله .

دسلمان فارسي (رض)غونډ مجاهدین دغونډ درئیس ارکان قوماندان ډاکتر نصرت الله ترمشرۍ لاندې لا ورهمبې دخپلې ځانګړې ستراتیژۍ له مخې په منظمو لیکو کې دتعرض لپاره خپل سوقیات بشپړ کړي ؤ .

ددغه تعرض قوماندان دسلمان فارسي (رض)غونډ رئیس ارکان ډاکتر نصرت الله اودپلان امر جګړن فهیم میدانوال ؤ.

لکه مخکې موچې وویل دمجاهدینو دغه . تعرض دټانک پر پوستو ؤ چې دغلګي په پای کې یې دیوې نسبتاً لوړې غونډۍ دپاسه موقعیت درلود ، دمجاهدینو دوهم هدف درې دمکتب اوکلي پوستو تشکیلاوه .

دغلګي په خوړ کې مخکې له مخکې دسلمان فارسي(رض) دریمه اوڅلورمه پیاده قرارګا اومرکزونه ځای په ځای شوي وو.

دټانک پوستو پدغه استقامت دجګړې لومړني خط ته دمجاهدینو اکمالاتي لار ترحملو لاندې نیوله اودمجاهدینو دنقل او حرکت لپاره ډیر ستر خطر ګڼل کیده .

دمازدیګر په څلور بجو دازادو جبهاتو مجاهدینو دهدف په لوري لاحرکت نه وکړی چې ددښمن دټانکونو نقل او حرکت ولیدل شو په مقابل کې دحاجي خلیل الرحمن له زغروالو قواوو څخه دوه ټانکونو چې له مخکې دغې لیکې ته رسیدلي وو دتعرض لپاره حرکت وکړ.

پنځه بجې او پنځه څلویښت دقیقې دمجاهدینو تعرض پیل شو .

دتعرض له پیله مخکې مجاهدینو تر ډیره حده

دپوستوترمخې دښمن له خوا غوړول شوي
مينونه ايستلي وو، دمجاهدينوتعرضي پلې
ګروپونه دټانکونوترمخ دمحاربې په ليکه
ورګډشول، قوماندان حاجي محمد اسمعيل
دمجاهدينو د تعرضي پياده ګروپونو په سرکې
دټانک پرپوستو فاتحانه يرغل پيل کړ.

نژدې يو ساعت دلوارو خواوو دتوپچي اودرنو
وسلو سخته مقابله پيل شوه، ډيره سخته جګړه
ونښته ،له دواړو خواوو بې دريغه پرزوڅمکه
لړزوله ، ددرنو وسلو يوه ډيره خونړۍ معرکه
روانه وه، موږ دتلويزيون په سکرين دخليج
دجګړې ډيرې صحنې ليدلې وې خو اوس
موږسرپه سترګو ديوې داسې سختې او
خونړۍ جګړې ننداره کوله چې سختوالي
اوشدت يې زموږ له ذهن نه دخليج دجګړې
ټولې صحنې اومظاهرايسته کړل .

مجاهدين له ډير کوز موقعيت څخه دټانک
پوستو پر استقامت دختلو په حال کې وو،له
پاسه پرې له نوموړو پوستو ددرنو وسلو
مسلسل باړونه چليدل ، له ګرديز څخه
اوراګانو،اوبوس توپونو سکډ توغنديو، بې ام
٤١ اونورو وسلو ډير سخت انداخت روان ؤ،
الوتکو په پرله پسې توګه دګرنټي او پراشوټي
بمونو سخته بمباري کوله او،مجاهدينو
اکمالاتي اوپرمختګ لارې يې تر سختې ګوله
باري اوبمباري لاندې نيولې وې .

قوماندان حاجي اسمعيل دمجاهدينو
ديواځيني ټانک په مخه کې دښمن دګوليو
دپننو کار په سرو لمبو کې له خپلو تعرضي
ملګرو سره مخ په وړاندې دبرې لار لنهوله ،
دښمن دټانکونو اودمجاهدينو ديواځيني ټانک
تر منځ لږه شيبه ډيره سخته مقابله وشوه ،
ديوه ساعت شديدې جګړې په جريان کې
دټانک دواړه پوستې اوورپسې دمکتب پوسته
فتحه شوه .

مجاهدين چې څنګه پر پوسته وروختل
سملاسي يې ددښمن دنصيبې شوي شلکا
خوله پر دښمن وروارپوله ، دلږ ساعت لپاره
جګړه ارامه شوه ، خودغه نسبي ارامي
وروسته ددښمن داوراګانو باړونه بيا وچليدل
اوپر سيمه يې سره اورونه بل کړل ، ددښمن
دهمدغه وحشيانه ګوله باري په جريان کې
مجاهدينو له يوه لنډ توقف وروسته دازغني په
قرارګاه عمليات پيل کړل اودشپې په لومړيو
شيبو کې يې په دغه قرارګاه کې دخپلې فتحې
توغ پورته کړ، مجاهدينو پدغو فتوحاتو کې
دوه روغ ټانکونه ، يوه شلکا ، يوزيکويك اونوره
مختلف النوع سپکه اودرنده وسله په غنيمت
ونيوله اوددښمن زيات شمير افراد يې مړه او
ټپيان کړل .

پدغو جګړو کې له مجاهدينو څخه ٤ تنه
شهيدان او١٨ تنه ټپيان شول .

دميزان په لسمه نيټه دسهار په ٨ بجو
مجاهدينو دجماعت پوسته فتحه اوددښمن يو
ټانك ويجاړ کړې شو.

حقاني صاحب حاجي خليل ته دجماعت
پوستې دټينګولو تاکيد وکړ

له غرمې مخکې په لسو بجو دخوزې دسرلوې
پوستې فتحه شوي ددښمن هغه ټانك
دمجاهدينو دراکټ په ګزو ويجاړ کړې شو چې
د٨ تنو لوړ رتبه پوځي افسرانو مړي يې
ليږدول .

لدې سره حاجي خليل دبنوزيوپه قرارګاه
تعجيزي انداخت پيل کړ اودښمن يې تر سخت
اورلاندې ونيو .

په دغه وخت کې مجاهدينو پداسې استقامت
محاربوي فعاليتونه اجرا کول چې دخوست تر
پله پورې ددښمن مقاومت له منځه تللی ؤ په
لسو بجو اوپنځه څلويښت دقيقو ددښمن دوه
سکډ دستې کنهو په يوه برخه کې ولګيدل، په
دوونيمو بجو اوشلو دقيقو دوه نور سکډ هم
پدغه سيمه کې ولګيدل دغرمې په دولس نيمو
بجو دقوماندې دعمومي مرکز څيرمه سخته
بمباري وشوه ، پدغه وخت کې ددښمن توپچي
قواوو هم سخته ګوله باري پيل کړه دهمدغه
بمباري اوګوله باري په لوړو اولوګيوکې
حقاني صاحب دجګړې له بيلابيلو محاذونو
سره په مخابروي ارتباط مصروف ؤ اودراډيو
د(اف،ام) موج له لارې يې محاذونو ته
ددښمن دبمبارۍ اودهغې څخه دژغورنې په
رابطه هدايات ورکول.

له غرمې وروسته دخوزې دسرټولې پوستې
مجاهدينو فتحه کړې -دمجاهدينو دپرمختګ
لار پرانستل شوې وه په دوونيمو بجو له ګرديز
څخه دبنوزيو دحليم کلا خواته ددښمن ټانکونه
دفعاليت اوحرکت په حال کې وليدل شول ،
حقاني صاحب چې ددښمن دقواوو دنقل او
حرکت څارنه يې کوله دمجاهدينو توپچي
قوتونو ته پر هغوی دانداخت قومانده ورکړه
چې دمجاهدينو دشديد اوپه ځاي انداخت له
امله بيرته وتښتيدل .

دماسپښين ٣ بجې بل سکډ دستې کنهو په
يوه برخه کې ولګيده .

دمازديګر په ٤ بجو خليل الرحمن ددښمن
دقرارګاوو په لور دخپلو زرهي ځواکونو
دحملې خبر ورکړ.

د(٩٠) له خوا ددښمن پرقواوو ډير شديد
انداخت روان ؤ .

حاجي خليل په لږ تفصيل سره خپلو
قوماندانانو ته ددښمن دشکست کيسه کوله
اودراتلونکي تعرض لپاره يې دهغوی
دپرمختګ لار په ګوتو کوله او دفاصلې اوواټن
په رابطه يې معلومات ورکول ، دماسپښين په
(٣)بجواوپنځلس دقيقو مجاهدينو دبنوزيو
قرارګاه په امنيتي پوستو بريد وکړاو هغه يې
فتحه کړې ،دمازديګر په (٥) بجو دمجاهدينو
دتوپچي انداخت له امله دګرديز دتوپچي
بطريې اور واخيست اوډيرې سختې چاودنې
پکې وشوې چې نژدې ٣ ساعته چاودنو او ٦
ساعته داور لمبو دوام درلود . دګرديز دتوپچي

بطریه درادار اومخابراتو په منځ کی واقع ده اودغه چاودنو او اورلګیدنی له امله دفرقی ګڼو برخواوپوځی تاسیساتو ته درانده زیانونه واوښتل.

ددری ورځنی جګړی وضعیت ته یوه لنډه کتنه:

دجګړی له دری ورځنی وضعیت څخه داپه ډاګه کیده چی په جنوبی استقامت دمجاهدینو دیو مخیزو اوبریالیو بریدونو په وړاندی ددښمن مقاومت ډیر کمزوری دی ، تردی وخته چی مجاهدینو درژیم پر کومو امنیتی اوترصدی پوستو عملیات کړی هغه یی زیاتره دیوه ساعته او حتی له هغی څخه هم دلنډ مهاله جګړی په جریان کی فتحه کړیدی.

دستی کنړو په استقامت چی پر ګردیز دحملی جنوبی اړخ تشکیلوی دمجاهدینو پرمختګ دمخکنی وضع شوی جنګی ستراتیژی اوبریالی پلان او لازمو احضاراتو له امله ډیر ګړندی اوبریمن کڼل کیده ، پدغه استقامت دجهادی ځواکونو دتدارکارتی چینلونو دمؤثر فعالیت او همدارنګه د اکمالاتی لارو او دجګړی دلیکو موازی فعالیت لدغه استقامت څخه ددښمن ددفاعی کمربندونو دبشپړی ماتی اوداخل ته دمجاهدینو دفاتحانه نفوذ زیری اوپیشګویی وړاندی کوله .

دجګړی وضعیت داهم په ډاګه کوله چی دښمن ته یوازی دهوایی بمباری اوسکډ توغندیو لاره بیرته ده خوله لوری ارتفا ع څخه بمباری اودسیمی دغرنیز موقعیت له امله دغو دواړو حربو خپل مؤثریت له لاسه ورکړی ؤ په همدی رابطه ما دقوماندی په مرکز کی له الحاج مولوی جلال الدین حقانی څخه دجګړی دصورتحال په رابطه پوښتنه وکړه هغوی وویل څومره چی موږ تحلیل کړی اوتاسی هم له نژدی څخه دهغی شاهد یاست دجګړی وضعه ددری اوهمدارنګه دغلګی او ستی کنړو په طرف لدی کبله چی دایوپخوانی ترانزیتی سرك دی او دښمن دخوست له فتحی مخکی دمحاصری دماتولو لپاره دالار ډیره ټینګه ساتله ، دوی غوښتل ستی کنړو ونیسی چی خوست ته لار پرانیستل شی دخوست له فتحی وروسته یی هم ډیر کوشش وکړ چی ستی کنړو ونیسی خو پر ګردیزد مجاهدینو دتوپچی مخه ونیسی که داسی شوی وای مجاهدینونشوای کولی ، دجنوب په استقامت پر ګردیز عملیات پیل کړی .

له همدیه ځایه وه چی موږ له خوست څخه مجاهدین دستی کنړو په استقامت سوق کړل او په ستی کنړوکی مو خپلی مورچی او مرکزونه ټینګ کړل .

دښمن هم خپل دفاعی خط ددری دمکتب زاوه اودنجیب کلا په استقامت ډیر قوی کړی ؤ ډیر بنډونه اوقرارګاوی یی جوړی کړی وی ،او دګلم جم ملیشی یی هم اچولی وی .

دلوشنبی له ورځی راهیسی چی دمجاهدینو کوم عملیات پیل شول نو پدی کی مجاهدینو دجنوب ، جنوب شرق او شرقی منطقی نه ښه پر مختګ وکړاو ډیری پوستی او ټانکونه یی ونیول خو دغرب او شمال له طرفه دومره پیشرفت ونه شو ، ځکه پدغه استقامت ډیر مینونه غوړول شوی ؤ ټانکونو ته هم عوارض پیښ شول او دیاودنی وړ پیشرفت ونه شو، په شرقی او شمال شرقی منطقه کی دښمن څو پوستی بیرته ونیولی ، پرون ددری په استقامت اونن شپه دبنوزیو تر قرارګاه پوری مجاهدین ورسیدل، ددغه استقامت جګی پوستی ددری مکتب پوستی دازغنی قرارګاه دجماعت پوستی ، دحوزی دکنړو دسرپوستی فتحه شوی ، اوس یوازی دغو ګیری پوستی چی دازغنی شمال ته واقع دی یوازی داپوستی او بله پوسته دبنوزیو دکلی تر څنګ دځبیب کلا په خوا کی دښمن دتوپچی قرارګاه پاتی ده چی ددی لپاره هم نن مازدیګر دتعرض پروګرام نیول شوی، نن سهار چی مجاهدینو دبنوزیودغره دسر پر پوستو حمله وکړه هغه کامیابه حمله وه دوهم تعرض مازدیګر ته تأخیر شو- اوس دمجاهدینو توپچی قوتونه اماده دی اوددری په شاوخوا کی توپچی قوتونه دخوست تر پله پوری ځای په ځای شوی دی .دښمن هیڅ پرمختګ ندی کړی مجاهدینو په فتحه شویو پوستو کی (۳) ټانکونه ،یوه زرهپوش څونقلیه وسایط ، شلکا ، دهشکی ، زیکویك اونوری وسلی په غنیمت نیولی دی .

دپرون ورځی له عملیاتونه تر نن پوری ددښمن هیڅ تعرض ندی لیدل شوی توپچی یی هم کمزوری دی یوازی سکډ او اوراګان یی انداخت کوی خوهغه هم چندان مؤثر ندی .

داهم باید ووایم چی مجاهدین به ډیر ژر دتیری کنړوهم ونیسی او کیدی شی دشرق اوغرب له طرفه هم ددفا ع خط مات کړی .

دجنوب له خوا ددفا ع خط مات دی او مجاهدینو دجنوب له اړخه دیر زیات پر مختګ کړی دی .

محترم حقانی صاحب دګردیز اوسیدونکو، پوځی افسرانو او منسوبینو ته په خپل پیغام کی وویل:

موږ ټولو افسرانو، دولتی منسوبینو او ملیشو ته مخکی له مخکی عفوه اعلان کړی. موږ ددوی مرګ ژوبله نه غواړو دوی باید لدی فرصت څخه استفاده وکړی او له مجاهدینوسره یو ځای شی پدی صورت کی ددوی سراو مال په امن دی .

اوکه دوی همداسی دولس پرضد جنګیږی بیا هلته دوی دملت په وړاندی مجرم اومسوول دی اوکه چیری دوی جګړی ته دوام ورکړی په هغه صورت کی حتماً له مجاهدینو څخه شهیدان کیږی.

بیا به هلته دمجاهدینو داحساساتو کنترولول ګران کار وی ، خو موږ بیا هم هڅه کوو لکه په خوست کی مو چی ددوی له اسیرولو وروسته ورته عفوه وکړه دوی عفوه کړو خوهلته به دوی په ټیټو سترګو ژوند تیروی .

ځکه اوس دوی ته دغالب کیدو فکر کول یوحماقت دی ، او زموږ پوخ باور دی چی ددوی باطل سنګرونه به انشاالله نړیږی ، اودادوی لپاره یو طلایی چانس دی او مخکی لدی چی په شرمیدلی توګه ونیول شی له مجاهدینو سره دی یو ځای شی او دعزت او درناوی ژونددی پیل کړی .

په جنوبی استقامت کی دمجاهدینو دبریالیو عملیاتو دبهیر چټکتیا

(دبنوزیودقرارګاه فتحه)

دمیزان په(۱۱) نیټه مجاهدینو دسید کرم پر ولسوالی عملیات وکړل اوڅلور پوستی یی فتحه کړی همدارنګه مجاهدینو دخپلو بریالیو عملیاتو په ترڅ کی له ازغنی وړاندی داوګری پوستی هم فتحه کړی اودمجاهدینو ددرنو وسلو دډزو له امله دتیری په کنړو کی ددښمن څلور ټانکونه ویجاړ کړی شول .

پر همدغه ورځ مجاهدینو په بنوزیو کی ددښمن دتوپچی په قرارگاه عملیات پیل کړل دبنوزیو قرارگاه چی ددښمن لپاره دجنوب په استقامت ددفاعی خط وروستی پوله گڼل کیده دمجاهدینو دزغروالو ځواکونو دمؤثرفعالیت او استعمال له امله په ډیر لږ وخت کی فتحه شوه دبنوزیو قرارگاه په فتحه کیدو دگردیز په لورد مجاهدینو دپرمختگ یوه چینلی دروازه پرانستل شوه اوددښمن مقاومت له یوی سختی ضربی سره مخامخ شو ددغه قرارگاه له فتحه کیدو سره دمجاهدینو دتعرضی قوتونود فعال نفوذ مسیر گرندی شو- دبنوزیو دتوپچی قرارگاه له فتحه کیدو سره چی (٦٧ غونډ ١٢ پیاده) قرارگاه هم دلته موقعیت درلود دگردیز ددفاعی کمربند داتصال کړی ماتی شوی اودمجاهدینو ددرنو وسلو دپرمختگ په وړاندی یی یو قوی اوپراخ معبر پرانیست - په دغه قرارگاه کی مجاهدینو له دښمن څخه (٧) دی ، سی او (٦) ایم سی توپونه (٦)فعال زغروال ټانکونه (٢٠) عرادی نقلیه وسایط (٢) لویی او(٥) وړی شلکا ، پنځه میله اس ، پی ، جی (٩)،لس زیکویك ، (٥)عرادی زرهپوش ، (١٠) پایی وسط او(٢)غرنی هاوان (٢٠٠) میله سپکه وسله(٨٠) موټر مهمات او ډیر زیات خوراکی مواد په غنیمت ونیول او(١٣) ټانکونه چی دمجاهدینو دبریدونو په ترڅ کی ویجاړ شوی هم دمجاهدینو لاس ته ورغلل

دجگړی دقوماندی په عمومی مرکز کی الحاج مولوی نظام الدین حقانی دعملیاتو په رابطه دخپلو توضیحاتو په لړکی وویل : پر گردیز دعملیاتو پیل دتوپچی دانداخت پواسطه ترسره شو نژدی دری ورځی دتوپچی انداخت روان ؤ خو منظم تعرض دلوشنبی په ورځ په ١٣٧٠/٧/٨ نیټه دلیوس له لوری شروع شو ، دلیوس اومیلن په استقامت ددښمن پوستی فتحه شوی ، دغه حمله دابوجندل (رض)غونډ مجاهدینو دقوماندان نیك محمد په مشری او دجهاد وال غونډ مجاهدینو دقوماندان فیض محمد په مشری اودقوماندان سردار مجاهدینو په گډه ترسره کړه ،دنجیب کلا او شاخوا پوستی یی هم فتحه کړی اوپه میلن کی یی تر شیخانو پوری ددښمن ټولی پوستی او سنگرونه فتحه کړل .

دسه شنبی په ورځ دستی کنډو محاذ مجاهدینو دټانك پوستی اودمکتب دری پوستی

په ډیر لږ وخت کی فتحه کړی ، پر سبایی دازغنی نسراو جماعت پوستی اودغوگیری لاندی پوستی هم دالله تعالی په نصرت فتحه کړی لدی سره دنبوزیو قرارگاه چی د٦٧ غونډ قرارگاه وه هم فتحه کړه او تر حلیم کلا پوری مجاهدینو پرمختگ وکړ.

ددښمن دمهماتو یوی لویی ډیپو چی ددولت زیو په سیمه کی دحلیم کلادپله سره موجوده وه دمجاهدینو دانداخت له امله اور واخیست ،اوددښمن دتیلو یوه ذخیره هم وسوځیده ، (٢) زرهپوش ، او(٢) ټانکونه اوزیات موټر پکی له منځه ولاړل .

مولوی صاحب ددښمن دهغو درنو اوسپکو وسلو اومهماتو احصائیه وړاندی کړه چی مجاهدینو له دښمن څخه نیولی او موږ دخپل رپوټ په مخکنی برخه کی هغه ذکر کړیدی ، مولوی صاحب دمجاهدینو دشهیدانو اوزخمیانو په رابطه وویل ، په جگړه کی دمجاهدینو له خوا تراوسه (١٥) تنه شهیدان او (٤٠) تنه زخمیان شوی دي

محترم مولوی صاحب دخپلو خبرو په جریان کی وویل : دسیدکرم طرف ته هم ددښمن دری پوستی فتحه شویدی ، دزرمت په استقامت هم دکواس طرف ته دسروړی په څنگ کی دخوا ځکو طرف ته ددښمن څو پوستی فتحه شوی ، دنیازیو کلا پوستی هم فتحه شوی همدارنگه دچکان په نوم پوستی هم فتحه شوی دغه ټول فتوحات دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ مجاهدینو کړی او دختاوی په ابراهیم خیلو کی هم دری پوستی فتحه شوی دی .

دعمری غونډ له مجاهدینو څخه په پورتنیو بریالیو عملیاتو کی (٦) تنه شهیدان او نژدی ٣٠ تنه زخمیان شوی دی .

همدارنگه دحضرت بلال(رض) غونډ قوماندان امین الله خان ، په تیره کې ددښمن په یوه کاروان برید کړی او څو ورځی یی لاره بنده کړی وه .

دزرگل تنگی اوازری مجاهدینو هم دتیری په شرقی حصه کی دری څلور پوستی فتحه کړی دی.

محترم مولوی صاحب زموږ ددغه پوښتنی په ځواب کی چی په نورو استقامتونو کی دنورو تنظیمونو مجاهدین په عملیاتو کی مخلصانه او فعاله برخه نه اخلی ایا دغه جریان دعملیاتو په موفقانه بهیر څه منفی اثر نه شی غورځولی وویل :

که څه هم ستاسی خبره واقعیت لری خو موږ نه غواړو پدی رابطه دچا نوم واخلو اویا داخبر دمطبوعاتو مخی ته راوباسو خوکه څوك بښه کارونه کوی اوپه جهاد کی مخلصانه اوفعاله برخه اخلی موږ دهغوی یادونه اوستاینه کوو خوکه بیا له چانه پدی رابطه کمزوری او سستی پیښیږی چوپ پاتی کیږو اودتوفیق دعا ورته کوو- خو کله چی ما ټینگار وکړ چی په خصوصی توگه بیله دی چی دمطبوعاتو مخی ته راوایستل شی ماته په دی هکله معلومات راکړی؟

مولوی صاحب وویل : په تاسی مطبوعاتیانو څه باور دی چی نه یی چاپوی ...

محترم مولوی صاحب زیاته کړه حقیقت دادی چی که په نورو استقامتونو کی دتوحید او تنظیم اوهمدارنگه په معین وخت کی دموازی پرمختگ اوپه تعهداتو اودعملیاتو په چټکتیا عمل شوی وای گردیز به ډیر زر فتحه شوی و خو ددغو کمزورتیاو باوجود موږ له خپل

استقامت څخه عملیات جاري ساتو اوپه نورو استقامتونوکې هم زمونږ قوتونه دخپلو جهادي عملیاتو جریان ته ادامه ورکوي ځکه زمونږ جهادي قوتونه دنظم ، تشکل اوستراتیژۍ له امله کولی شي دښمن ته مرګوني ګوزارونه ورکړي

محترم مولوي صاحب ددغه پوښتنې په ځواب کې چې ایا تاسې دجګړې له جریان او دمجاهدینو له پرمختګونو څخه مطمین یاست که څنګه؟ وویل :

زه پدې مطمئن یم چې انشاالله ګردیزبه فتح کیږي که څه هم زمونږ مشکلات زیات دي خو مجاهدین دالله تعالی دمرستې اونصرت له مخې پر مخ روان دي . زمونږ داپلان دی چې له ټولو طرفونو څخه په یوه وخت تعرضي عملیات پیل شي ،او همدارنګه دلارې بندولو پلان هم لرو اوکه داکارونه وشي نو انشاالله دمجاهدینو کامیابي بالکل یقیني ده .

***

دښمن دنیول شویو اوتسلیم شویو عسکرو یوه تن چې ځان یې رحمت الله دالله نظر زوی اودمزار شریف دشولګرې ولسوالۍ اوسیدونکی معرفي کاوه وویل :

(۷۰) ورځې کیږي چې زه یې عسکرۍ ته په زور نیولی یم ، لدې څخه مې ٦۰ ورځې په کابل کې دتجمع په مرکز کې تیرې کړې ،اوپنځه ورځې مې دکابل دریشخورو په دریم لمبر لوا کې وتلې دي فقط پنځه ورځې کیږي چې ګردیز ته یې راوستلی یم .

ده زیاته کړه زمونږ په لوا کې (۳۲۰)عسکرو چې زیاتره یې په زور نیول شوي وو زمونږ دلوا قوماندان معین خان نومیده او رتبه یې دبرید جنرال وه – ده وویل : کله یې چې مونږ شپې لخوا ګردیز ته راورسولو نویوې کلا ته یې داخل کړو پدغه وخت کې دمجاهدینو سخت انداخت کاوه ددغو دړزو له امله لس تنه عسکر مړه او له (۳۰) څخه زیات زخمیان شول پدغه پنځو ورځو کې یې مونږ ته قروانه په محاربوي ماشینونو کې راوړه خو پداسې اندازه چې هیڅ کفایت یې نه کاوه .

ده وویل کومې سیمې ته چې مونږ راوړل شوي وولدې ځای څخه ګډې په وتلو وې اودکابل په لار دکډو بهیر روان وو.

ده مجاهدینو ته دتسلمیدو کیسه داسې بیان کړه: مونږ هره لحظه پدې فکر کې وو چې څه ډول له دې دوزخ څخه ځانونه وباسو ، زمونږ څلورو تنو ملګرو له مونږ نه یوه ورځ مخکې ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړل ، بله ورځ چې زمونږ دټولۍ قوماندان چې نوم یې قنداغاغ مونږ ته دوړاندې تګ قومانده راکړه کله چې لږ مخکې ولاړو ناڅاپه یې دپروت امر وکړ مونږ پروت وکړاودې له دوو تنو محافظینو سره شاته وګرځیده وېې وېل : زه نور عسکر راولم تاسې همدلته اوسئ هغه چې بیرته وګرځیده مونږ شپږ تنه دیو میل راکټ یو پیکا اوڅلورو میلو کلاشینکوفونو سره مجاهدینو ته تسلیم شوو.

نوموړي دګردیز دقواوو دمورال اونظم په هکله وویل:

دولتي قواوو مورال ډیر ضعیف دی عسکر چون په زور نیول شوي نه غواړي جنګ وکړي اوهمیشه پدې لټه کې دي چې مجاهدینو ته تسلیم شي ، دعسکرې نظم هم څه درك نه لګیږي ، نوکې عسکر بیله دې چې لازمه زده کړه ورکړل شي بس یوازې هغوی تـه داقومانده ورکوي چې انداخت وکړي اومجاهدینو ته تسلیم نشي اوکه تسلیم شي نو هغوی یې وژني...

دمیزان میاشتې په ۱۷–۱۸ او ۱۹مه نیټه هم دښمن سختې بمبارۍ روانې وې ، دبنوزیو قرارګاه چې مجاهدینو له ډیروسلو اومهماتو سره فتحه کړې وه له هغې ځای څخه دمجاهدینو زغروال ځواکونه دپرمختګ په حال کې وو ، که څه هم مجاهدین ددښمن ددرنو وسلو تر مسلسل انداخت لاندې وو خو لدې سره سره یې خپل پرمختګ جاري ساته او دنویو مورچو په جوړولو اوټینګولو مصروف وو.

مجاهدینو خپل زغروال ځواکونه دهر اړخیزې حملې لپاره په مناسبو ځایونو کې ځای پر ځای کول اودتدارکاتي اوکمالاتي لارو په جوړولو اودیوه ستر او یو مخیز تعرض دپلان پر تطبیق یې کار کاوه که څه هم له جنوبي محاذ څخه مجاهدینو کولی شول ښارته په بریالیتوب سره داخل شي خو دیوه څلور اړخیز تعرض لپاره دخپلو قوتونوپه موثر سمبالښت لګیا وو.

دمیزان په ۱۷ نیټه دقوماندۍ په عمومي مرکز کې الحاج مولوي جلال الدین حقاني دیوه بهرني خبریال دپوښتنې په ځواب کې دګردیز دجګړې په هکله وویل : داطبیعي خبره ده چې مونږ باید بخوست له فتحې وروسته پر ګردیز حمله کړې وای ، ځکه دګردیز په فتحه کیدو ټوله پکتیا ازادیږي ، بله داچې دکابل رژیم لپاره دمدافعې اول سنګر خوست او نوهم ګردیز دی لدې علاوه دکابل له امنیتي کمر بند پرته بل کمربند اوحایل نه پاتې کیږي .

مونږ له دښمن څخه خوست پداسې شرایطو کې ازاد کړچې په مسکو کې دنجیب حامیان یعنې کې ، جې ، بي اونور سره په قدرت مسلط وو او هغه وخت کې ، جې ، بي په ټولو ساحو کې ښه فعاله وه اوس چې کمونیزم هم ختم شواو روس هم په خپل غم اخته دی اونشي کولی نجیب لکه دپخوا په شان حمایه او وپالي ، دګردیز دفتحې په هکله زه الله تعالی (ج) ته ډیر امید واره یم .

دنوموړي خبریال ددغه پوښتنې په ځواب کې چې مونږ فکر کاوه په ګردیز دټولو جهادي قوتونو او تنظیمونو له خوا ګډه حمله شوې خو مونږ ولیدل چې یوازې ستاسې مجاهدین جنګیږي مونږ دنورو تنظیمونو اوګروپونو مجاهدین ونه لیدل...

حقاني صاحب وویل : داسې نه ده دنورو تنظیمونو مجاهدین هم په جګړه کې برخه لري خو څرنګه چې زمونږ مجاهدین په نظامي اوعسکري تشکیلاتو کې منسجم شوي اوزمونږ پنځه غونډونه دټولو نظامي تشکیلاتو اوتاکتیکونو اواساساتو له مخې محاربوي فعالیتونه کوي او آزاد جبهات مو هم خاص پوځي نظم لري اوپدې کې مونږ دتعرض لپاره بیل قوتونه ، دحمایې اودفاع لپاره بیل ، دمخابرې ، توپچي ، لوژستیك اوغنمیت دساتنې اوهمدارنګه دنورو امورو لپاره بیلابیل او منظم قوتونه اوتشکیلات لرو له همدې ځایه ده چې زمونږجهادي قوتونه فتحه شوي ځایونه ټینګوي ،اوداسې ځایونو دحفاظت لپاره بیا بیل قوتونه لرو . دهمدغه نظم او انسجام له مخې زمونږ قوتونه ډیر فعال دي دهمدغه منظم اوموثرفعالیت له مخې دهغوی پرمختګ جوت اومنسجم لیدل کیږي.

حقاني صاحب زیاته کړه : مونږ تراوسه دری تعرضي حملې کړي او په دری واړو کې مو دالله تعالی په فضل بری په برخه شوی دی ، اوپدغو دری واړو تعرضونو کې له ټانکونو څخه استفاده شوې همدارنګه مجاهدینو ددښمن څلور تعرضونه په شا وتمبول او (۱۳) ټانکونه یې ورڅخه ویجاړ کړل .

حقاني صاحب وویل : مونږ وروړو مخکې ځو ځکه په ګردیز کې ډیرې کوې دي ددوی دتلفاتو

دمخنیوی په خاطر مونږ قدم په قدم وړاندې
خو اوخپل عملیات به داسې پر مخ بیایو چې
مخوی ته تلفات ونه رسیږي اوکړو ته نوټلو یو
چینل بیرته پاتې وي.

دمیزان په ۱۸ نیټه مولوي جنډل (رض)غونډ
له قوماندان حاجي نیك محمد سره چې ترډی
وخته یې دشرق په استقامت دجبهې په لومړنی
لیکه کې خپل سنګرونه ټینګ کړیدي ،دقوماندي
مرکزکې ملاقات وشو مخوی دجګړې په رابطه
ووېل:

پرون دمیزان په ۱۷ مه نیټه دښمن درې
تعرضونه وکړل خو درې واړه تعرضونه یې په
شا وتمبول شول ،دمجاهدینو دجوابي برید په
نتیجه کې ددښمن (۳) ټانکونه تخریب او ګڼ
شمیر افراد او صاحب منصبان یې ووژل
شول .

ده زیاته کړه: زمونږ مجاهدین دلیوس په سیمه
حاکم دي اودمجاهدینو اودښمن تر منځ ایله
۵۰۰ متره فاصله موجود ده .

قوماندان حاجي نیك محمد دخپلو مجاهدینو
دیوې بلې تعرضي حملې په هکله خبرې وکړې
ویې ویل : مونږ دیوه بل تعرض پلان هم تر
لاس لاندې لرو او امید دي چې دهغې دتطبیق
په نتیجه کې دشرق یعنې دسروبي په
استقامت ددښمن وروستي دفاعي لیکې هم له
منځه ولاړې شي .

دالحاج حقاني له خوا دجګړې دلومړنیو لیکو معاینه :

دمیزان په ۱۲ نیټه له غرمې وروسته الحاج
مولوي جلال الدین حقاني دجګړې دلومړنی
خط دمعاینې پروګرام درلود ، له همدې ځایه
وه چې دماسپښین لمانځه له ادا کولو وروسته
یې په لومړي خط کې دلاس په لاس جګړې
دګرم سنګر په لور حرکت وکړ.

په همدې وخت کې دښنوزیو له قرارګاه وړاندې
دتندې په سیمه کې ډیره سخته جګړه جاري وه
اوپر لاره ددښمن ډیره سخته بمباري اوګوله
باري روانه وه ، دسکډ توغندیو او نورو درنو
وسلو مسلسلو ډزو یو قیامت جوړ کړی ؤ
دښمن ټوله سیمه دهوا له لارې په پلاستیکي
بمونو چې مجاهدین ورته (پرپرکی) وایي فرش
کړې وه، حقاني صاحب دغلګی له سیمې ځخه
چې هلته ځای په ځای دمجاهدینو مرکزونه
واقع دي دجګړې دلومړني خط په لور مخ په
وړاندې روان و چې دمجاهدینو له خوایي
ډیرګرم اوپرتمین هرکلی کیده .

دجګړې لومړی خط دښنوزیو دتوپچی قرارګاه
نه وړاندې ؤ چې مجاهدینو پرون فتحه کړې وه
پدغه قرارګاه کې له دښمن ځخه په غنمیت
نیول شوې وسلې په ډیره بریالی توګه ددښمن
پر ضد استعمالیدلی .

دلارې په اوږدو کې دمجاهدینو په مرکزونو
کې ددښمن نیول شوي افراد اوولجه شوې
وسلې لیدل کیدلی ، دغلګي په سیمه کې له ځخه
واټن وروسته ددرې له مکتب سره پوخ سرك
مخې راځي او همیشه ددښمن له خوا تر
سختو هوایي او ځمکنیو بریدونو لاندې وي
چې داوخت هم ترسخت اورلاندې نیول شوي
ؤ- په مخه کې دازغنې په نوم ددښمن قرارګاه
لیدل کیده چې له دښمن ځخه ولجه شوې روغ
او ویجاړ ټانکونه، موټر او نوروسایل پکې
ولاړدي چې په وازکوسي دملحد دښمن
دشرمیدلی ماتې کیسه بیانوي.

ددغه قرارګاه شاوخوا په لوړو غونډیو کې
دازغني دقرارګاه دفاعي پوستې هم لیدل
کیدې چې دمجاهدینو دهمت او قرباني په
برکت فتحه شوې وې -لږ وړاندې دښنوزیو
قرارګاه ده چې ددښمن لپاره یې دګردیز په
جنوبي استقامت کې ددفاع دخط په توګه
دمرې درګ حیثیت درلود ، اوډګردیز ښار په
لوه کلیو متری کې موقعیت لري، له همدې ځایه
دمجاهدینو پرمختګ لار دیوې سختي او
خونړۍ جګړې په لمبو کې ننوتلی
ښکاري-حقاني صاحب دغونډې دپاسه
دمجاهدینو مورچلونه وکتل پدې وخت کې
دجګړې فهیم اوحاجي ظفرله خوا دجګړې
توضیعت اوحالاتو په هکله توضیحات ورکول
کیدل .

لکه مخکې مو چې ووېل دغه وخت کې دتندې په
سیمه کې دمجاهدینو او دښمن تر منځ سخته
اوخونړۍ جګړه روانه وه او دالحاج خلیل
الرحمن زغروال ځواکونه ددښمن پر سنګرونو
دورختلو په حال کې وو -حقاني صاحب
دمجاهدینو بیلابیل سنګرونه معاینه کړل اوپه
یوه مرکز کې یې دمجاهد غږ راډیو دخبریال
دیوې پوښتنې په ځواب کې ووېل :

«مجاهدینو دتیرې په طرف ددښمن لس
پوستې فتحه کړې اوډزرمت له خوا دسر وړې
تر پوستو اودشرق له خوا داوګړی تر
سرپوري مجاهدینو پرمختګ کړی اوس
مجاهدین دتندې په سیمه کې چې دګردیز په
دوه کیلومتری کې واقع ده له دښمن سره په
جګړه بوخت دي .

حقاني صاحب زیاته کړه که چیری ددښمن
قواوې دمجاهدینو له عفوی ځخه ګټه وانه خلي
او مجاهدینو ته تسلیم نه شي اوپه جګړه کې
اسیر ونیول شي نو فکر نه کوم چې مجاهدین
لدوی سره دخوست دپوځیانو په څیر چلند
وکړي کیدای شي دوی دمحاکمې په لاروچارو
غور وشي ځکه دلوی دزو او وحشیانه بمباریو
اوګوله باریو په جریان کې ګڼ مجاهدین او
ولسي خلك شهیدان او زخمیان کیږي که ځه
هم مونږ کوښښ کوو چې لکه په خوست کې
دوی عفوه کړو خو دمجاهدینو داحساساتو
کنټرول هم ګران کار دی »

په همدغه مرکز کې حقاني صاحب دسهار له
لمانځه وروسته ددیوې په تنه رڼا کې دقرانکریم
تلاوت کاوه اوپه ډیر عجز یې دالله تعالی په
دربار کې ددعا لاسونه پورته نیولي ؤ- دلته به
سړی حیران شو چې دجګړې دډګر دپولادي
ارادې اوسخت زړه یو اتل چې دتوپونو په
دنلو کار، دبمونو په باران او داور په لمبو کې
مخ په وړاندې ځي اودنیا هیڅ قوت او مانع
یې مخه نشي نیولی -پداسې عجز او انکسار
په همدغه سنګر کې چې لږ مخکې یې نه
دګولیو دِلی سترګی بریښولی شوای اونه د
بمونو باران دهغه دقدمونو مخه نیولی شوی
نه داورونو سرو اوربغرانده لبمو دهغه په
وړاندې کې خنډ او ځنډ موانع ایجادولی
شواي اونه هم ددنیا مادي قوتونو دهغه
دارادې لاره بنولی شوې اوس یې په دومره
انکسار دعجز اونیاز لاسونه پورته نیولي
دي ...

له تلاوت اودعا وروسته حقاني صاحب
دغلګي په سیمه کې دمجاهدینو بیلابیل
مرکزونه معاینه کړل - پدغو مرکزونو کې
ددښمن نیول شوي افراد هم لیدل کیدل .

یوه نیول شوي عسکر ووېل :

مونږ ۲۵ تنه ډریوان یې دکندهار او نیمروز په
لار ونیولو او کابل ته یې راوستلو،بیایې زمونږ
په څیر له نیول شویو کسانو ځخه یوه (۸۰۰)
کسیزه ډله جوړه کړه اوګردیز ته یې راوستلو،

زمونږ له ډلې څخه نږدې (٤٠٠) کسانو دفرصت په پیداکولو سره تیښته وکړه خو موږ یې دګردیز دازغنی قرارګاه ته راورسولو، پدغه قرارګاه کې دیوې شپې له تیرولو وروسته مجاهدینو په قرارګاه حمله وکړه له لږ جګړې وروسته صاحب منصبان وتښتیدل اوټانکونه او موټر یې پریښودل ، موږ (١١) عسکر تر پله لاندې کیناستلو، پدې وخت کې مجاهدین راورسیدل ، اوموږ یې ونیولو .

دغه عسکر په پای کې وویل :

زه داسې فکر کوم لکه چې له زندان څخه خلاص شوی وم .

دشنبې په ورځ دمیزان په (١٣) نیټه محترم حقانی صاحب دغلګی په مرکزونو کې دجنوبي محاذ له قوماندانانو سره دجګړې دښه سمبالښت اوتنظیم په رابطه خبرې وکړې اولازم هدایات یې ورکړل .

پدغه لیدنه کتنه کې دحقانی صاحب پروګرام او پلان داؤچې کومې پوستې قرارګاوې اوپوځې مرکزونه مجاهدینو فتحه کړې هغه باید ټینګ کړي –هلته نوې مورچې جوړې کړي اونوې او لنډې اکمالاتی او تدارکاتی لارې اوچینلونه فعال کړي شي .له همدې ځایه وه چې مجاهدینو دخپل پرمختګ پرتله دفتحه شویو ځایونو دټینګښت پروسې اهمیت ته متوجه اودنویو سنګرونو په جوړولو اودمهماتو اونویو وسلو دځای په ځای کولو په کار پیل وشو تردې وخت ددښمن ٨٠ پوستې مجاهدینو فتحه کړې وې .

دمیزان په ١٦مه نیټه مجاهدینو په زرمت کې درژیم تعمیر ولسوالی چې دتعمیر له فتحې وروسته یې په یوه کلاکې دیوې پوستې په بڼه اچولې وه فتحه کړه او دزرمت له استقامت څخه هم مجاهدینو دسرورې ترسیمې پورې پرمختګ وکړ، په دغه وخت کې دګردیز او دمجاهدینو دسنګرونو تر منځ دښمن دمقاومت کوم حایل نه لیدل کیده .

مجاهدینو خپل بریدونه ددې لپاره متوقف کړل چې له یوې خوا له نورو اړخونو څخه هم مجاهدین په ټاکلې وخت او فاصله ګردیز ته دننوتلو لپاره خپل قوتونه ټاکلو ځایونو ته ورسولی شي.اودتعرض خط یوکړي شي اوله بلې خوا مجاهدین په فتحه شویو ځایونو کې خپل سنګرونه ټینګ اوپیاوړي کړي .له همدې ځایه وه چې مجاهدینو له دښمن څخه دنیول شوي درنې وسلې لپاره دنویو موضع ګانولپاره مناسب ځایونه غوره کړل چې دمؤثراودقیق انداخت لپاره ترې اغیزمنه استفاده وکړي اودښمن پر ضد یې فعال استعمال ته چمتو کړي .

دمیزان په ١٧ نیټه دسهار په لس نیمو بجو دښمن الوتکو دغلګی په سیمه کې دمجاهدینو پر مرکزونو سخته بمباري وکړه ددغه بمبارۍ له امله دمجاهدینو کاري ونړیدلې چې دهغې له امله تقریباً (٤٤) مجاهدین شهیدان شول دغه بمبارۍ چې دقوماندان حاجي محمد اسمعیل مولوی حنیف شاه اومولوی بختر جان په مرکزونو وشوه دماتی خوړلې دښمن وحشیانه اوبز دلانه څیره لابربنده کړه اودمجاهدینو دانتقام اوجهادي غورځنګوځپې یې لا توپانی کړې .

دزرمت په لور

دستې کنړو په استقامت دمجاهدینو بریالی پرمختګ له امله ددښمن دفاعي کمربند نړیدلې ؤ اومجاهدینو کولی شول لدغه استقامت څخه ګردیز ښار ته ننوځي خو څرنګه چې په نورو استقامتونو کې لازم پرمختګ نه و شوی اودمجاهدینو تعرضي لیکه نه وه یوه شوی او همدارنګه دکابل ګردیز لاره هم ددښمن پرمخ نه وه تړلې شوې ځکه خو ددې لپاره چې دمجاهدینو تعرضي لیکه یوه کړې شي اوله نورو استقامتونو هم دمجاهدینو په بریدونو کې موازي پرمختګ رامنځته شي، دالحاج مولوی جلال الدین حقانی له خوا دیوه داسې پلان اوپروګرام په جوړولو اوتطبیق کارپیل شو چې وکولی شي دهغې له امله په ټولو استقامتونو کې دموازي پرمختګ زمینه برابرې کړې شي خو دجګړې په هر یوه استقامت کې په معین وخت کې دمعین اومساوي پرمختګ لپاره شرایط اوحالات مساعد شي اوپدې هکله توازن رامنځته کړې شي له همدې ځایه وه چې موږ دحقانی صاحب په هدایت دزرمت په لور دتلو فیصله وکړه چې دخپلې ژورنالیستکې دندې په څنګ کې دحالاتو اووضعې په رابطه هم محترم حقانی صاحب ته خپل رپوټ وړاندې کړو .

دمیزان په ٢٢ نیټه سهار موږ دزرمت په استقامت حرکت وکړ ،له غرمې مخکې لس نیمې بجې وې چې په زرمت کې دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ مرکز ته وروړسیدو هلته مو دغونډ له مرستیال جګړن زرمیر خان سره چې نوې دتیرې له استقامت څخه راستون شوی ؤ لیدنه وشوه جګړن صاحب زمونږ ددغې پوښتنې په ځواب کې چې دتیرې لار ولې په بشپړه توګه نده بنده شوې وویل:

دری ورځې مخکې دلارې دبندولو پروګرام ؤ موږ مکمل احضارات نیولی ؤخودنورو تنظیمونو دمجاهدینو له خوا چې مخکې یې له موږ سره دغه پریکړه منلې وه احوال راواستول شو چې تاسې خپل پروګرام لږ وځنډوئ ، ترڅو ددې کار لپاره ګډ پلان جوړ کړی شي ، نوموړي زیاته کړه: دمیزان په ٢٠ نیټه زموږ او دحاجي کرمې مجاهدینو په تیره کې ددښمن پر یوه پوځې پوسته عملیات وکړل چې دهغې په نتیجه کې ددښمن پوسته فتحه شوه نوموړي دلارې دبندیدو په هکله وویل مجاهدین باید دلارې په اوږدو کې شبخون اجرا کړي ، په دې توګه کیدای شي دښمن ته زیات تاوان واوړي ، او لار ددښمن دنقل او حرکت له استفادې څخه پاتې شي. په مرکز کې مو دمجاهدینو له یوه بل قوماندان حاجي امان الله خان سره هم وکتل نوموړي دلارې دبندیدو په رابطه وویل : زه په ډاګه وایم چې پدې استقامت دمجاهدینو تر منځ لکه څنګه چې ښایي هم اهنګي نده موجوده که څه هم شوراګانې کیږي خو بیا هم پدې رابطه یو څه مشکلات لیدل کیږي نوی زیاته کړه : ځینې تنظیمونه اوقوتونه چې په شوراکې کومه پریکړه منې په عملي ډګر کې بیاوروسته لیدل کیږي او کله کله خو دګډې فیصلې له عملي کیدو ځان ګوښه کوي نوی زیاته کړه:

که دحملې پروګرامونه سره متحد شي ، په هغه صورت کې لاره په اسانې سره بندیدی شي .

بیا مو دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ له قوماندان سره ملاقات وشو دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ دزرمت په استقامت داسې پیاوړي جهادي ځواکونه تشکیل کړي چې دخپلو جنګي تاکتیکونو اواغیزمنې ستراتیژۍ له مخې یې دښمن ته پولادي ګوزارونه ورکړي ، دسرورې سوق الجیشي پوستې یې فتحه کړې اوتر ابراهیم خیلو پورې یې دګردیز په لور فاتحانه پرمختګ په برخه شوی اوپه سیمه کې یومنظم پوځې جهادي ځواک ګڼل شي .

په زرمت کې دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ جهادي ځواکونه دګردیز دعملیاتو په تاریخ کې

دیوه جلا باب حیثیت لری ځکه دزرمت په استقامت دغه غونډ هغه یواځینی او منظم جهادی قوت دی چی دخپلو دیارلس کلنو جنگی تجربو اومنظمی جنگی ستراتیژۍ اوپلانیزه سوق اواداری له برکته یی په دغه استقامت کی دعملیاتو پروسه توده اوخوځنده ساتلی ده .

موږ ددغه جهادی غونډ دقوماندان الحاج محمد ابراهیم مخی ته ناست یو، دداسی یوه قهرمان مخی ته چی په تیرو دیارلسو کلونو کی دهغه نه ماتیدونکی اراده دنړی دیوه ډیر مغرور او وحشی ځواك داستعماری اهدافو په مخه کی فاتحانه مقابله کړی اواوس هم په سیمه کی پر دښمن دهری حملی اوعملیاتو دمنظم پروگرام نوښت په لاس کی لری.

هغه دتوپونو، بمونو، ټانکونواونورو وژونکو وسلو داور په لمبو، دگولیو په ږلی اودبمونو په باران کی دخپلی خاوری دازادی دمقدسه معرکه دخپل ایمان او اسلامی جذبی په تکیه پرمخ بیایی

دخدای (ج) ساتنه بیله ده کنی نو دهغه په وجود کی اوس هم دوحشی دښمن دگولیو اوبمونو وسپنی ښخی دی ، دهغه په تن کی لا هغه پرهرونه تازه دی چی دحق اوازادی په لار کی یی ورته څو څو واره دزړه غیرت پرانیستی ده اونن همغه قهرمان دادی دزرمت په اوارو داگونو کی په رڼه میدان ددین او وطن ددښمن پرخلاف دحق او ازادی ویاړمن سنگرونه ټینگ کړی دی .

دی مطمئین دی ، داده دی اودخپل جدوجهد په ارمانونو او اهدافو باوری اوگرومن. دی چی سری دزغروالو ټانك دننه ددښمن دقرارگاوو اوپوستو په لور دیوه خونړی برید په لمبو اولوگیو کی وگوری نو شك یی پیدا شی چی دده وجود به له وینی اوغوښنی څخه نه وی جوړ شوی دابه له دغه تور تانك نه هم دکلکی وسپنی او پولادو ترکیب وی -خو نه دحاجی ابراهیم بدن لکه دنورو بنیادمانو دغوښنی اووینی څخه جوړ دی خو ایمان، عقیدی اود آزادی احساس هغه ددښمن په وړاندی دوسپنیز اوپولادی هیوادو یوقهرمان جوړ کړی دی

الحاج محمد ابراهیم په ډاډمنه لهجه اوشمیرلو خبرودجگړی داوسنی وضعی په هکله په خپلو توضیحاتو کی وویل :

که څه هم دزرمت په ساحه کی دکنی له استقامته دتیری تر استقامت پوری دټولو تنظیمونو مجاهدین موجود دی خو دهر تنظیم لپاره بیا یو ځانگړی استقامت ټاکل شوی دی ، خو ځینی پروگرامونه گډ عملی کیږی ، اوپه نظامی اهدافو مشترك عملیات کیږی .

زموږ دعملیاتو په نتیجه کی دمیزان په ١٦ نیټه په بهرام خیلو کی ددښمن یوه پوسته فتحه شوه، همدارنگه دسروړی په استقامت ددښمن یو کنډك اوڅوپوستی پرتی وی ، موږ عملیات وکړل ددغوعملیاتو په لومړی ورځ ټول کنډك مجاهدینو ته تسلیم شو.دوه میله راکت انداز ، یو اس ، پی ، جی ، ۹، دافع ټانك توپونه اوډیر زیات مهمات په غنیمت ونیول شول ، پدغو عملیاتو کی له مجاهدینو څخه ۳ تنه شهیدان او ٤ زخمیان شول .

نوی زیاته کړه : زموږ دوهم تعرض دسروړی دقبلی طرف ته ددښمن پر پوستو ؤ چی دهغی په نتیجه کی مو هم دالله تعالی په فضل ددښمن څلور پوستی فتحه کړی اوپه هغه استقامت کی مجاهدینو خپل سنگرونه ټینگ کړل .

همدارنگه دشیخانو په منطقه کی هم مشترك عملیات وشول دښمن عقب نشینی وکړه خوڅرنگه چی ډیره زیاته مین کاری یی کړی وه مجاهدینو لازم پرمختگ ونه کړ، پدغو عملیاتو کی دښمن ته دسر اومال درانده تاوانونه واښتل ، اوله مجاهدینو څخه ٦ تنه شهیدان او ٦ تنه زخمیان شول

همدارنگه دخروار په استقامت دتیری په لار ددرنو وسلو انداخت روان دی ، په زرمت کی هم امید دی چی مشترك پروگرام جوړ شی ، ددی کار لپاره دمجاهدینو دقوتونو تر منځ شوراگانی روانی دی ، او همدا نن په دغه مرکز کی دشورا غونده کیدونکی ده .

الحاج محمد ابراهیم دجگړی له وضعی دخپل اطمینان څرگندونه وکړه ویی وویل : زه دجگړی له جریان څخه مطمین یم ، ځکه تر اوسه چی کوم ځایونه مجاهدینو فتحه کړی ، هغه بیا دښمن ندی نیولی او مجاهدینو ددښمن هر تعرض په شا تمبولی دی.

نوی زیاته کړه : ددښمن مقاومت ورځ په ورځ کمزوری کیږی ، کیدی شی جگړه وخت ونیسی او اوږده شی ، ځکه یوخوساحه ډیره زیاته ده او موسم هم چندان مساعد ندی ، اوبل داچی دښمن هم ډیره زیاته مین کاری کړی ، خو

زموږ امیددی چی گردیز به دالله تعالی په مرسته او نصرت اودمجاهدینو په همت او وحدت فتحه شی.

دمیزان په ۲۲ نیټه دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ په مرکز کی دقوماندانانو غونډه وه ، په غونډه کی محترم مولوی نصرالله منصور، محترم قوماندان خالد فاروقی ، محترم مولوی ارسلان رحمانی ، محترم اختر محمد ټولواك ، محترم حاجی امان الله خان ، اودمحاذملی اسلامی قوماندان برخه لرله ، موږ له موقع څخه استفاده وکړه او له نوی سره مودجگړی په جریان خبری وکړی -محترم خالدفاروقی دکابل گردیز دلاری دبندیدو په رابطه زموږ دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: دتیری په برخه کی مجاهدین دلاری دواړو خواوو ته موجود دی ، اودښمن ته پوره مزاحمت کوی ، وخت په وخت چریکی عملیات اجرا کوی اودښمن ته ډیر زیات تلفات رسیږی. بله خبره داده چی کیدی شی ، په لوگر کی هم مجاهدین دلاری دبندیدو اقدام وکړی .

مهمه خبره داده چی تراوسه مجاهدینو کوم فتوحات کړی دایی دلاری دخلاصیدوباوجود کړی ځکه خوموږ ویلی شو چی دلاری خلاص والی دگردیز په فتحه دومره اثر نشی غورځولی ، مجاهدین قدم په قدم مخ په وړاندی ځی او امید دی ، چی لاره هم بنده شی .

خالد فاروقی دجگړی دروان جریان په هکله دخپل ډاډ څرگندونه وکړه ویی ویل : زه خپله دجگړی له جریان څخه ډاډه یم ،دافغانستان په نورویرخو کی هم جنگ روان دی ، پدی اساس دښمن نشی کولی خپل قوتونه هر ځای ته ورسوی ، ددښمن معنویات ډیر کمزوری شوی داپه ټول هیواد کی دمجاهدینو مشترك گوزار دی ،او امید دی دښمن له نابودی سره مخامخ شی .

قوماندان خالد فاروقی زموږ دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل : په ایران کی چی کوم انقلاب درضا شاه پر خلاف رامنځ ته شو نو دپاڅون دکامیابی په وخت کی شاهپور بختیار رامنځته کړی شو خوشاهپور دانقلاب مخه ونشوای نیولی اوډیر ژر انقلاب بریالی شو .

امان الله خان هم همداسی وکړل اوخپل ورور یی مخی ته کړ خو په هغی باندی هم دپاڅون څپی خاموشی نشوی .

استعمار همیشه دانقلابونو دکامیابی په وخت کی مرتجع عناصر رامخی ته کوی اوغواړی دانقلاب څپی خاموشه کړی خو داصیلو انقلابونو مخه په دغه ډول توطیئونشی نیول کیدای اوله خارج څخه تپل شوی عناصر اوسازشکاران نشی کولی زموږ په انقلابی ملت باندی چی یونیم ملیون شهیدان یی ورکړی ددغسی یوه قهرمان ملت په راس کی راشی .

قوماندان فاروقی دمجاهدینو دیووالی اوهمدارنگه دتیرو اتحادونو دترخو تجربو په رابطه وویل:

مخکی چی څومره اتحادونه راغلی هغه دقاعدی په اساس ندی راغلی اوډزیاترو بنا په عدالت باندی نه وه ، هغه یا دفشارونو په نتیجه کی رامنځ ته شوی اویا هم دنورو عواملو له مخی اوس هم که په اساسی اوبنیادی فورمول اوقاعدی توافق وشی چی په عدالت بناوی اودمعیار په اساس صورت ونیسی هغه اتحاد به حتما نتیجه ورکړی .

موږ بیا دمجاهدینو له یو بل قوماندان محترم مولوی ارسلان رحمانی سره دمرکی فرصت پیدا کړهغوی په ډیر ورین تندی اوعالمانه برخورد سره دمرکی وخت راکړ اوپه ډیره سړه سنیه یی زموږ پوښتنو ته ځوابونه وویل :

محترم مولوی ارسلان رحمانی دغرب په استقامت دجگړی دجریان په هکله زموږ دپوښتنی په ځواب کی وویل : زموږ مجاهدین دغرب په استقامت ددرنگ له خولی تر تیری کنډو او التمور پوری موجود دی ، تراوسه دمجاهدینو له خوا په مشترکه توګه څو تعرضونه شوی چی کامیاب شوی دی ، لوی موفقیت دادی چی ددښمن دمحاصری کړی تنګه شوی ، تردی چی په ډیرو برخوکی مجاهدین ددهشکی ، هشتاد نو او راکټ په ذریعه عملیات کولی شی ، همدارنګه ددښمن دفاع هم ډیره کمزوری شوی.

محترم رحمانی دمجاهدینو دګډی همکاری اووحدت په رابطه وویل : تراوسه الحمد لله ګډه همکاری موجوده ده، اتحاد نظرموجود دی اوموږکوشش کووچی دمجاهدینو تر منځ بنیان مرصوص رامنځ ته شی .

محترم رحمانی زموږ ددغی پوښتنی په ځواب کی چی دکابل گردیز لار تراوسه ولی نده بنده شوی وویل : مجاهدین وخت په وخت په لاره عملیات اجرا کوی ، دلاری حالات

موږته ښه معلومیږی ، دښمن ټوله لار له پوستو ډکه کړی –که په یوه پوسته حمله کیږی لس نوری یی دفاع کوی خولدی ټولو سره لار ددښمن دقطارونو پرمخ تقریباً تړلی ده ، کله ناکله ددښمن یو موټر یا ټانک په غلا اوپټه حرکت کوی ، تیره ورځ هم په لار عملیات وشول ، ددښمن یو ټانک له منځه ولاړ ، او کڼ پوځیان یی ووژل شول ، زموږ پلان دادی چی په لار شبخون اجراکړو چی ددښمن دپوستو تر منځ دنقل او حرکت سلسله هم ختمه شی ، چون منطقه ډیره لوڅه او دستراواخفاالپاره امکانات نشته ځکه خو یونڅه مشکلات لیدل کیږی خو موږکوشش کوو چی لار په بشپړه توګه بنده شی .

کی کړو پرمختګ وشی .

دمیزان په (۲۳ مه) نیټه موږ له قوماندان اختر محمد ټولواک سره دمرکی وخت پیدا کړ،اختر محمد ټولواک چی دیوه ژوندی او علمی تحلیل له مخی یی دجګړی دټولو ابعادو په رابطه توضیحات ورکول اوډواقعیتونو پرېنایی پیښی او جریانات په ژور نظر تحیل اوارزیابی کول ډیرواقعبینانه اوپر حقایقو ولاړی څرګندونی او توضیحات وړاندی کړل موږ له محترم ټولواک څخه دجګړی دروانو حالاتو په رابطه پوښتنه وکړه هغوی په ځواب کی وویل :

زما په نظر په موجوده جنګ کی یو مشکل عدم توازن دی ، یو طرف ډیر پرمختګ کوی بل طرف کم ، په ټولو خواوو کی مساوی

موږ له محترم رحمانی صاحب څخه پوښتنه وکړه چی په ځینو استقامتونو کی مجاهدینو ډیرزیات پرمختګ کړی دمثال په ډول دجنوب له استقامته مجاهدین ډیر مخکی تللی ، حتی چی ښار ته هم ننوتلی شی خو له نورو استقامتونو څخه دومره پرمختګ ندی شوی ، هغوی په ځواب کی وویل :

حقیقیت دادی چی په بعضو استقامتونو کی وسایل اودجنګ زمینه ښه برابره ده ، خو په بعضو کی موقعیت نه ایجابوی ، موږ پدی معترف یو چی په جنوبی استقامت کی مجاهدینو ډیر پرمختګ کړی اوددښمن دفاعی کمربند یی مات کړیدی که څه هم زموږ کارونه په همفکری شروع شوی ، موږ اوس هم پدی کار کوو، او ارتباط هم نیول شوی ، امید دی وضع انکشاف ومومی اوپه ټولو استقامتونو

فعالیت اوپیشرفت ندی شوی، تراوسه په معین وخت کی معین ، پیشرفت منځ ته ندی راغلی ، که څه هم شوراګانی شته ، مشوری روانی دی او دجګړی په نتایجو هم خبری کیږی ، همدارنګه شرایط اراضی هم یوډول ندی اودقواوو توازن هم نشته ، زموږ پرونی ناسته هم دهمدغه مشکل دحل لپاره وه ، چی خپل قوتونه په هماغه نقاطو کی ځای پر ځای کړو چی د مجاهدینو پرمختګ ممکن وکرځولی شی ، او په ټولو برخو کی مساوی پرمختګ وشی .

محترم ټولواک پر ګردیز دعملیاتو دځنډ دعواملو په رابطه وویل :

له هغو عواملو څخه چی دګردیز عملیات یی وځنډول یوهم دادٔ چی دقوماندانانو شورا تصمیم اوپلان درلود چی جګړه دیوی تر پروګرام لاندی شروع شی ځکه دقوماندانانو

شورا په دی رابطه منظم کار کړی اویوه متحده جنگی ستراتیژی یی رامنځ ته کړی وه خو دتنظیمونو مداخلی اوبیا تنظیمی رقابتونو چی هریوه غوښتل په جنگ کی پر نورو تفوق ولری اوپدی رابطه دنوی هلی ځلی دجنگ دتاخیر سبب شوی ځکه کله چی دقوماندانانو دشوراله خوا دحقانی صاحب په مشری دجگړی دپروگرام او پلان دعملی کیدو وخت راورسید بیا دتنظیمونو مداخلی نوی اوجدی بڼه ونیوله .

محترم تولواک زیاته کړه پکار داوه چی جنگ په ټول هیواد کی هم اهنگ شوی وای خو قوماندانان دنظامی اواقتصادی وابستگی ستونزه لری ځکه خو په خپل وخت دنوی دټولو پروگرامونو دنه عملی کیدو یو علت داهم گرځیدلی دی .

قوماندان اختر محمد تولواک دجگړی درهبری په هکله وویل : دگردیز په جنگ کی دسیمی محلی شوراگانی هم رول لری ، خو عمده رول دقوماندانانو دسرتاسری شورا په غاړه دی چی مشریی محترم حقانی صاحب دی اومحترم منصور صاحب محترم ارسلان رحمانی اونور قوماندانان چی په جگړه کی قاطع رول لری ، ددغه شورا غړی دی .دلاری بندولو په هکله قوماندان تولواک وویل : دکابل گردیز لار که څه هم تراوسه په مکمل ډول نده تړل شوی خواخلال موجود دی اوس داهڅه کیږی چی یو داسی سیستم فعال شی ، چی گردیز ته ددښمن لاره بنده شی ، خو زما په خیال پدی رابطه دلوگر مجاهدین ډیر مهم رول لوبولی شی ځکه دلاری دبندیدو اصلی منطقه لوگر دی ، موږ دخروار اوخرخ له مجاهدینو سره پدی هکله ارتباط نیولی ، دپکتیا او پکتیکا مجاهدین یواځی گردیز ته ددښمن دقواوو په راتگ کی اخلال پیداکولی شی ، نور دلاری مکمل بندول دلوگر دمجاهدینو ترهمکاری اواقدام پوری اړه لری،اوس دتیری په کنډو کی دغربی شورامجاهدین موجود دی ،اونورمجاهدین هم هلته شته هیله ده دمجاهدینو راتلونکی کړ پلان پدی هکله غوښه نتیجه ورکړی .

قوماندان اختر محمدتولواک دمجاهدینو دفتحی په رابطه وویل : فتحه اونصرت دالله تعالی له طرفه دی ، څومره چی موږ ظاهری عواملو ته گورو ددښمن مورال دیر ضعیف اوکمزوری دی ، ددښمن متقابله حملی له ناکامی سره مخامخ کیږی ، دښمن له تشتت اوپراگندگی سره مخامخ دی ، مجاهدینو کافی پیشرفت کړی ،او داټول موږ ته ډاډ راکوی چی ان شاالله گردیز به فتحه شی .

***

دمیزان په (۲٤) نیټه دحضرت عمر فاروق غونډ مجاهدینو دحقانی صاحب دازادو جبهاتو په ملتیا دسروړی دسرپر پوستو عملیات پیل کړل ، بنایی ووایو چی دسروړی دبیخ پوستی مخکی مجاهدینو فتحه کړی وی ، دغه بریالی عملیات دمازدیگر په (۵) بجو پیل شول اودماښام د ۷ بجو په شاوخواکی دسروړی پوستی اودسر قرارگاه فتحه شوه ، (۲) میله شلکا ، (۷٦) صحرایی توپونه ، یو میل زیکویك ، دوه ډی سی توپونه، اودمهماتو ډیرمجاهدینو لاس ته ورغلل .

دفتحی په سبا دښمن دسروړی غونډی تر سختو هوایی او ځمکنیو حملو لاندی ونیوله اوپه پرله پسی توگه یی دغه نقطه دسکو توغندیو ، توپچی ، هوایی بمبارد ، اونورو درنو وسلو تر برید لاندی ونیوله ، لدی سره یی دزرمت په شاوخوا کی هم بمباری پیل کړه، دسروړی غونډی ټوله ورځ ددښمن تر هوایی او ځمکنیو بریدونو لاندی وه، اوسړی فکر کاوه چی دغه غونډی به اوس هیڅ په ځای نه وی پاتی شوی دغه غونډی په یوه وخت د سکو توغندیو ، توپچی،الوتکو ،او بی ام ٤١ تر سخت اورلاندی نیول شوی وه.

دمیزان په (۲۷) نیټه موږ بیرته دستی کنډو په استقامت حرکت وکړ، دنری کوتل په تل کی مو سترمجاهد اودگردیز دجگړی عمومی قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی مخی ته راغی چی دزرمت دسنگرونو دلیدنی په نیت روان ؤ ، موږ له حقانی صاحب سره تر لنډو خبرو وروسته غوښتل چی بیرته لدوی سره زرمت ته ولاړ شو خو دوی چی زموږ څیرو او یخنی سوځولی بڼی ته وکتل وبی ویل :تاسی مرکز ته ولاړ شی اولدی کبله چی تیاره کیږی باید ډیر ژر حرکت وکړی ، پدی توگه حقانی صاحب دزرمت او موږ دستی کنډو په لور حرکت وکړ .

***

دمیزان په ۲۹ نیټه دگردیز والی اودولایتی شورا رئیس محمد انور حاصل دجگړی په لومړی خط کی دمجاهدینو دبریالیو عملیاتو په جریان کی ووژل شو ، له انور حاصل سره گڼ شمیر نور لوړ رتبه پوځی افسران هم ووژل شوی دی .

دگردیز والی چی له کابل څخه راغلی یوه لوړ رتبه پوځی هیئت ته دجگړی په اړه توضحیات ورکول دمجاهدینو دتوپچی دانداخت له امله سخت ټپی او وروسته په کابل کی مړ شویدی له انور حاصل سره دهیئت نور لوړ رتبه افسران هم ووژل شوی اوټپیان شوی دی ، ښایی ووایو چی لدی مخکی په گردیز کی دگلم جم دملیشی قوماندان جنرال جلال هم دمجاهدینو دبریالیو بریدونو په جریان کی ووژل شوی ؤ .

په گردیز کی ددښمن دقوتونو دوضعیت څرنگوالی

اودهغوی ماتی خوړلی تعرضونه

په گردیز کی دپوځ ، محلی ملیشی ، گلم جم اوگارد خاص دقوتونو ترڅنگ دملیشو بیلابیل نور قوتونه چی رژیم دولس په منځ کی دتفرقی اچولو له مخی پر هغوی بیلابیل نومونه ایښی دی ، اودنوریو اوتازهمو قطعاتو او جزوتامونو په بڼه یی سیمی ته راوړی په محاصره شوی گردیز کی ددښمن جنگی قوتونه تشکیلوی .

رژیم غوښتل په لومړی سرکی گلم جم ملیشی چی په خوست کی یی په زرگونو افراد په اسارت نیول شوی دهغوی دانتقام په تبلیغاتو دی ته اړ کړی چی کنی دفتحه شویو سیمو په بیرته نیولوکی به بریالی تعرضونه سرته ورسوی خودگلم جم روحیه په خوست کی داسی ماته شوی وه چی په گردیز کی یی تعرضونه ډیر ژرد شرمیدلی ماتی اورسوایی ځیو په مخه واخیستل له همدی ځایه وه کله چی یوپه بل پسی دپوځ محلی او گلم جم ملیشو تعرضونه دمجاهدینو دکفر ځپونکو او پولادی گوزارونو له مخی له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شول رژیم دهرات اوداسی نورو

په نوم مليشي چې غوښتل يې ددغو سيمه ايزو نومونو په عنوان کولو ټولس تر منځ دتفرقي او نفرت اورهم بل کړي دمجاهدينوله خوا دفتحه شويو سيمو په لور تعرضونه وکړل چې هغه هم له شرميدلي ماتي سره مخامخ شول لدغو شرميدلو ماتو وروسته رژيم تورروستي حربي په توګه دګارد خاص په نوم هغه قوتونه سيمي ته دتعرض لپاره سوق کړل چې په روسيه کې په سيستماتيکه توګه روزل شوي اودرژيم ډيره اعتمادي تکيه‌ګاه ګڼل کيدله .له همدي ځايه وه چې رژيم دګارد خاص په نوم خپل روزل شوي پوځي قوتونه سيمي ته سوق کړل اوپه ګڼ شمير يې دګارد خاص مجهزي اوپه روسيه کې روزل شوي قواوي دمجاهدينو دمقابلي لپاره دفتحه شويو سيمو دبيرته نيولو په غرض دتعرض لپاره اماده کړي .

په مقابل کې مجاهدينو ددښمن دنقل او حرکت دکشف له مخې خپلې قواوي او ځواکونه تيارسي اودمتقابله حملې لپاره اماده کړل .

دعقرب دمياشتي په پنځمه نيټه ددښمن نقل او حرکت زيات ليدل کيده له همدي ځايه وه چې دمجاهدينو ټول احضارات دحقاني صاحب له خوا معاينه شول اومخکې له دې چې دښمن تعرض وکړي ، مجاهدينو تعرض پيل کړ ، دغرمي په ټولسو بجو حقاني صاحب له حاجي خليل الرحمن سره دمخابرې په وسيله ارتباط ونيو، دوضعيت پوښتنه يې وکړه ، هغه وويل : بالکل خيرت دی ، زموږ انداخت روان دی ، ددښمن موقعيت موږ ته ډير ښه معلوميږي ، عمليات موفق جريان لري او هدف ډير ښه تر اورلاندې نيول کيږي .

حقاني صاحب ورته وويل : ستاسي پرخوا ددښمن څو ټانکونه در روان دي په هغه ټانکونو کې ددښمن دقواوو قوماندان موجود دی ، ښه يې داده چې يو امبولانس هم ورسره روان دی هغه تراورلاندې ونيسي.

حاجي خليل وويل ډيرښه :

په يوه بجه حقاني صاحب يو ځل بيا له حاجي خليل سره چې دخپلو زغروالو قوتونو ډبرياليو عملياتو قومانده يې ورکوله ، مخابروي ارتباط ونيو، ويې وويل : ستاسي چپ اړخ ته ددغه ځای جنوب طرف ته ددښمن پياده اوستاسي پرخوايي ټانکونه په حرکت کې ليدل کيږي تاسي په همدغو نقاطو خپل فشار زيات کړي .

پدې وخت کې دجنوب په استقامت له ټولو محاذونو سره مخابراتي چينلونه فعال وو ، عبدالعزيز له ترصد نه حقاني صاحب ته ددښمن دوضعيت په هکله توضيحات ورکول.

حقاني صاحب په مخابره کې حاجي خليل ته وويل : ددښمن دوه ټانکونه چې په ښي اړخ کې يې پياده حرکت کوي يوې غونډۍ ته دختلو کوښښ کوي اوکيدی شي له همغه غونډۍ څخه له تاسي سره مقابله پيل کړي .

خو حاجي خليل په ډير بيړني لهجه وويل : پدې ټانکونو اکمالات کوي دتعرض ټانکونه هغه دي چې موږ ورسره ولو .

حقاني صاحب له «لمر» سره ارتباط ونيو ويې ويل : ددښمن دمخابرې له کشف څخه معلوميږي چې په هغه ځای کې چې ددښمن محاربوي ماشين ويجاړ شوي غواړي له هغې ځای څخه پياده دغونډۍ سرته وخيژوي ، ستاسي اودابوجندل (رض) غونډ قوتونه بايد اماده وي چې که دښمن پدې اړخ پرمختګ کوي نو مخه يې ونيسي .

حقاني صاحب «لمر» ته وويل : د(٩٠) اوخليل له طرفه زوروره مقابله روانه ده ستاسي قوتونه بايد ښه متوجه وي .

له غرمي وروسته دري بجې وې چې ددښمن دتوپچي فعاليت ودريد–له ترصد څخه دعبدالعزيز له خوا دمجاهدينو توپچي ته دانداخت دمسافې تعين او اندازه ښودل کيده اوهري ګولی له لګيدو سره دهدف ويشتلو اودمسافی دتغير معلومات ورکول کيدل .

حقاني صاحب دقوماندې دمرکز له لوړي نقطې څخه دمجاهدينو دتوپچي دانداخت څارنه کوله ، انداخت ډير دقيق روان ؤ ، حقاني صاحب په دوربين کې دهغوی هدف ويشتل څارل اودهدف دمسافې په رابطه يې ورته لازم هدايات ورکول .

پدې وخت کې چې ټول مخابراتي چينلونه بيا ښه فعال ؤ ددښمن مخابره داخله شوه خدای خبر چې څه به يې ويلي وي خو حقاني صاحب وويل : موږ دکنځلو ځواب په کنځلو نه درکوو ، بلکې په مرمی يې درکوو .

پدې وخت کې حاجي خليل په مخابره کې وويل : ددښمن دوهم موټر چې پياده يې نقلول هم ويجاړ کړی شو .

دمجاهدينو ددقيق انداخت له امله ددښمن دوه نور ټانکونه ويجاړ کړی شول، حقاني صاحب په مخابره کې وويل : زنده باد – لدی سره يې زياته کړه : جنت ګل ته ووايه چې دستګاه هم پرې مرش کړي.

حقاني صاحب يوه قوماندان ته وويل : مهمات به ډير ژر دروړسيږي تاسي خپلو عملياتو ته دوام ورکړي .

پدې وخت کې د(شمشيزک) په نوم يوه قوماندان ته هم دحقاني صاحب له خوا دانداخت قومانده ورکړی شوه .

حقاني صاحب چې دمجاهدينو دتوپچي دانداخت څارنه کوله وويل «الله اکبر– سبحان الله »هدف يې ډير سم وويشت .

عبدالعزيز حقاني صاحب ته وويل : ددښمن تعرض ختم شو. پدې وخت کې حاجي خليل په مخابره کې وويل : ددښمن يوه بله نقليه وسيله هم چې له عسکرو ډکه وه ويجاړه شوه دباداسيا غونډۍ چې ددښمن دقوماندی مرکز ؤ ، دمجاهدينو له خوا په پرله پسې توګه ډيره دقيقه ويشتل کيده .

دری نيمی بجې ددښمن تعرض په بشپړه توګه ختم شو خو مجاهدينو ته وويل شول : چې اماده او متوجه اوسی کيدی شي دښمن بل تعرض پيل کړي .

په همدی وخت کې چې دمجاهدينو دتوپچي انداخت روان ؤ دښناروالی په نوم کمپ چې پخوا دروسي پوځيانو مرکزاوکمپ ؤ ډير دقيق وويشتل شو دغه ځای سربيره پردی چې اوس ددښمن دلوژستيکي موادو ډيپوګانی پکی وی ددښمن دتيښتی ځای هم ؤ

حاجي خليل په مخابره کې خپلو قوتونو ته وويل : ويشتل شويو ټانکونوته عسکرروان دی تر اور لاندی يې ونيسي .

دباداسيا غونډۍ هم تر مسلسل اور لاندی وه ، دغوندی په لمن کې ددښمن دتيلو ذخيره هم وه چې يو نيم مليون ليتره تيل پکی ذخيره کيدی شي ، همدارنګه د(چارصد) په نوم ددښمن دقوماندی مرکز هم دلته موجود دی . دمجاهدينو ددقيق اومسلسل توپچي انداخت له امله په غونډۍ کې ډيری سختی چاودنی وشوی اوډير سخت اورپکی ولګيد اوددښمن دمهماتو ذخيره وسوځيده .

ددښمن مخابری چې دمجاهدينو له خوا کشف کيدله په (٤) بجو وويل:

چارصد ته ووايه چې که پيسی مو اخيستی وی نو سم دی راته ووايی نورموږدلته دمقاومت توان نلرو ددښمن (مجاهدينو) توپچي خو

داسې سیده راځې لکه چې (چارصد) ورته دهدف معلومات ورکوي.
په څلورو بجو په مخابره کې حبیب شاه وویل : دښمن یو بل ټانك هم وویشتل شو او اوریې واخیست .
پدې وخت کې چې حقاني صاحب له حاجي خلیل سره په ارتباط کې ؤ خلیل ورته وویل : دغوګیرۍ سرته ګوره څنګه ګرځونه موټرې پورته کړل ؟
پدې وخت کې چې مجاهدینو په مخابره کې یو بل ته مبارکي ورکولې حاجي خلیل وویل : وچ وچ هاوان مو ورته سیخ کړي ...
حاجي خلیل په مخابره کې زیاته کړه : دښمن یو ټانك په ۸۰۰ متری کې وویشتل شو، مرمۍ پورې ورې ترې ووتله .
په څلورو بجو اوپنځلس دقیقو دروسانو کمپ یو ځل بیا ترسخت اورلاندې ونیول شو او ډیر سخت اورپکې ولګید .
پدې وخت کې دښمن په مخابره کې خپلو قواوو ته دمدافع امر ورکړ چې بیرته خپلو پخوانیو مرکزونو ته په شاتګ وکړي .
دمجاهدینو توپچي یو ځل بیا دقوماندان (باداسیا) غونډې تر انداخت لاندې ونیوله حقاني صاحب حاجي خلیل ته په مخابره کې وویل : لږ چپ څنګ ونیسه غرب خواته .
دښمن قواووچارصد (دقوماندان شفري نوم)ته ډیر بدرد ویل او کنځلې یې کولې .
ددښمن قوماندان خپلو قواو ته په مخابره کې وویل : په تاسې څه شوي دي چې په(۵۰۰) متری کې انداخت دربانډې کوي اوټانکونه مو هـدف نیـسـي - پـدې وخـت کـې ددښمـن مخابراتي چینلونه په خپل منځې ناندریو اویو بل ته په بد رد ویلو مصروف وو- ددښمن قوماندان خپلو قوتونو ته په غوسه ناکه لهجه وویل : هـغوی (مجاهدین) زموږ له بمونو اوسکد څخه نه واریږي تاسې څه بلا وهلې یاست چې دهغوی له وړه وړه مرمیو تیښتې اخیستې یې .
ددښمن دمخابراتي ناندریو او کنځلو په پای کې یوه تن وویل : دانه معلومیږي چې له اسمانه ګولۍ راوریږي که له ځمکې نه...
په پنځه نیمو بجو په ګردیز کې دامینه قوماندانۍ په ودانۍ دمجاهدینو دتوپونو ګولۍ بیخې په نښه ولګیدلې پدې وخت کې په مخابرو کې دمجاهدینو دمبارکۍ اوزنده باد ناری پورته شوې- حقاني صاحب چې ډیر مطمئن او خوشحاله معلومیده ماور څخه دیوې لنډې مرکې وخت وغوښت هغوی دقوماندې په سنګر کې په داسې حال کې چې کله به یې زما پوښتنو ته ځوابونه راکول اوکله به یې دمجاهدینو هدف ویشتلو څارنه اودمخابرې له لارې هدایات ورکول یوه لنډه مرکه وکړه چې دلته درنو لوستونکو ته وړاندې کیږي :
محترم حقانی صاحب !
که څه هم تاسې دجګړې دقوماندې په سنګر کې له بیلابیلو محاذونو سره په ارتباط کې یاست اودمرکې لپاره وخت چندان مساعد نه معلومیږي ، بیاهم ستاسې په اجازه غواړم یوه دوې پوښتنې وکړم؟
حقاني صاحب !
مهرباني وکړئ یو دوه پوښتنو ته خو ضرور وخت درکوم .
پوښتنه: محترم حقاني صاحب !
هیله ده زرمت ته دخپل سفر او همدارنګه هلته دجګړې دوضعیت په هکله معلومات ورکړئ؟
استاد حقاني:
زرمـت تـه زمـا دسـفـر یـو مـقـصـد داو چـې مـجـاهـدینـو څـوورځـې مخکـې دسـرورۍ په قرارګاه حمله کړې وه او هغه یې فتحه کړې وه خو څرنګه چې وروسته مجاهدینو ددفاع خط قوي نشواې کړې له هغې ځای څخه یې عقب نشینـي وکړه ځکه خو زه هلته ولاړم څو هلته دجګړې وضعیت اودفاعي حالت له نژدې څخه وګورم هلته عمده مشکل داو چې ددښمن طرف ته چې کوم ځای ؤ هلته دمجاهدینو مقاومت له دې امله مشکل ؤ چې هـلـتـه دموضـع کانـو جوړول ډیر سخت دې اراضې مساعده نده د لاندې چې کوم ځای دې هلتهبیا مجاهدین ددښمن له وضعیت څخه سم نشې خبریدلې .
ما دعملیاتو مخکنې طریقه تغیر کړه اوداپلان مـې ورکـړ جـې دسـرورۍ مـخـې تـه داړول مـحـاربوې فـعـالیـتـونـه وشـې چې دښمن په مـحـاصـره کـې ونـیـول شـې چې ددې لـپـاره کارشروع شو .
دوهـمـه خـبـره داچـې دزرمـت جـهـادي قوماندانانوته مو ګڼ پلان /پروګرام جوړ کړ څو چې په یوه وخت کې وسیع عملیات اجرا کړې شې ، ترڅو دبنوزیو، چکن اوشیخانو په منطقه کې خط یو کړې شي .
بله خبره داچې دتیرې په کنډو کې دلارې دبندیدو په برخه کې جدي اقدام نه ؤ شوې موږ قوماندانانو ته وویل : کوشش وکړئ چې لار قـطـع شـې ، یـا داچـې دلارې پـه دواړو اړخونو کې درندې وسلې ځاې په ځاې کړې چې لارتر حملو اوفشار لاندې ونیول شـې او دشپې له خوا دعملیاتو لپاره مخه خلاصه وي زما پروګرام داؤ چې ترڅو خط نه وي یو شوې زه هلته کار وکړم اودمجاهدینو سوق او اداره تنظیم کړم خو دښمن دلته دبنوزیو په طرف تعرض وکړ ، اوډیر سخت تعرض یې وکړ ځکه خو زه بیرته عاجل راوګرځیدم ، دالله تعالی فضل ؤچې ددښمن تعرض ناکام شو اوډیر تلفات ورته ورسیدل ، درې ټانکونه اودوې نقلیه وسیلې یې ویجاړې شوې اوزیات شمیر افراد یې ووژل شول.
پوښتنه :محترم حقاني صاحب !
موږ چې له زرمت څخه لیدنه وکړه اوحالات مو له نژدې مطالعه کړل داسې ښکاریده چې دنورو تنظیمونو قوماندانان دعملیاتو اوګډ پروګرام په رابطه جدي اومخلص ندي ، تاسې په دې هکله څه نظر لرئ ؟
استاد حقاني:
پدې هکله دزرمت دسیمې کوم تخصیص نشته ، دګـردیـز مـاحـول چـې څـومـره جـبـهـې اوقوماندانان دي هیچا هم په اخلاص اوجدیت دعـمـلـیاتـو اوګډ پروګرام داجرا لـپاره اقدام اوعملیات ندي کړي ،دستې کنډو له استقامت پرته چې مجاهدینو ښه زیات پرمختګ کړی په نورو استقامتونو کې لازم پیشرفت ندی شوی، دجګړې په پیل کې دلیوس په طرف ابوجندل (رض) او جهاد وال غونډونو ځینې فتوحات وکړل خو سیمه یې بیرته خوشې کړه نور په اخلاص اوصداقت عملیات ندي شوي.
لدې علاوه دګردیز چارپیره دتیرې په شمول قوماندانانو کوم مخلصانه اولازم عملیات ندي کـړي اودفـا ع خـط یـې نـدې مـات کـړې پـه سرورۍ دوه ځله اوپه ابراهیم خیلو درې واره دحـضـرت عمـر فـاروق (رض) غـونډ اوځینـو جبهاتو مجاهدینو عملیات کړیدي .
دستې کنډو په استقامت مجاهدین ډیر مخکې تللي او ددښمن ددفا ع خط یې مات کړیدی .
سرله دې چې تنظیمونو اودهغوی قوماندانانو ګرد کال دګردیزدعملیاتو په نوم کومکونه اومهمات تر لاسه کړي اوپه لوړې سرکې یې ډیره .بیړه هم وه – که څه هم موږ ویل چې باید حمله ښه منظمه شي خودوې بیړه کوله ځکه خو دډیرولږو قوماندانانو په منځ کې موعود وخت تعین کړې شو او منظمه حمله

شروع نشوه اوبیا یی مهمات هم زیاتره دپوستو په عملیاتو مصرف کړل .

پوښتنه محترم حقانی صاحب! لکه چی موږ هم ولیدل اوتاسی هم هغی ته اشاره وکړه دتنظیمونواو قوماندانانو دعدم اخلاص او جدیت له مخی عملیات څومره کامیاب ګڼلی شو؟

استاد حقانی : لکه چی تاسی پخپله ګوری ددی ټولو مشکلاتو باوجود زموږ عملیات بریالی روان دی ، دښمن نوی قطعات اوقواوی له کابل څخه راوړی ، درشید دوستم او ګلم جم ملیشی له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شوی اوس یی دګارد خاص قواوی چی درژیم ډیر په اصطلاح بیاوړی او اعتمادی قوت دی راوړی دی خو هغه هم لکه چی تاسی همدانن ولیدل له شکست او درنو تلفاتو سره مخامخ شول .

دعدم همکاری خبری نور تاثیر نه دی کړی بواځی جګړه یی اوږده کړه -دتیری لاری بندول نوی په غاړه اخیستی ؤ چی هغه ده بنده یی نکړه .

خو موږ مطمئن یو څلور، طرفه مکمله توپچی لرو ، ټانکونه لرو او منظم محاربوی فعالیتونه اجرا کوو ، ګردیز به انشاالله فتحه کیږی منتهی لکه مخکی موچی وویل جګړه به لږه اوږده شی .

دمجاهدینو دتعرضی بریدونو ددوهم پړاو پیلامه

دعقرب په ۸ نیټه دمازیګر په څلورویجو دمجاهدینو توپچی دګردیز قوماندانی تر اورلاندی ونیوله او ورسره په پرله پسی توګه دګردیز پوځی تاسیسات هم ددرنو وسلو تربرید لاندی ونیول شول .

لدی مخکی دزرمت په استقامت هم دحضرت عمر فاروق (رض)غونډ مجاهدینو دلړم په (٥) نیټه ددښمن پر پوستو درانده اوبریالی عملیات وکړل ، دمجاهدینو پروګرام داسی ؤ چی پر پوستو به دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ مجاهدین برید کوی اوله فتحی وروسته به مخ په وړاندی ځی ، البته دفتحه شویو پوستو ساتنه دمولوی منصور صاحب مجاهدینو په غاړه اخیستی وه خو کله چی نوموړی پوستی فتحه شوی او مجاهدینو مخ په وړاندی حرکت وکړ دهغوی په شا کی نه دپوستو دساتنی اونه هم کوم دفاعی قوت ځای په ځای شوی و څکه خو مجاهدین بیرته په شا شول .

دعقرب په (۹) نیټه له غرمی وروسته دمجاهدینو دتعرض پروګرام ؤ په یوه بجه ددښمن یو محاربوی ماشین چی کڼ پوځیان پکی سپاره و دمجاهدینو دانداخت له امله ویجاړاووسوځید

په دری بجو اوپنځلس دقیقو دشیخانو او چکن په سیمه کی ددښمن پر پوستو دمجاهدینو تعرض پیل شو ، خوله لومړنی پوستی څخه چی دسپینی خیمی پوستی په نوم یادیده ، ددښمن مقاومت نه لیدل کیده ، دپنځلسو دقیقو جګړی په اوږدو کی ددښمن پوسته فتحه او څلور تنه عسکر مجاهدینو ژوندی ونیول ، اوګڼ شمیرنوریی دتیښتی پر وخت دمجاهدینو دډزو له امله مړه او ټپیان شول – مجاهدین په چټکتیا سره دپرمختګ په حال کی وو، حقانی صاحب توپچی ته قومانده وکړه چی په (داګ) کی ددښمن ټانکونه تر اور لاندی ونیسی ترڅو مجاهدین دپرمختګ په وخت کی تر حملی لاندی ونشی نیولی .

حقانی صاحب دمجاهدینو دتوپچی دانداخت څارنه کوله او له هرانداخت سره یی دتوپچی بیلابیلو قوتونوته دمسافی دتعین اندازه ښودله .

پدی وخت کی قوماندان حاجی ګلاب کوچی په لنډو ټکو کی حقانی صاحب ته وویل : کراره کراری ده ، خیرخیرت دی ، لومړی پوسته مو ونیوله ، مجاهدین ټول دخدای په فضل روغ جوړ دی .

حاجی ګلاب وویل مجاهدین ددوهمی پوستی په لور روان دی ، خو حقانی صاحب ورته داحتیاط توصیه وکړه ویی ویل: احتیاط اوحوصله کوی چی ددښمن له خوا غورځول شوی ماینونه مو ژوبل نکړی .

په مخابرو کی دمجاهدینو دفاتحانه اوبریالی حملی په رابطه دخوښی او مبارکی دشوراوزور یوه عجیبه شان هنګامه جوړه وه .

ددښمن مخابره چی دمجاهدینو له خوا په مسلسله توګه تعقیب کیدله یویل ته به کنځلو مصروفه وه .

ددښمن قوماندان خپلوافرادو ته ویل : څه بلا دربانډی پریوتله چی پوسته مو ورته خوشی کړه ، په ځواب کی ورته وویل شول څه مو کړی وای ډیر ستر هجوم یی راوړی و ، له هوایی کومك پرته مقاومت امکان نلری ...

حقانی صاحب قوماندان ګلاب ته یو ځل بیا داحتیاط اوحوصلی هدایت وکړ، ویی ویل : تر هغی چی زموږ توپچی ددښمن ټانکونه تر اور لاندی نه وی نیولی تاسی نور پرمختګ مه کوی .

په څلوربجو بالاحصار دمجاهدینو دتوپچی ترانداخت لاندی ونیول شو .

ددښمن دتوپچی وضعیت داسی معلومیده لکه چی له فعالیته لویدلی او هدف په تعین کی پاتی راغلی وی ، دکوزو شیخانو پوستی هم تر مسلسل انداخت لاندی نیول شوی وی داسی معلومیدی لکه چی ډیر سخت اور پری بل وی .

حقانی صاحب قوماندان ګلاب ته وویل : ژوندی نیول شوی پوځیان ښه وساتی چی درنه ضایع نشی

دمازدیګر په څلورو بجو دحاجی خلیل زغروالو ځواکونو ددښمن ټانکونه تر سخت انداخت لاندی ونیول او هدف یی ډیر رسا تر اور لاندی نیولی ؤ.

ددښمن مخابری لا هماغسی په خپل منځی کنځلو لګیا وی ، یوه پکی وویل : غږدی نور وانه وړم داخل به اول ستاککری الوزوم .

ددښمن په مخابره کی په کندهاری لهجه یوه تن قوماندان ته ډیری ستغی سپوری وویلی او شکایت به یی کاوه چی دزخمیانو دپولولپاره نه ورته موټر راغلی نه هلیکوپټر، نه ورسره دخوراك څه شته او نه دڅښاك . پرله پسی یی چغی وهلی چی پنځه ویشت زخمیان او(۲۰) مړی ورته پراته دی ...

خو ددښمن دقوماندانی له مرکز څخه وویل شول :

نور دمخابری له لاری دزخمیانو او مړو شمیرمه ښیی .

ماښام نږدی مجاهدینو دنورو پوستو په لور پرمختګ پیل کړ.

پدی وخت کی ددښمن توپچی هم یویو انداخت کاوه .

له یو ساعت جګړی وروسته ددښمن نوی نوری پوستی هم فتحه شوی او دمجاهدینو دمبارکی سلسله شروع شوه

دعقرب په (۱۸) نیټه قهرمانو مجاهدینو دیوه

بريالی برید په جريان کی دبنوزیو او باداسیا تر منځ دمزلور رژیم دری ټانکونه دهغی له عملی سره له منځه یو وړل .

په همدغه ورځ دتیری په استقامت دمجاهدینو ددرنو وسلو دډزو له امله ددښمن دمهماتو یوی ډیپو اور واخیست چی دسختو چاودنو او اور لګیدنی له امله ګڼ پوځیان هم پکی وژل شوی دی.

دعقرب په (۱۹) نیټه دشهید سلمان شاه دزغروال غونډ مجاهدینو دیوه ناڅاپی برید په ترڅ کی له دښمن څخه یوفعال محاربوی ماشین نیولی دی .

دعقرب په (۲۱) نیټه یو ځل بیا دملین غرب اودغوګیری شرق طرف دتعرض په قصد ددښمن نقل او حرکت ولیدل شو چی پر سبایی مجاهدینو دمتقابله برید په نتیجه کی ددښمن دوه ټانکونه ویجاړ او ګڼ شمیر افراد یی ووژل شول .

دګردیز جګړه دنتایجو په تله کی

دخوست له فتحی وروسته پر ګردیز عملیات یو طبیعی پروسه ده، مجاهدین باید مخکی تللی وای اودپرمختګ نوی پړاوونه یی وهلی وای له همدی ځایه وه چی ګردیز دخوست له فتحی وروسته دمجاهدینو دلومړنی هدف په توګه پیژندل شوی ؤ .

دکابل رژیم هم دخوست له فتحی وروسته دګردیز ددفاعی کمربند دپراختیا مخې پیل کړی اودستی کنډو، زرمت ، سیدکرم اونورو استقامتونو کی یی دخپلو قطعاتو، پوستواو پوځی تاسیساتو دځای په ځای کولو او تقویه کولو ملی ځلی په لارواچولی .

مجاهدینو هم مخکی له دی چی رژیم په ستراتیژیکو او حساسو نقاطو کی خپل قوتونه ځای په ځای او تاسیسات په پښو ودروی مغو ځایونو ته خپل قوتونه سوق کړل اوترټولو وړومبی دشهید سلمان شاه دزغروال غنډ ځواکونو هلته خپله پایګاه فعاله اوسوقیات مکمل کړل .

پدی توګه په جنوبی استقامت کی دمجاهدینو یو ډیر فعال اودیوی بریالی جنګی ستراتیژی اوتاکتیك په قوت سمبال قوتونو په منظمو جنګی تشکیلاتو او کتلو کی ددښمن دپرمختګ اوفعالیت مخه ونیوله اوله بلی خوا یی دمجاهدینو دیوه ستراتیژیك او ځواکمن مرکز په فعالیتو سره جهادی قوتونه په منظمو او کتله یی لیکو کی دحملی لپاره اماده او چمتو کړل ، اوپدغه استقامت یی ددښمن ددفاعی کمربند دپراخیدو اودنویو پوستو اوقرارګاوو داحداث مخه له یوی مخی ونړله .

له همدی ځایه وه چی دخوست له فتحی وروسته له یوی خوادګردیز داکمالاتی چارو ترسره کول اوله بلی خوا دعملیاتو لپاره دوضع شوی متحدی ستراتیژی اوپلان دعملی کولو په رابطه هلو ځلو بالاخره جهادی قوتونه دی اماده کړل چی ددغسی یوه ګډ پروګرام او پلان دعملی کولو لپاره دتفاهم اومشترك تصمیم اوپریکړی له اړخه په اقدام لاس پوری کړی.

ددغه هلو ځلو په نتیجه کی دهراستقامت لپاره شوراګانی جوړی او هر استقامت معینو قوتونو ته وسپارل شوه

په ژوره کی دحضرت عمر فاروق(رض) غنډ کی ټولو جهادی تنظیمونو دیوی ګډی اومتحدانه ناستی او غونډی له لاری پر ګردیز دهر اړخیزی حملی دعملی کیدو فیصله وکړه فیصله داسی وشوه چی له هراستقامت څخه به په معین وخت کی تعرض پیل کیږی ، فتحه شوی سیمی به ټینګیږی اومجاهدین به مخ په وړاندی خپل حرکت ته دوام ورکوی .

دجګړی په لومړیو ورځو کی مجاهدینو له جنوبی او شرقی استامت څخه ښه ګړندی پرمختګ وکړ اوله نورو خواوو څخه هم لږ اوډیر عملیات وشول خو تر ټولو بریالی عملیات په جنوبی استقامت کی ترسره شول چی مجاهدینو وکولی شول په لږ وخت کی په ډیره چټکتیا سره ددښمن یو کلك کمربند مات اودخپل پرمختګ لپاره لار پرانیزی .

مجاهدینو دلومړی ورځی په عملیاتو کی ددری کلی په شاوخوا کی دوولس پوستی فتحه کړی او په دوهم برید کی یی دازغنی دپوستو اوقرارګاو په فتحه کولو سره بی له ځنډه دبنوزیو قرارګاه اوپنځلس نوری پوستی هم فتحه اودحلیم کلا په استقامت چی دګردیز ښار په دوه کیلومتری کی واقع وه دمنظمو کتلوی بریدونو له لاری خپل پرمختګ ته په بریالی توګه دوام ورکړ.

دحلیم کلا پوستو له فتحی وروسته مجاهدین دګردیز ښار پنځه سوه متری ته ورسیدل .

خو ځرنګه چی په نورو استقامتونو کی لازمه هم اهنګی نه وه موجوده او کومی شوراګانی چی دعملیاتو له پیل مخکی جوړی شوی وی هغوی دیوه قوی اواغیزمن رول په لوبولو کی له مشکلاتو سره مخامخ شوی اودشویو تعهداتوپه رابطه بی اعتنایی رامنځ ته شوی ځکه خو له لازم پرمختګ څخه بی برخی پاتی شول .

دشرق په استقامت دجګړی په لومړیو کی مجاهدینو ډیر ښه پرمختګ وکړ خو ځرنګه چی دفاعی سیستم اوخط یی جوړ او قوی نشوای کړای ځکه خو یی له فتحه شویو سیمو څخه بیرته عقب نشینی وکړه. دغرب په استقامت په لومړیو ورځو کی دمجاهدینو څه پرمختګونه په برخه شول خو هلته ددفاعی نظام بی نظمی اودخپلمنځی همکاری اومرستی دپروسی ضعف ددوی دزیات پرمختګ مخه ونیوله .

دجنوب په استقامت که څه هم دښمن ډیر پیاوړی دفاعی نظام جوړ کړی و اودنورو استقامتونو په پرتله یی هلته دوسلی اوافرادو له اړخه خپل زیات قوتونه متمرکز کړی وو ځکه دایوه پخوانی ترانزیتی لار وه اودښمن دخوست له فتحی مخکی هم دخوست دمحاصری ماتولو لپاره دالاره ډیره ټینګه ساتله دخوست له فتحی وروسته یی هم ډیر کوښښ وکړ چی ستی کنډو ونیسی خوپر ګردیز دمجاهدینو دتوپچی داندا‌خت مخه ونیسی اودا لار چی دمجاهدینو لپاره یواځنی اکمالاتی لاره ده وتړی – که داسی شوی وای مجاهدینو نشوای کولی دجنوب له استقامته پر ګردیز عملیات پیل کړی له همدی ځایه وه چی مجاهدینو مخکی لدی چی دښمن اقدام وکړی پدغه استقامت خپل سوقیات پیل اوبشپړ کړل – دعملیاتو په بهیر کی هم دمجاهدینو دپرله پسی اومنظمو تعرضونو اووضع شوی پلان او ستراتیژی له مخی ډیر زرددښمن دفاعی کمربند ونړید او غیر مترقبه په شاتګ ته اړ کړی شو .

له دی کبله چی پدغه استقامت دمجاهدینو تر منځ پوره هم اهنګی او نظم موجود ؤ او زیاتره هغه قوتونه هلته ځای په ځای شوی وو چی په خوست کی یی په تعرضونو او مدافعوی جګړو کی بشپړ مهارت او تجربه پیدا کړی وه .

دغه قوتونه په عسکری منظمو تشکیلاتو او لیکو کی منسجم شوی چی دتعرض ځانګړی

قوتونه، دحمايي اودفاع بيل اوهمدارنګه دتوپچي او ټانك ، لوژستيك ، مخابري ، دفتحه شويو ځايونو دټينګولو اوساتنې دغنميت دحفاظت اودى ورته نورو چارو لپاره يې ځانګړې تشکيلاتي اداني اوځانګې فعالې کړې دي .

اولکه مخکې مو چې وويل پدغه استقامت دښنوزيو قرار ګاه په فتحه کولو چې دجنوب په استقامت يې درژيم ددفاعي خط وروستى اوقوي پوله تشکيلوله ، دمجاهدينو په وړاندې ګرديز ته يوه چينلې دروازه پرانستل شوه اوله همدې لارې مجاهدين دښار پنځه سوه مترۍ ته ورسيدل ، خو ځرنګه چې له يوې خوا له نورو استقامتونو څخه ددفاعي کمربند دماتو لوڅه چې دلازم پرمختګ اوحملې اطمينان هم نه و موجود او همدارنګه دشپې په تياره کې په ښار ننوتلو لپاره دمجاهدينو دنوې اوضروري تنظيم لپاره وخت او زمينه نه وه مساعده ځکه خو مجاهدينو ته هدايت ورکړشو چې په ښار دننوتلو په ځاى خپل دفاعي خط جوړ کړي ترڅو له يوې خوا په ټولو استقامتونو کې دخط په يو کولو دراتلونکې تعرض لپاره ځانونه اماده کړي اوله بلې خوا ددښمن دمتقابله احتمالي تعرض مخه ونيسي له همدې ځايه وه چې پدغه استقامت ددښمن دلسو تعرضونو مخې شنډې اوله شرميدلې ماتې سره مخامخ شوې. داثابته خبره ده چې که له نورو استقامتونو څخه دمخکنې کړې پريکړې له مخې خپلو ژمنواو تعهداتو ته پاملرنه شوې اودهراړخيزو اودوامداره حملو له لارې ددښمن ددفاعي کمربند دماتولو مخې ګرندی شوې واى اوڅه داسې پرمختګ يې کړې واى چې دجنوب له استقامت څخه ښار ته دمجاهدينو له ننوتلو سره ددښمن دهر اړخيزتعرض اودمجاهدينو دمحاصرې دخطر په مخه کې يې لږ تر لږه خنډونه رامنځ ته کولى شواى دګرديز فتحه په هماغه وختونو کې محققه اوجوته خبره وه .

دجګړې داوږديدو په لاملونو کې تر ټولو دمخه دګډې پريکړې له مخې دشويو تعهداتو دتعميل په رابطه دجګړنيزه ځواکونوبې اعتنايي اواوږه خالي کول دي چې ترډيره دتنظيمي تفوق غوښتنې اولاسوهنو محصول ګڼلى شي اوهغې ته موږ مخکې هم څو څو ځله اشاره کړې. له جنوبي استقامت پرته چې هلته ټول جهادي قوتونه دپنځو غونډونو او ازادو جبهاتو په ګډون تريوه پلانيزه حرکت او ستراتيژۍ لاندې جنګيدل په نورو استقامتونو کې وضعه بل ډول وه ، هلته به چې دمجاهدينو ديوې ډلې په ابتکار دعملياتو پروګرام ترتيب شو که څه هم دنورو جهادي قوتونو تائيد او مرستې ژمنه به يې هم تر لاسه کړې وه خو دعمل په ډګر کې به يواځې پاتې کيده اولدې اړخه دتلفاتو اندېښنې دهغوى دپرمختګ مخه نيوله اودغه احساس يې قوي کاوه چې ځرنګه په سيمه کې په متحده توګه دعملياتو پريکړه شوې ځکه خو ديوه قوت اوږه خالي کول دهغه چا لپاره چې عمليات اجرا کوي دزياتو تلفاتو او تاوان په بيه تماميدلى شي له همدې ځايه هغو قوتونوچې غوښتل عمليات اجرا او ګرندي هم کړي ددې اندېښنې له وېرې څه ناڅه پښه نيوله او په سيمه کې پروت دبل قوت ونډې اووضعې ته يې کتل اوهمدا علت و چې که به عمليات موفقانه هم ترسره شول په شاکې دنورو قوتونو دهمکارۍ دنشتوالې له اړخه يې دفاعي قوت او خط نشوى پياوړى کولى - په سروړې او ځينو نورو پوستو دحضرت عمر فاروق(رض) دغونډ عمليات زموږ دپورتني خبرې ژوندى ثبوت ګڼلى شي .

له بلې خوا دکابل ګرديز لارې نه بنديدل هم دمجاهدينو دبشپړ برى دځنډ سبب وګرځيد .

لکه مخکې مو چې وويل : دجګړې په پيل کې دمجاهدينو دمشترکې شورا دپريکړې له مخې دمجاهدينو بيلابيلو قوتونو ته په بيلابيلو استقامتونو جګړه او عمليات سپارل شوي ؤ- دتيرې لارچې کومو مجاهدينو ته سپارل شوې وه هغوى دا ذمه اخيستې وه چې دلارې دبنديدو په رابطه په جدي اقدام کوي خو ځرنګه چې په هغه استقامت موجوده شوراګانو خپله هم اهنګي ونشواى ساتلې اوخپل قوتونه يې په کتلوى توګه استعمال نشواى کړاى همدارنګه يوداسې منظم او کوټلې قوت هلته فعال نشو چې وکولى شي ددښمن دزيات فشار سره سره مقاومت وکړي او فتحه شوې سيمې ټينګې اوخپل عمليات جاري وساتي .

که چيرې دکابل ګرديز لاره بنده شوې واى پرته لدې چې ګرديز ته ددښمن دتازه دمو قواوو درسيدلو مخه نيول کيده په ګرديز کې استوګن وګړي اوکډې هم دجګړې له وېرې دي ته اړ کيدلى چې پاکستان ته دخپل ليږد په رابطه اقدام وکړي خو دکابل لارې دبيرته والي په صورت کې کډې زياترو کابل ته وليږديدلې- دلارې دبنديد په صورت کې پاکستان ته دکډو له ليږد سره درژيم له اداړو سره همکار وګړي هم مجبور وو چې له رژيم سره خپل ارتباط قطع او پاکستان ته ولاړ شي لکه چې په خوست کې همداسې وشول اودايوه ډيره ستره ضربه وه چې لکه په خوست کې رژيم په ګرديز کې هم ورسره مخامخ کيداى شواى اولدې لارې ددښمن په دفاعي کمربند کې پخپله يو لوى درز رامنځته کيده .

که څه هم ځينې نور عوامل هم دجګړې داوږديدو باعث ګڼلى شي خو پورتني لاملونه يې ځکه په لومړي کتار کې شميرل کيږي چې هغې په مستقيمه توګه دجګړې په جريان اثر غورځولى دى .

زموږ باور دى چې که ددغو نيمګړتياوو دله منځه وړلو په جهت کې جدي قدم واخيستل شي دمجاهدينو دبشپړ اوغوڅ برى په مخه کې دځنډ اوځنډ ستونزې ډير زر له منځه تللى شي .

که څه هم په جنوبي استقامت دمنظمومواو کتله يې قوتونو فعال موجوديت اودزغروالو اوتوپچي پياوړو ځواکونو مؤثرفعاليت اوديوې بريمنې ستراتيژۍ له مخې دعملياتي پلانونو دتطبيق له مخې دګرديز دفتحې پروسه دخپل پرمختګ پراوونه طې کوي او داډاډ اوامید ژوندى او تاند ساتي چې دهمدغسې يوې قوي او پراخه جنګي ستراتيژۍ او پلان دتطبيق له امله به مجاهدين دبشپړ برى منزل ته قدم په قدم مخ په وړاندې ځي او ګرديز به دمجاهدينو په لاس فتحه کيږي .انشاء الله



حضور ذهن درنماز

چون شدی اماده غسل ووضو — از معاصی دست ودل اول بشو
دل تهی کن از همه کفر ودغل — پس بگوحی علی خیرالعمل
چشم بردار از تمام ممکنات — بعد از ان برگوکه قد قامة الصلوة
پشت سرانداز خاص وعام را — پس بگو تکبیرة الاحرام را
چون ستادی درحضور کردگار — باش قائم باسکون وباقرار
فهم کن تاباکه میگوئی سخن — باخدا یا با خیال خویشتن
درنمازی یاکه دعوا میکنی — یاجوال یا مال پیدا میکنی
در رکوعی یا به فکر نان وآب — یا معلق میزنی با صد شتاب
درسجودی یا مگر همچو کلاغ — میزنی باخاك منقار دماغ
شرم کن ازاین نماز ای بی ادب — های مکش بیهوده این رنج وتعب
این نماز ازبی نمازی بدتر است — مایه قهر خدای اکبر است
گرنماز خویش خواندی با حضور — هست مقبول خداوند غفور
بی حضور قلب اگر خواندی نماز — حق بود ازین نمازت بی نیاز
ذاکر غمدیده هر صبح ومسا — کسب این توفیق خواهد از خدا

شیطان دئ ترهیدلئ مسلمان په مخه کړئ
الحاد گوره علم ته چې افغان په مخه کړئ
تکبیر مې ورته زیرئ دمرگونونه شوځه شو؟
ستر روس تموته تموته شو اوتوپان په مخه کړئ

ازادی

ملا اسد الله حنیفی

ازادی تاته انتظار کړو ته به کله راځی ؟
سترگی به فرش درته په لار کړو ته به کله راځی ؟
دښتی اوغرونه موږه وینو ښایسته کړل درته
درته به جوړ دگلو هار کړو ته به کله راځی ؟
دشهیدانو پاکووینو سره لاله تهوکلی
درته لوگی به لاله زار کړو ته به کله راځی ؟
دقربانی په امتحان کی بریالی وختو
زړه اوځیگربه درنه ځارکړو ته به کله راځی ؟
ځومره ځوانان مو شهیدان شول ستاراتلو دپاره
دومره به نور درته تیار کړو ته به کله راځی ؟
دبورو کونډو وراروهیلی هم له تانه ځارشه
ستا استقبال ته بی قطار کړو ته به کله راځی ؟
وړی سلگی به دیتیم کړی په خندا بدلی
ځکه راتلو ته دی تلوار کړو ته به کله راځی ؟
موږ.ستری ستری قربانی ورکړی ستا دپاره
نوری به هم درته تکرار کړو ته به کله راځی ؟
تاته مودیری شبگیری دادیارلس کاله کړی
لابه ترځو لحظه شمار کړو ته به کله راځی ؟
دگران هیواد په دنگو غروباندی ډیوی کړه بلی
چی سور کمون پورته په دار کړو ته به کله راځی ؟
حنیفی تهول له تانه ځار له تانه تاوراتاو شه
درته لوگی بی هزار وار کړو ته به کله راځی؟

قطعی

لکه ځنگه ترمی تالسنکردابرهه کړ
په نرو نرو چکوکانودوړو مرغودلاسه
داسی ختم کړی ای خدایه دادروس ظالم قوت هم
دافغان په پاکه ځمکه دافغان بچو دلاسه

***

ضمیرفروشو نه پاك نشو داملت تراوسه
یولادخاورو لاندی نه وی چی شی بل پیدا
اوس په خاطر دمظلومانو افغانانو بچو
پدی ملت کی خدایه مه کړی بل کارمل پیدا

***

روس چی جوړشوی دچا طبیب دی
الله دی خیر کړی وخت یی قریب دی
دکابل تخت اوس تخته ددار ده
کارمل فنا شو واردنجیب دی

***

الله دی کړی مجاهدین کامیاب
دخپل وطن په سر زمین کامیاب
چی کړی په تیښته داروسی مجبور
چی ترینه نشی دالعین کامیاب

***

موږ ولیده دروس او دافغان مقابله
داده دیو کافر او مسلمان مقابله
داکفر که هرڅومره وی په زور او په طاقت کی
هیڅیری کوی نشی دایمان مقابله

***

هيرې مې نه وې له زړګي نه خاطرې دماتم
راباندې غبرګې شولې بيرته شوګيرې دماتم
دسره طاعون ناسور ټپونه مې لانه دي ټکور
بيامې په کور کې شولې بلې نن ډيوې دماتم
دګرديز پرمحاذ دوروستيو شهيدانو په اړه

مسلمانی که داند رمز دین را
نساید پیش غیرالله جبین را
اگر گردون به کام اونگردد
به کام خود بگرداند زمین را
(علامه اقبال)

* دپکتیا تاریخی معرکی :

په منځکي کي دتکبير «انګازی»

عوض الدین «صدیقي»

د۱۳۵٤ هـش کال دزمری میاشتی لومړی ورځی شپی وی دسیمی محلی حکومت چی کمونستانو (خلقیانو ، پرچمیانو) پکی نفوذ کړی وو پر خلکو خاصتاً علماُو باندی فشار زیات کړی و ، ورو ورو یی داسلامی فعالیتونو مخه نیوله ، وهل ؤ ، ټکول و اوپه زور جیل ته ننه ایستل ، بالاخره خلك له دی وضعی څخه په تنګ شول دسیمی دجیدو علماُوو تر څنګ ودریدل وسلی ته یی لاس کړ اودمنځکی په لور رهی شول ، په همدی ورځ دپروګرام سره سم دارګون حکمران اوملګری یی دنکی سیمی دلیدلو په خاطر چی کروندی یی ږلی وهلی وی راروان و ، داسلام دلاری سرتیری دمنځکی په سیمه کی پریوتل (منځکی دارګون اونکی تر منځ یوه غرنی سیمه ده چی دلمنځو اوځنغوزیو دنګو ، دنګو ونو یی سنکلا څوچنده کړی) دمجاهدینو شمیر ۲۵ تنو ته رسیده ، چره یز ، غوګور ، ملخی دروال اویو نیم اتومات ټوپك یی ددی اوږده سفر ملګری ؤ ، دمازدیګر په رارسیدو سره دالله اکبر نعری په پورته کولو پر دښمن دټوپکو له شپیلو دګولیو باران جوړ شو ، جګړی څو ساعته دوام وکړ حکمران ټپی شو خو تر موټر لاندی یی ځان پټ او ژوندی پاتی شو دڅارندوی قوماندان او ورسره ۹ تنه ملګری یی ووژل شول ، په سیمه کی یوه غوغا جوړه شوه ، دښمن ددی پاڅون دمحرکینو دنیولو لپاره هلی ځلی پیل کړی ، دټولو په سر کی یی ددی تحریك دمشر او اصلی څیری مولانا جلال الدین حقانی کور محاصره کړ حکومت دنکی په سیمه کی دپرتی قوا پرته دګردیز ، زیړوك اوارګون څخه قواراوغوښته اوپه دی سیمه کی یی ځای پر ځای کړه ، دسیمی ځینو مشرانووغوښتل مولوی جلال الدین حقانی حکومت ته په لاس ورکړی ځکه دوی داسی انګیرله که مولوی صاحب حکومت ته په لاس ورنشی دمنځکی پیښی مسوولین به موږ وبللی شو خو حاجی امان الله خان او ځینو نورو مشرانو ددی کار مخالفت وکړ اوله مولوی صاحب سره یی ترمشوری وروسته ژمنه وکړه چی که موږ ټول هم ووژل شو تابه حکومت ته په لاس نه ورکوو ، ښه به داوی چی پدی برخه کی دمولوی صاحب جلال الدین حقانی له خولی یوڅه واورو :

« ... حکومت چی زما کور محاصره کړځینو مشرانوغوښتل ما حکومت ته په لاس ورکړی خو

حاجي امان الله اوځينو نورو مشرانو ددې کار مخالفت وکړ امان الله خان دمشورې په ترځ کې ماته وويل :

«... ټول ورسره جنګيږو که زه ، ورونه او ټوله کورنۍ مې تباه هم شي خو چې تا ژوندى ونه نيسي ، ماهم ورته وويل : په هيڅ صورت ځان ژوندى په لاس نه ورکوم ، په سر کې مو پروګرام جوړ کړ چې جنګ ورسره کوو که موږ ووژل شواو که دوى خو دې کار يو څه مشکلات درلودل يوخو ځينې مشران له دې کار سره موافق نه و او بل موږ کافي اندازه مهمات نه درلودل بالاخره مو يو بل تدبيرغوره کړدقام سپين ږيرو حکومت ته وويل دکور زنانه وته اجازه ورکړې چې ووځي بيا به تاسو حقاني صاحب سره خبرې وکړې هغه به پخپله له تاسو سره لاړ شي ماهم له دې موقع استفاده وکړه قرانکريم او ټوپک مې راواخيست اودغوره کړاى شوى تدبير په ترځ کې دقرانکريم ددې ايت (ام ابرموا امرا فانا مبرمون) په لوستلو سره راووتم ...»

دحق دلارې داقافله له سيمې څخه دشمل اونکي تر منځ غره خواته وخوځيده اودګروپې په سيمه کمې پريوته ، په همدې دوران کې چې مولوي صاحب حقاني له کور څخه راووت اودغرونو خواته وخوځيد دنکي مدرسې ځنې طالبان دزيږوك په لاره کې په دې خاطر مورچې نيولې وې که چيرته له زيږوك څخه کومه قواُو دحقاني صاحب دنيولو په خاطر راووځي دهغې مخه ونيسي دوى هم کله چې مطمين شول چې مولوي صاحب له کور څخه تر راوتلو وروسته روغ رمټ دګروپې غره ته ورسيده دشمل اونکي تر منځ غره خواته وخوځيدل اودحقاني صاحب سره يو ځاى شول دټولو شمير ۳۰ تنوته رسيده ، په دوى کې دحقاني صاحب سربيره دهغه کشر ورور حاجي ابراهيم چې اوس دحضرت عمر فاروق (رض) دغونډ قوماندان دى هم شامل ؤ دوى يوه نيمه مياشت په دې غرونو کې تيره کړه ، وروسته بيا کله چې داسيمه افشا شوه حکومت دشمل نکي او ځدرانو دځينو نورو سيمو خلکو په مرسته (دسيمې خلك ظاهراًدحکومت تر څنګ درېدلي ؤ خو زړونه يې دمجاهدينو سره ؤ) څو ځلې پر دوى حملې وکړې خوپه دې کار کې بريالي نشول چې له دې سيمې څخه مجاهدين وباسي وروسته يې بيا لارې پرې بندې کړې ، دقومونو مشرانو چې اصلاً دمجاهدينو پلويان و حقاني صاحب سره تر مشورې وروسته اوازه خپره کړه چې مجاهدين دزرمت او کټواز په لورې لاړل حکومت چې هغې خواته مخه کړه دوى دپاکستان په لور هجرت وکړ په دې قافله کې له حقاني صاحب سره مطيع الله چې اصلي نوم يې ګلباز و اوپه نومووړو عملياتو کې يې هم برخه درلوده اومولوي صاحب منصور چې له زرمت نه راوتلى و يو ځاى شول ، داسلام دلارې دغوسرتيرو کله چې دهجرت ددیار په لور يون پيل کړ حکومت په سيمه کې دمولوي جلال الدين حقاني ځنې ملګرى (مولوي احمد ګل ، قاري صاحب شاه او مولوي محمود) يې ونيول او د زندان تورو کوټو ته يې واچول خودڅه وخت زندان تر تيرولو وروسته راخوشي شول په سيمه کې مولوي صاحب عزيز خان اومولوي احمد ګل حقاني صاحب سره تر مشور ى وروسته پاتې شول ترڅو په سيمه کې دجهادي جذبې ديون مخه ونه نيول شي ، دخلکودهڅولو پروسه جاري وساتل شي اودټوپك دشپيلې راوتلې ګولې انګازې په ټولو غرو رغو کې يو توپان راوالوزوي

ماخذونه :

۱- دالحاج مولوي جلال الدين حقاني شخصي يادداشتونه

حوادث داغ:

جهان در ماه میزان

جمیل الرحمن «سائل»

۱ میزان :
سفیر روسیه در تهران «ولادیمیرگادش » از اقای مرتضوی خواسته است تابه مسکورفته وبا رهبران روسیه در مورد مسایل مربوط به افغانستان صحبت نماید.

چنانچه وی دعوت نامه حکومت متبوع خویش را به مرتضوی داده است. یك هفته قبل ازاین تاریخ چنین تقاضای از طرف سفارت روسیه در اسلام اباد از رهبران مجاهدین مقیم پیشاور نیز شده بود.

۳ میزان :
خالقیار صدراعظم نام نهاد رژیم مزدور دریك مصاحبه مطبوعاتی خود درنیویارك گفته است که درصورت بمیان امدن صلح وامنیت در افغانستان میتوان در مورد بر کناری نجیب ازقدرت صحبت نمود.

۵ میزان :
بخش جوانان حزب کمونست روسیه «کمسمول » که در طول هفتاد سال حکومت بلشویکی نقش فعال وبارزی را درکشانیدن جوانان به کمونیزم بعهده داشت اکنون از میان برداشته شد.

ودرمسکو اعلان گردید بعد ازین مصارف دفتر مذکور در راه عمران روسیه به مصرف خواهد رسید.

٦ میزان :
مسول موزیم فنلیند گفته است: وقتی بالای لین فشار کار زیاد می شد ، به کشور فنلیند فرار می نمود ،اکنون که مردم روسیه نمیخواهند جسد کثیف لین در میدان سرخ باشد ، پس فنلیند حاضر ست تا جسد وی رابه کشور خود وارد نموده ودرموزیم بگذارد.

۷ میزان :
نجیب رئیس رژیم مزدور طی یك کنفرانس مطبوعاتی از مجاهدین افغان خواست تا در مناطق مربوط به خویش ذریعه انتخابات به تعیین نمایندگان شوراهای محلی بپردازند. وی گفت مجاهدین میتوانند در مناطق مربوط به حکومت نیز به انتخابات بپردازند چنانچه اواز مجاهدین خواست که به رژیم نیز چنین فرصتی رابدهند؟؟!

مجاهدین افغان همه طرح های شیطانی نجیب را مردود دانستند.

۸میزان :

هیئت مجاهدین بریاست محترم مجددی وارد نیویارك گردید تابا مقامات موسسه ملل متحد، وزیرخارجه روسیه وبعضی جناحهای دیگر ، درمورد قضیه افغانستان صحبت نماید.

سه تنظیم بزرگ مجاهدین حزب اسلامی افغانستان ، اتحاد اسلامی افغانستان وحزب اسلامی محترم مولوی خالص از شرکت درین هیئت ابا ورزیده اند. انها گفتند که ابتدا باید از طرف موسسه ملل متحد برسمیت شناخته شوند بعدا وارد مذاکره خواهند گردید.

۹میزان :

وزیر خارجه روسیه بوریس پنکن در ملاقات خویش با محترم مجددی که درنیویارك صورت گرفت برای حل قضیه افغانستان دوپیشنهاد را ارائه نمود.

۱- ذریعه یکی از رهبران مجاهدین افغان حکومت انتقالی تشکیل گردد که ریاست حکومت بدست مجاهدین وخالقیار صدراعظم ان حکومت باشد.

۲- ویا اینکه ظاهرخان پادشاه سابق رهبری حکومت موقت راتا اجرای انتخابات ازاد بعهده بگیرد.

۱۰ میزان :

محترم استاد سیاف ، محترم استاد ربانی ومحترم مولوی خالص طرح اخیر روسیه رایك توطئه علیه جهاد خوانده واظهار داشتند که روسها میخواهند ازین طریق رژیم کابل رابر ما تحمیل نمایند ، انها گفتند که اعضای رژیم کابل حق اشتراك در حکومت اینده راندارند. نماینده حزب اسلامی افغانستان نیز این طرح را رد نموده وانرا مداخله روسها درامور داخلی کشور خواند.

۱۳ میزان :

مجاهدین افغان موفق گردیدند که قرارگاه توپچی بنوزی را متصرف گردند ، این پیروزی بزرگ مجاهدین را در فتح کامل گردیز یاری خواهدنمود عملیات متحدانه مجاهدین برگردیز بتاریخ ۸ میزان شروع شده بود.

***

خالقیار صدراعظم نام نهاد رژیم مزدورگفته است که عنقریب مذاکراتی بین رژیم کابل بعضی از تنظیم های مجاهدین ، وظاهر خان در ژینوا صورت خواهد گرفت که شخص سرمنشی موسسه ملل متحد پریزدیکوئیار نیز دران حضور خواهد داشت .

۱٤ میزان :

اقای غلام اسحق خان رئیس دولت پاکستان برای بازدید چهار روزه وارد سعودی گردید این اولین سفر رئیس دولت پاکستان در طول سه سال اخیر به ان کشور می باشد ، وی با مقامات سعودی در باره مسائل منطقه وخصوصا مذاکرات تهران صحبت خواهد نمود.

۱۵ میزان :

اقای عبدالرحمن بسواس عضو حزب نشنل بنگله دیش بحیث رئیس دولت ان کشور تعین شد وی زمانی هم سخنگوی پارلمان کشور خود بود.

۱۷ میزان :

محترم مجددی در مصاحبه بارادیو صدای امریکا کفت که طرح اخیر روسیه وحل سیاسی رانوبونه فیصد مردم افغانستان قبول داشته وخواهان مذاکره با روسها اند. وکسانی که این مذاکره راقبول نه می نمایند انها اصلا حل سیاسی را نمی پذیرند واین موقف انها ما را ازرفتن به روسیه بازنمی دارد.

***

دراثر بمباردمان وحشیانه رژیم مزدور درحدود پنجاه تن از مجاهدین واهالی بی گناه درگردیز بشهادت رسیدند، فعلا جنگ بشدت جریان دارد.

۱۹ میزان :

محترم مجددی اظهار داشت که درحدود صد الی صدوپنجاه تن افغان درکشورسویس ویاجای دیگری دورهم گرد امده ودرباره یافتن راه حل برای قضیه افغانستان صحبت خواهند نمود.

۲۰ میزان :

محترم حکمتیار طی یك پیام گفته است که هر ان کسی که طرح اخیر روسیه راپذیرد انجامش مانند نجیب خواهد بود ، وی ابراز داشته است گرؤهای کوچکی که در جهاد نقش ندارند به چنین طرح های خیرمقدم می

گویند ، چنانچه وی افزوده است کسی که در افغانستان ۱۵۰ نفر مسلح نداشته باشد چطور میتواند در موردآینده افغانستان تصمیم بگیرد.

***

سفیر روسیه در کابل «بوریس پاستوخوف » دریك کنفرانس مطبوعاتی ابراز داشته که بخاطر حل قضیه افغانستان ضرورت سخت به تشکیل یك کنفرانس بین المللی شده است که در ان همه اطراف قضیه افغانستان اشتراك داشته باشند ، ومحتوای کنفرانس طریق انتقال قدرت باشد.

۲۱ میزان :

دستگاه جاسوسی ، کی ، جی ، بی ازمیان برده شد ، و روسای ده جمهوری روسیه با این اقدام موافقت نمودند ، ودرعوض ان سرویس خبری ازاد تاسیس گردید.

این مطلب را رئیس فعلی ان اداره «وادباکیتن» ابراز داشته است .

کی ، جی ، بی هفتاد سال بر مردم روسیه حکمروایی نمود.

۲۲ میزان :

اقای نواز شریف صدراعظم پاکستان با رهبران مجاهدین افغان در دفتر کار خود ملاقات نمود. این دومین دیدار وی با رهبران مجاهدین درطول یکماه اخیر می باشد ، انها درباره مسایل مهم جهادی با هم صحبت نمودند .

۲۳ میزان :

اسد اللـه سروری رئیس «اگسا» تره کی بعد از سپری نمودن شانزده ماه حبس دریکی اززندانهای دهلی ازاد شد حکومت هند وی رابه یکسال زندان وجریمه نقدی محکوم نموده بود ولی سروری به عوض پرداخت پول به حبس رضایت نشان داده بود.

۲۴ میزان :

ملك فهد پادشاه سعودی مبلغ هزار ملیون دالر رابه حکومت روسیه بطور مساعدت تقدیم نموده است چنانچه وی قبلا نیزاضافه ازین مقدار به ان کشور مساعدت نموده بود.

۲۶- میزان :

بعد از ۲۴ سال قطع علایق ومناسبات دیپلوماسی بین روسیه واسرائیل ، بوریس پینکن وزیر خارجه روسیه ودیویت لیوی صدراعظم حکومت غاصبه اسرائیل موافقتنامه ای رابه امضا رسانیدند که دران از سرگرفتن روابط بین هردو طرف ذکر شده بود.

مقامات اسرائیل اظهار داشته بودند که اگر روسیه روابط دیپلوماسی خود را بااسرائیل برقرار نسازد دران صورت درکنفرانس صلح خاورمیانه اشتراك ورزیده نمی تواند.

۲۸ میزان:

ودیر صافی وزیر هوایی ملکی رژیم کابل در یك مصاحبه بابی ، بی ، سی گفته است که اعضای بلند پایه رژیم ، به قاچاق طلا واشیای قیمی دست زده اند. وی گفت رشوت در کابل بحد اعلای خود رسیده است حتی هوتل انتر کانتی ننتال نیزازاین امر مثتثنی نیست.

خبرتیا

درنواوریدونکو:

دافغانستان دمجاهد غږ راډیو خپرونه هره ورځ دسهارله ۶.۳۰ بجوڅخه تر۸ بجو پوری اودماښام له ۶ بجو اوپنځلس دقیقو څخه تر ۸ بجو اوپنځلس دقیقو پوری دګردیز لپاره په منځنی څپه ۱۲۰۰ کیلو هرتز اوپه لنډه څپه ۳.۲ میګاهرتز چی له ۹۰ متربینډو سره سمون خوری خپریږی. تاسوکولی شی دجهاد دسنګر تازه خبرونه اودافغانستان دمسلی په اره په زره پوری تبصری ددی راډیو له لاری واوری .

په درنښت

روسی ته دمجاهدینو دهیئت دتګ په اړه دپکتیادجهادی سنګرونو د قوماندانانو ګډه اعلامیه

دافغانستان دمقدس جهاد سنګرونو یوشمیر نومیالیوقوماندانانو دعقرب په دوهمه نیټه دروانو سیاسی حالاتو په نظر کی نیولو سره دالحاج مولانا جلال الدین حقانی په مشری دپکتیا ولایت کی غونډه وکړه او لاندی پریکړی یی صادری کړی .

۱- ترڅو چی روسانو دافغانستان دملحد اولاس پوڅی رژیم سره د خپلو سیاسی ، نظامی او اقتصادی کومکونو نه لاس نه وی اخیستی او دافغانستان مجاهدین یی دملت واقعی نمایندګانوپه توګه نه وی منلی، دملحد رژیم دنمایندګانو او روسانو سره په هر ځای او هر وخت اودهر چا لخوا مذاکرات په کلکه ردوواودجهاد له سترارمان سره یی خیانت بولو .همدارنګه اوسنی هیئت چی مسکو ته ځی دافغانستان دملت نماینده هیئت ندی .

۲- ترڅو په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس چی دملت واقعی نمایندګان دی اسلامی حکومت نه وی قایم شوی جهاد فی سبیل الله ته به ادامه ورکوو ، اواوسنی برحق جهاد ته بی ځایه وینی تویول ویل داسلام دمقدس دین سپکاوی دی .

۳- دافغانستان دټولو جهادی قوتونو څخه په کلکه هیله کیږی ، چی دموجوده سیاسی وضعی په نظر کی نیولو سره دجهاد دنتایجو دتحقق په منظور دیوی انتقالی اسلامی دوری په جوړولو عملی او مخلصانه اقدام وکړی ، که نه دعواقبو شرعی مسوولیت به ددوی په غاړه وی .

والسلام

راغلي ليكونه

داخل دپاکستان له گوټ گوټ اوپه بهرنیو هیوادو کی میشته مهاجرینو زیات شمیر لیکونه رارسیدلی دی چی مور دځینو نومونه او ادرسونه اودځینومکمل لیکونه خپروو.

دصوابی گوهاتی برکی کمپ ځخه گل اغا دمانسهره ځخه اسدالله ځدران دصوابی دبرکی کمپ ځخه نقیب الله (همدرد) امان الله ،دوست محمد اوورکی نورعلی خان دکوهاټ ضلع کته کانی دکمپ ځخه عبدالحق (حق بیان) دصوابی برکی کمپ ځخه محمد رئیس خان دکوهاټ ضلع دوابی ځخه سجادمحمد ځاځی ددیر ضلع بدامت ځخه عبدالله خلیل دپیښور یونیورستی ځخه طالب العلم اختر جان (جهادیار) دلاهور نور شاه رود ځخه ببرك لودی ، دمیرامشاه ځخه طالب العلم صابر زمان له میرامشاه ځخه طالب العلم محمد عثمان عثمانی ، دمیرامشاه حربی پوهنتون محصل نیك محمد امین الحق ځاځی له دیره اسماعیل خان ځخه علاوالدین مسلم یار له باجوړ دکرحاله کمپ ځخه شیرشاه خاکسار دباجوړ ایجنسی ځخه محمد یوسف سنگریار ، دکورمی ایجنسی څپری ځخه ظابط محمد حکیم مسلمیار دکوهاټ ضلع دوابی ځخه طالب العلم محمد حکیم صدیقی دکوهاټ ضلع زیاب ځخه مجاهد محمد رضا خان مظلوم یار دصوابی ځخه طاهر خان له میرامشاه ځخه عطا الرحمن رحمانی دوی دفرهنگی تولنی کار کوونکو ته تر سلامونو وروسته په دی لار کی دلازیات بریالیتوب دعا کړی دمجلی مطالب یی ستایلی او ځنو ورونو دنشراتو دورلیږلو غوښتنه کړی موږ دی ورونو سره ژمنه کوو چی انشاالله ددوی په ادرسونو به خپل نشرات ورلیږو اودوی ورانديزونو ته سترگی په لار یوو.

همدارنگه له لندن ځخه س ، منگل ترسلامونو وروسته لیکی :

دمنبع الجهاد علمی او جهادی میاشتنی خپرونو مسولینو له پاك خدای ځخه مو دفرهنگی اونظامی سنگر له همکارانو سره روغ اوبریالی غواړم.

ستاسو منبع الجهاد اوجهاد هنداری ماته په منظم ډول رارسیږی چی هروخت می مجاهدینو له کامیابی اودگران افغانستان دازادی په هکله په زړه پوری مضامینو باندی سترگی لگیږی ، چی په لوستلو یی زړونه خوشحاله اوسترگی روښانه کیږی ، نوله دی امله ویلی شم چی ستاسو قلمی سنگر نه یوازی دمجاهدینو دسوبو قهرمانیو او ویاړونو منعکسونکی دی بلکه په بین المللی ډول دپردیو ظلمونه اویرغلونه برملا کوی .

منگل صیب دخوست دفتحی بی ساری قربانیو په ویاړ یو توته شعر رالیږلی چی دمنبع الجهاد په ٤ گڼه کی خپور شو.

همدارنگه له غربی المان ځخه عبدالله ځاځی لیکی :

دمنبع الجهاد او دجهاد هنداری اونیزی چلونکو دمینی ډك سلامونه اواحترامات می ومنی .

دلوی خدای (ج) ځخه تاسو تولو ته پدی لاره کی بریالیتوبونه غواړم .

دمنبع الجاد اوجهادهنداری اونیزه چی دینی سیاسی تولنیزاوداسی نور مضامین لری چی په بریالیتوب سره خپریږی ، اوخپل هیواد پال

دمجاهدینو دبرلاسیو اوسیاسی تګ
لیاری ځخه باخبره ساتی .

په دی ترځ کی عزتمند او اتل قوماندانان الحاج مولوی جلال الدین حقانی ته دخوست دفتحی مبارکی وایم اودهغو شهیدانو مجاهدینو روح ته ددعا لاس جګوم کوم چی په خپلو وینو سره زموږ دویاړ ډک تاریخ یی یو ځل بیا په زرینو کرښو ولیکه ، دعزتمند اواتل قوماندان الحاج مولوی صاحب جلال الدین حقانی ددی وینا په اړوند چی په خوست کی دروغتونونو ، ښوونځیو اودکرهنی پرګرامونه په لاس کی ونیول شی اوپرمخ بوتلل شی ، دستاینی وړبولم .

که ځه هم لاس پوځی رژیم په خوست کی پر غیځ اخستلو بوخت دی ، او دټولنیزو چارو پر مخ بیولو کی خنډ ګرځی خوبیا هم دمجاهدینو په نیول شوو سیمو کی به بی ځایه نه وی .

څرنګه چی دافغانستان میړنیو مجاهدینو روسی لښکرو ته شرمیدونکی ماته ورپه برخه کړه نو اوس دروسی وګړی اونړیوال خپل دارله لاسه ورکړ اوپه وریته دناکامی کودتا په وړاندی ودریدل ، نن چی دبیلوبیلو روسی جمهوریتونو اونورو هیوادونو لکه پولینډ ، چکوسلواکیا ، هنګری ، بلغاریا ، ختیځ جرمنی خپله خپلواکی ترلاسه کړه و دوی باید چی زموږ دولس منت دار وی ځکه دازموږ باتورو او زړه ورو مجاهدین ووچی دی ولسونو ته یی دخپلواکی ورپرانیست خو اوس موچی کرغیرنو روسی کمونستانو ته مخ توری وړپه برخه کړباید چی په ډیر غوراوپام سره ګام پورته کړو ځکه چی دښمنان موګرد چاپیره په لستونی کی ناست دی اوپه دی لټه کی دی چی دروسانو پر ځای خدای (ج) مه کړه زموږ پر خاوره خوله ولګوی اوهغه کسان که ځه هم ځانونه افغانان بولی ، خو زموږ دسپیڅلی خاوری دټوټی ټوټی کولو ارمان به یی شنډ شی .

محترم ډاکتر یوسف له لندن ځخه لیکی :دمنبع الجهاد اوجهاد هنداری اونیزی چلونکو ته دمینی ډک سلامونه احترامات وړاندی کوم دلوی خدای (ج) ځخه تاسو ټولو ته په دی لار کی بریالیتوب غوارم پرته له دی چی ټولو افغانانو په وسله وال جهاد کی روسی کمونستی رژیم اوملحد رژیم خلقی اوپرچمی رژیمونوپرخلاف ستر بریالیتوبونه ترلاسه کړی اوولس دازادی اواسلام په خاطر دخپل سرونو ځخه تیرشو چی خپل ولس یی دروسانو ځخه پاك اوغابش ماتونکی ماتی ځواب ورکړه همدارنګه ډیر ژر خدای (ج) پاك ځخه امید لرو چی په افغانستان کی داسلام بیرغ ورپیږی ، تاسو ته هم دعقیدت پیرزوینی وړاندی کوم چی دمیړنیو افغانانو دوسله وال جهاد ترځنګ موخپله قلمی مبارزه اوجهاد پیاوړی کړ .

اوخپل مسلمان ملت لپاره مو په تشو لاسو هرارخیزه خپرونی وکړی اوخپله اسلامی وظیفه موسرته ورسوله ، ددغو خپرونو په وسیله مودخپل ملت سترګی روښانه کړی .

هغو ټولو ځوانانو چی په دواړو یعنی قلمی او وسله وال مجاهده کی برخه اخیستی دالله تعالی ځخه زیات بریالیتوبونه غوارم ، یو بل وړاندیز لرم خدای وکړی چی چاپ یی کړی .

هغه داچی دامکاناتو په صورت کی تاسی ځنی خپرونی چی ډیرځ مهمی وی اوپه جهاد پوری اړه لری یا دافغانستان دروان سیاسی حالت په برخه کی وی په انګلیسی ژبه وژباړی اودپورتنیو خپرونو ترځنګ یی باندنیو هیوادونو ته راولیږی ډیر به ښه وی.

ابدي ژوندي

شهید قوماندان علی گل

شهید علی گل دمحمدك زوی دپکتیا ولایت دکرگی کلی اوسیدونکی اوپه قوم ځدران ؤ ، دثورکودتا دبریالیتوب سره جوخت یی دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی و دپکتیا ولایت په اکثرو عملیاتو کی یی برخه اخیستی اوددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی. چی بالاخره په ۱۳۷۰ هـ ش کال دتلی په میاشت کی دگردیز په عملیاتو کی دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید قوماندان اصیل بادشاه

شهید اصیل بادشاه دعلی بادشاه زوی دپکتیا ولایت دخوست په ولسوالی کی زیریدلی اوپه قوم صبری ؤ.
په ۱۳٦۳ هـ ش کال کی دژوری دحضرت عمر فاروق په غونډ کی وسله وال جهاد پیل کړی اودپکتیا ولایت په ډیرو عملیاتو او فتوحاتو کی یی برخه لرله چی موږ یی دزرمت ولسوالی ، ارگون ولسوالی ، ، نادرشاه کوټ ، دومنده ، دره گی ولسوالی ، توره غاړه اودخوست تاریخی فتحی څخه یادونه کوو.
دغه زړور مجاهد دحضرت عمرفاروق (رض) دغند ددویم تولی قوماندان و ، دتوپچی اودرندو وسلو په استعمال کی یی پوره مهارت درلود.
بالاخره په ۱۳۷۰/۷/۱۷ نیټه دگردیز دابراهیم خیلو دزاړه پوستو باندی دحملی په وخت ددښمن داهوس توپ په مرمی ولگید اودشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید قوماندان فاروق

دحق دلاری اتلو او زړورو مجاهدینو په دله کی چی خپل عمر یی وسله وال جهاد دپاره وقف کړی ، یو هم قوماندان فاروق دخان آغا زوی دوردکو ولایت دبندچك اوسیدونکی ؤ.
نوموړی په وردکو کی دجهاد سربیره دپکتیا ولایت په ډیرو عملیاتو کی برخه اخیستی ، لکه دزرمت ولسوالی فتحه ، ارگون ، نادرشاه کوټ ، دومنده ، درگی ولسوالی ، توری غاړی اودخوست تاریخی فتحه ، همدا راز دخپلی زړورتیا له امله ورته دحضرت عمرفاروق (رض) دریم تولی قوماندانی ورسپارل شوی وه بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۷/۲۵ نیټه دگردیز دسروړی پوستو دفتحه کولو په عملیاتو کی ددښمن دابوس توپ په مرمی ولگید اودشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید پیرشریف الله

شهید شریف الله دملا حبیب الله زوی دپکتیا ولایت دخوست ولسوالی اوسیدونکی اوپه قوم پیر و.

نوموړی تکړه مجاهد ؤخپل زیات وخت په مقدس وسله وال جهاد کی تیر کړی ، په ۱۳۶۸/۲/۱۹ نیتهه دحضرت عمر فاروق (رض) په غونډ کی شامل شوی او دجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی.

بالاخره په ۱۳۷۰/۷/۲۵ نیتهه دزرمت ولسوالی دکنی په مرکز کی دددښمن دابوس توپ په مرمی ولگید او دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهید احمد جان

شهید احمد جان دخوازك زوی دوردگو ولایت دبندچك ولسوالی کی زیږیدلی اوپه قوم وردگ و.

نوموړی زیات وخت دجهاد په تودوسنگرونو کی تیر کړی ، په ۱۳۶۹/۲/۲۰ نیتهه دحضرت عمر فاروق (رض) په غونډ کی شامل شوی اودجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .

بالاخره په ۱۳۷۰/۴/۲۴ نیته دزرمت ولسوالی دکنی په مرکز کی ددښمن دبمبارد له امله دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهید ضابط محمد

شهید ضابط محمد دخاد گل زوی دبغلان ولایت دنهرین ولسوالی کی زیږیدلی اوپه قوم ځدران و.

نوموړی دځپل عمر زیات وخت دجهاد په تودو سنگرونو کی تیر کړی ، په ۱۳۶۸/۹/۲۵ نیتهه دحضرت عمرفاروق (رض) په غنډ کی شامل شوی اودجهاد په دوران کی یی زیات افتخارات گټلی .

بالاخره په ۱۳۷۰/۷/۲۶ نیته دزرمت ولسوالی په سروری په سیمه کی دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید محمد ظاهر

شهید محمد ظاهر خان دعبدالرشید زوی دوردگو ولایت دچك په ولسوالی کی زیږیدلی.

نوموړی خپل زیات وخت دجهاد په گرمو سنگرونو کی تیر کړی ، په ۱۳۶۹/۵/۱ نیټه دحضرت عمرفاروق (رض) په غونډ کی شامل شوی اودجهاد په دوران کی یی ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .

بالاخره په ۱۳۷۰/۷/۱۳ نیټه دزرمت ولسوالی دکنی په مرکز کی دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید سردار آغا

شهید سردار آغا دجان گل زوی دلوگر ولایت دبره کی برك ولسوالی کی زیږیدلی اوپه قوم علی گل خیل و.

نوموړی زوور مجاهد په ۱۳۶۹/۳/۱ نیټه دحضرت عمرفاروق (رض) په غونډ کی شامل شوی اوخپله ورسپارل شوی دنده یی په پوره ایمانداری سره سرته رسوله .

بالاخره په ۱۳۷۰/۷/۲۹ نیټه دخروار دپنج بای په سیمه کی ددښمن سره په یوه مخامخ نښته کی دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید سلطان بادشاه

شهید سلطان بادشاه دمیراکبر زوی دپکتیا ولایت دزور کوټ ولسوالی کی زیږیدلی اوپه قوم منگل ؤ.

نوموړی په افغانستان کی دثور کودتا دکیدو سره جوخت دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی اوپه توپ ویشتلو کی یی پوره مهارت درلود ، دغه مجاهد په ۱۳۶۹/۹/۲۸ نیټه دحضرت عمرفاروق (رض) په غونډ کی شامل شوی اوپه ډیره میړانه یی خپله ورسپارل شوی دنده سرته رسوله .

بالاخره په ۱۳۷۰/۷/۱۷ نیټه دزرمت ولسوالی دابراهیم خیلو دزاړه سیمه کی دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

بسم الله الرحمن الرحيم

نبوي ارشاد

كه چيري دځمكي اوآسمانونو ټول اوسيدونكي ديوه مؤمن په وينه تويولو کی شريك شي خداى (ج) به هغه ټول (په وژنه کی شريك كسان) په دوزخ کی پړمخه وغورځوي

ترمذي